# د افغانستان په باب څو نیوجوړه

پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ

د کابل په پوهنتون کې د معاصر
افغانستان د تاریخ پخوانی استاد .

Download from:aghalibrary.com

A. R. I. C.
290
RECEIVED DATE
5.06.90
FROM WUFA




دوفاد خپرونې په لړکې
۲۴-۲۵

# دافغانستان په باب څو ټینګې جوړې

PROPERTY OF ACKU 290

Download from:aghalibrary.com

پوهاند داکټر محمد حسن کاکړ

د کابل په پوهنتون کې د معاصر
افغانستان د تاریخ پښوانی استاد

پېښور
۱۹۸۸-۱۳۶۷

# د کتاب پېژندنه

نوم : د افغانستان په باب د ژنیو جوړ
لیکونکی : پوهاند دا کټر محمد حسن کاکړ
د چاپ شمېر : ۲۰۰۰
د چاپ کال او ځای : ۱۳۶۷ - ۱۹۸۸ پېښور
خپرونکی مؤسسه : د آزاد افغانستان د لیکوالو اتحادیه ( وفا )
د مؤسسې مشر : پروفیسر رسول امین
د خپرونې بوټه : حکیم تنهوال ، جګړن غ . دستګیر شکیب

Download from:aghalibrary.com

3

# اِهدا

دتولو هغو شهیدانو ارواح ته چې دیرغلګرو
روسانو پهندیې ددغه په حقه جاري جهاد
په بهیر کې دخپلواکۍ، وطن او سلوړي
ټوندې خاطر په نړۍ کې تر هرڅه زیات
وطن سته یعنې خپل ځانونه قربان کړي دي.

Download from:aghalibrary.com

# د موضوعاتو لست

د نورو غوره خبرې

الف

سریزه

## لومړی فصل،

## د خبرو اترو یووالس پراوونه

## ۱۹۸۲-۱۹۸۷


| | |
|---|---|
| مقدمه | ۱ |
| په افغانستان باندې د شوروي دیرغل په مقابل کې | ۳ |
| د امریکې د حکومت لومړنی درېځ | |
| په افغانستان باندې د شوروي دیرغل په مقابل کې | ٤ |
| د اسلامي هېوادونو درېځ | |
| د شوروي دیرغل په ضد د اروپا د ګډ بازار د هېوادونو | ۷ |
| درېځ | |
| د افغانستان د ځپلې د هوارولو په مقصد د سیاسي | ۹ |
| پرواک نظر | |


Download from:aghalibrary.com

| | |
|---|---|
| د ژنیو د خبرو تر پیل نه د مخه | ۱۰ |
| د یونو د استازی تاکنه | ۱۳ |
| د یونو د خاص استاځي په توګه د کورد وویز تاکنه | ۱۶ |
| د خبرو لومړی پړاو | ۱۶ |
| د خبرو دوهم پړاو | ۱۸ |
| د خبرو دریم پړاو | ۲۰ |
| سیمې ته په ۱۹۸۴ کې د کورد وویز سفر | ۲۲ |
| د خبرو څلورم پړاو | ۲۳ |
| د خبرو پنځم پړاو | ۲۴ |
| د خبرو شپږم پړاو | ۲۷ |
| د ملګرو ملتو د عمومي اسامبلې پریکړه لیک | ۲۸ |
| د امریکې له خوا د مشروط تضمین کوونکی رول منل | ۲۹ |
| د خبرو اووم پړاو | ۳۰ |
| نوې پېښې | ۳۱ |
| د خبرو اتم پړاو | ۳۳ |
| د خبرو نهم پړاو | ۳۴ |


Download from:aghalibrary.com

سیمې ته د کور دوویز سفر ۳۵
د خبرو لسم پراو ۳۷
د خبرو یوولسم پراو ۳۹
شوروي اتحاد په دوه لارې کې ۴۰
په واشنګټن کې د کور باچوف - ریګن جرګه ۴۴
ارمکاست په اسلام آباد او شپاږد نادزې په کابل کې ۴۵
سیمې ته د کور دوویز دوهستی سفر ۴۹


## دوهم فصل

## د خبرو اتر و دولسم پراو او فیصله


مقدمه ۵۶
د موقتي حکومت په باب متضاد درېځونه ۵۷
زین نورانی په امریکې کې ۵۹
ائتلافي حکومت او د شوروی نوی درېځ ۶۰
د امریکایی ارمنده همراغیز من رول ۶۲


Download from:aghalibrary.com

د ائتلافي حکومت په باب داخلي مشکلات ۶۳
د افغان له داعییې نه د امریکې د کانګرس کلک ملاتړ ۶۷
د څېړنیز وېروستنۍ خبرې ، دولسم پراو ۷۰
د موافقې په لور پرمختګ ۷۳
په واشنګټن کې د شلټن اوشیوارد نادزې کتنه ۷۷
د روسلو په مثبت متناظر اصل تېنګار ۷۹
د څېړنیز خبرې او د مجاهدینو اتحاد ۸۱
د شورویې حکومت نوی حیرانونکی درېځ ۸۳
کابل ته د شیوارد نادزې ناڅاپي تګ ۸۶
نجیب الله او ګورباچوف په تاشکند کې ۸۸
د روسلو په متناظر اصل د امریکې د حکومت تېنګار ۹۰
توافقات او د هغوی لاسلیک کېدنه ۹۲


## دریم فصل


مقدمه **د فیصلې تحلیل او حکومت بیارغونه** ۹۷

| | |
|---|---|
| د فیصلې په باب د دخیلو هیوادونو د لویانو نظرونه | ۹۸ |
| د فیصلې په باب د افغانانو تبصره | ۱۰۱ |
| د فیصلې په باب د اخباري مبصرینو تبصره | ۱۰۴ |
| د ژنیو توافقات او حقوقي او اخلاقي ارزښتونه | ۱۰۶ |
| د شورویو پوځ وتنه | ۱۱۰ |
| د وسلو متوازن اصل | ۱۱۶ |
| د ژنیو توافقات او سرحدي موضوع | ۱۲۲ |
| د ژنیو توافقات او د حکومت بیارغونه | ۱۲۹ |
| د موقتي حکومت په باب د کابل د حکومت دریځ | ۱۳۱ |
| د موقتي حکومت په باب د مجاهدینو د اتحاد دریځ | ۱۳۴ |
| موقتي حکومت او نور افغانان | ۱۳۹ |
| کور دوین او افغان ائتلافي حکومت | ۱۴۶ |
| شورویا او د افغان ائتلافي حکومت | ۱۴۸ |
| هندوستان د بېځایه مزاحم په توګه | ۱۴۹ |

امریکا اود افغانستان ائتلافي حکومتا ۱۵۱
بیا هم شوروي اعتماد او ائتلافي حکومت ۱۵۵
د پای خبري او سپارښتنې ۱۵۸

---

## ضمایم

د ژنیو دموافقه لیکونو پوره متن ۱۷۸
افغان مجاهدین ۲۰۸
محمدخان جونیجو د دموکراسۍ داعادي کوښې ۲۱۱
غورځنګ او افغانستان
لیکونکی ۲۲۰

# دنورو غوره خبري

در دل تاریخ ماثبت است تا فردای حشر
آنچه مردان مجاهد روز میدان کرده اند
آه کین آدمکشان ملحد حق ناشناس
آدمیت را بدست خویش ویران کرده اند
از دد و دامند وحشی تر بچشم حق نگر
آن تبهکاران که خود را نام انسان کرده اند

. . .

برهنه پای تهیدست را نگر که چسان
کند ستیز به آن قدرت گسسته لگام

خلیل الله خلیلی

د افغانانو جنګ د اسلام جنګ دی د کفر پر ضد ، د آزادۍ جنګ دی د غلامۍ پر ضد ، د ربنتیا جنګ دی د دروغو پر ضد ، د معنویت جنګ دی د مادیت پر ضد ، د انصاف او عدالت جنګ دی د ظلم او دهشت پر ضد .

بهاء الدین مجروح

---

چې پرې ستړګې خوږې پدلې هغه ټول له مینځه ټللي

چې پرې زړونه وو روښانه هغه ټول له ملکه ټللي

عبدالله غمخور

---

سقراط په ماګران دی ، افلاطون په ماګران دی ،
خو حقیقت لا هم دیر

لاتینی وېنا

که به نه ګورم پرې حق او حقیقت ته
ما په هسې بې نظره وستر ګو وهوند کړه

. . . . .

او هره شوندونه پورې کړه چې نه وي آزادي پکې
وهر که شاعري کړه چې مسلک وهسره نه وي

موسی شفیق

---

تندیه ما توم دې تیتومه خودې نه
په در د سنګدلانو سولومه خودې نه
په سرو وینو لیکلی نه شم د جبر قصیدې
قلمه پریکوم دې خرڅومه خودې نه

اقبال فنا

لکه څوك دبل په ساه نه ژوندی کیږي
راسي قام نه دی دبل په دم تازه

راحت زاخیلی

---

قطبي خرس چې د عقاب په ځاله بلوسي
ګومان مه کوی چې ښه پرته به سریوسي

حبیب الله رفیع



# سریزه

د ژنیو توافقات له څو ارخه د دیپلوماسۍ په تاریخ کې ساری نه لري . یو داچې هغه په وقفو سره د شپږو کلونو له خبرو اترو وروسته لاسلیک شول . بل هیڅ توافق دغومره اوږده موده نه ده نیولې . بله داچې دغه توافقات که څه هم د افغانستان په باب دي ، د افغانانو نمایندګانو پکې ګډون نه لاره . هو ، د کابل رژیم نماینده ګانو پکې ګډون کړی و ، خو هغوی د افغانانو نمایندګان کیدلی نه شي . دلمریې شان څرګنده حقیقت دی چې دغه رژیم شوروي په خپل نظامي پوځ سره پښو درولی ، او افغانانو له هماغه پیل نه د سره رسله وال مخالفت کړی دی . مجاهد تنظیمونه هم په حقوقي او هم په عملي سیاسي لحاظ د افغانانو نمایندګان وو ، خو هغوی د شوروي په زور د ژنیو د خبرو جز و نه ګرځیدل . نتیجه داچې د توافقاتو تطبیق به ممکن نه وي .

بله دا چې په دغو توافقاتو کې د اوربند، یا متارکې په باب هیڅ یادونه
او ماده نشته. په دې حساب مغرته د سولې تړونونه په هیڅ وجه د ټیلفون د
جنګ جاري دی، او دوام به کوي، او ستروتژیک توپونه به کې په
هر یو به خپل خوا ته وسلې وړ برابروي. د توافقاتو بل خصوصیت په دې
کې دی چې هغه په داسې حال کې لاسلیک شوي دي، چې په ملک کې د
افغانانو د پاره د منلو وړ حکومت نه وموجود، چې هغه د جنګ د ختمې
سبب شي، او بهر ته د میلیونو تلې افغانان د هغه په راګرځیدو وهڅه
ستانه شي. د صحې پراخې او ښې شکل د نهوډاښتو پیښو
کې د شوروي د نظامي قواو وتل دي هغه هم کې پرته له دې او
شرط او بې له کوم د سیسې نه ووځي. د غربي دیپلوماټ په تخمین د
د شوروي پوځ له ټولو روسته به هم د دغه ملک (۵۰۰۰) عسکر
سرحدي محافظان، پولیس او ملکي ماموران د د مشاورینو په نامه
په افغانستان کې پاتې وي. (پاکستان ټایمز، د جون ۲۵، ۱۹۸۸) د دې
ټولو معنی دا ده چې شوروي به په افغانستان کې د ژغورنې په توافقاتو
سره بس خپل خرګند پوځي شته والي ته خاتمه ورکړي وي، خو په
نور و ټولو ارخیونو کې به په هغه افغانستان باندې چې د خلق د موکراټیک
ګوند په یوه اوبل دول پرې حکومت کوي، قابض وي. د شوروي د
قبضه به له هغه د غو توافقاتو له مخې حکمه پرې ټینګه وي چې خپل ځان
دا مریکې د حکومت نړ ځنګه د هغو تضمین کړونکی هم ګرځولی دی.

شوروي کډه هم د ژنیو په توافقاتو سره د افغانستان د « خپلواکۍ »
« مخکنۍ بشپړتیا »، او « نا پیلتوب » حالت منلی دی، خو څنګه چې
هغه په افغانستان باندې قابض وي، او څنګه چې شوروي د مختار حسن
په قول ( د مسلم مجله، جون ۲۴، ۱۹۸۸ ) هغه ملګرتیا تابع کوي چې تر ونې
وړسره لري، او دغه تر ونې نه تر هغه نه چې په ژنیو کې لاسلیک شوي دي
د پرمیمي دي. بنکاره ده چې د ژنیو توافقات د افغانستان د ریښتني او
بشپړې خپلواکۍ ضامن نشي کیدلی. شوروي په هغوسره په نظر کې لري
چې افغانستان په دایمي ډول تر خپلې اغیزې او لاس لاندې وساتي.

طبیعي ده چې دغه حال د ټولو هغو افغانانو د پاره چې د افغانستان
ریښتني او پوره خپلواکي غواړي، او تر اوسه یې د همدغه مقصد د پاره
بې ساري قربانۍ ورکړي، او شوروي یې دښمنه په خپل وطن کې په نظامي
ډګر کې ناکام اومات کړی - او دنیا والوته یې رسوا کړی دی، د منلو
وړ نه دی. د همدغو واقعیتونو له مخې وو، چې شوروي د ژنیو د
وروستني پړاو په بهیر کې څرګنده کړې وه، چې که د ژنیو توافقات
لاسلیک هم نه شي، حاضر دی خپلې لښکرې له افغانستان نه وباسي. د
مقاومت مجاهدو تنظیمونو د افغانانو په نمایندګۍ په حقه د ژنیو توافقات
رد کړل، او مشرانو یې څرګنده کړه چې تر هغو به د آزادۍ جګ ته دوام
ورکوي، تر څو په افغانستان کې د شوروي د استعماري نفوذ ټول آثار
له منځه ویوړل شي، او له دغه خطرنه افغانستان په آینده کې خوندی

وګرځول شی ، د دوی له نورو ویناوو نه څرګنده ده چې دوی تول په دې فکر هم دي چې شوروي باید په افغانستان باندې دخیل یرغل او واښیو جبران هم وکړي .

سره له دې چې افغانانو د ژنیو توافقات ردکړي ، غواړي د ژنیو د توافقاتو په څنګه والي خبر اوسي . دغه لیکنه د همدغه مقصد د پاره شوې ده ، خو له بده مرغه ممکنه نه ده تول هغه جریانات ، موثرات سنکاره اوپټې پېښې ، چې د ژنیو توافقاتو پې په دغه شکل ممکن ګرځولې دي ، لږ تر لږه دا وس د پاره ، هسې چې په واقع کې واقع شوي یعنې په افاقي دول ولیکل شي . د دغه مطلب د روښانه کولو د پاره دلایل لږ نه دي .

یو داچې د ژنیو د توافقاتو په باب موجود مواد ناقص دي - ذیدخلو خواو هغه څه څرګندکړي ، چې لازم پې بلل ، او یا د تېرنګو خبرلوڅو په تېرنګار د هغې په څرګندولو مجبور شوی وو . حکومتونه او د هغو نمایندګان د قاعدې له مخې حقایق نه څرګندوي - دیپلوماتیکې مذاکرو ، نهونې په عصرکې ببخې پټ شکل نیولی دی ؛ په دغه شکل سره د مذاکروکیدنه اوس دغسې دود ګرځیدلی ، چې عمومي ذهنیت ، حتی په آزادو ملکونوکې هم منلی دی ، که څه هم دمیلیونو انسانانو ژوند او ژوند موضوعات پکې مطرح وي - بله داچې هغسې آزادي چې د هغې په رڼا کې د ژنیو توافقات شرح شي ، هغه هم دمهاجر

او پردیسي او ځانګړي افغان دپاره میسره نه ده - هغسې خو د پښتو افاقي او بېطرفه شرح په اصل کې یو ناشونکی کار دی، او کله چې دغسې بندیزونه پرې اضافه شي، د هغو افاقي شرح لا هم مشکله ګرځي . د دې ټولو نتیجه دا شي چې حتی د جنګ او سولې یعني د ملتونو سیاسي مقدراتو په باب هم افاقي لیکنې ناممکنې شي، او د انسانانو، حکومتونو، او دلو سلوک او پېژندنه. چې باید د غسې لیکنو اصلي غایه وي، نیمګړې او حتی ناممکنه شي . په دغسې حال کې څرګنده ده چې د ورځې انسانان به د تېرو انسانانو ټولې ښېګڼې او بدۍ، ستونزو او واقعي حال نه ښه پوهېږي، او دملي تېروتنو د تکرار دپاره به لاره هواره وي .

د ژنیو د توافقاتو په هکله لیکنې به هغه وخت ژورې، دقیقې سمې او انتقادي وي چې د اړوندو حکومتونو ارشیفونه، د خبرو کو په مخ خلاص شي؛ د هغو په باب د ګډون کوونکو نماینده ګانو شخصي یادښتونه خپاره شي او موضوع د زغم وړ حده پورې سره شوې وي .

د غو بندیزونو او ستونزو ته ګوته نیول د دې معنی نه لري چې یو څېړونکی باید د مطلوب وخت تر رسېدلو پورې لاس تر زنې ناست وي - همدغه اوس هم د عمومي آزادۍ او د موکراسۍ له برکته د دلته پېښو مفاهماتي وسایلو خاوندان د هغو او حیاتي موضوعاتو په باب حقایق او اطلاعات خپروي . دوی د ژنیو د توافقاتو په باب

هغه څه چې څرګند شوی له خپلو نظرونو او تحلیلونو سره خپاره کړي دي . دوی په خپلو دغې لیکنو سره همدا اوس هم ممکنه ګڼي چې د هغو په باب خبرونکي او مؤرخان یوځای ولیکلی شي ـ البته لکه څنګه چې پاس وویل شوه ، دغسې لیکنې به پوره نه وي . خو هغه بې دلیلو او دوخت دلیکنو په شان د اهمیت وړ وي . دغسې لیکنې به یوه اضافي شیګمه هم ولري ـ او هغه دا چې څنګه چې لیکونکی پخپله د پېښو جزء وی، په هغو به د استشراق ( Intuition ) له برکته یوځای هم واچول شي .

د دغې لیکنې اصلي ستنې اخباري شعرې ، او اطلاعات دي. د پاکستان په انګریزي ژبو ورځپاڼو کې له مسلم ، پاکستان تایمز، او فرنټیر پوسټ نه استفاده شوې . په پېښورکې د امریکې سنټر آمر ښاغلی هوګلینډ ټولې هغه امریکایي اخباري لیکنې چې د ژنیو د توافقاتو په باب وې ، په مظم دول لیکونکی ته استولې دي . بریسره پردې دغه ښاغلي هغه تحقیقي راپورچې په اصل کې د ژنیو د خبرو د یووالسو پراووونو په باب د امریکې د کانګرس د پاره تهیه شوی و، هم لیکونکی ته تهیه کړې، په دغه وسیله له دغه ښاغلي نه ممنونه کیږي ـ خو لیکونکی لازمه نه ده بللې چې په متن کې منابعو ته ریفرنسونه ورکړي ، یوازې دځینو مبصرینو تبصروته ریفرنسونه ورکړل شوي دي .

دغه ټوله لیکنه په څه باندې دوو میاشتو کې دماچ له

وروستیو وړځونه دمې تر پایه پورې تکمیله شوې . د مسودې د
نقلولو په وخت کې دمبصرینو تازه مهم تکی یوځای بل ځای ، ځای شوی
دی . خه وخت چې لیکونکی دماړچ په پای کې دا روپا له سفرنه
پېښور ته ستون شو ، لومړی یې هغه کتنګونه ولوستل چې دوفا
په ارشیف کې برابرشوي وو ، او زړوی یې کاوون کاکړ د مسلم د
وړځپاڼې نه په کور کې تهیه کړې وو - دلته له هغه او دوفا د ارشیف
له متصدي ښاغلي شاه محمد اکبر نه یادوونه اومننه کیږي - دغه
یادونه هم لازمي ښکاري چې دوفا سرواال استاد رسول امین هم
دلیکونکي په خبرې په دې فکر وچې د ژرنیو د توافقاتو په باب باید ځې
یوه پېله لیکنه تهیه او خپره شي .

م . ح . ک

بر تهکال - پېښور

جون ۲۵ ، ۱۹۸۸

بسم الله الرحمن الرحيم

# لومړي فصل

# د خبرواترو يووالس پراوونه

## ۱۹۸۲ - ۱۹۸۷

## مقدمه

شوروي اتحاد د ۱۹۷۹ کال د دسمبر په ۲۷ مه په خپل پوځي يرغل سره د خپلواک، اوناپسيلي افغانستان خپلواکي نقض کړه، او دسيمې سوله يې د جدي خطر سره مخامخ کړه، او په دغه سيمه کې يې د بين المللي قوانو عنعنوي اندول ګډوډ کړ. د افغانستان حکومت يې د حفيظ الله امين په سروالي پيژندګند بې ساري شدت سره نسکور کړ او په ځای يې يو بل کمونستي حکومت د ببرک کارمل په سروالي په پښو ودراوه. د افغانستان خلکو زر د دغه پوځي تيري په مقابل کې پاڅيز

مقاومت شروع کړه، او د دنیا والو د ترقعاتو په خلاف یې دوام دار شدت
ورته ورکړ. د شوروي او دهغه د ملګرو هېوادونو نه پرته د نړۍ ټولو
هېوادونو په یوځواستثنی سره دغه تېری په کلکه وغانده، او اسلامي
هېوادونه په تېره بیا پاکستان له محض عندیې نه د غه ولاړل او نړیوالی
ټولنې یې وبلل، چې د دغه تجاوز د طرد د پاره مشخص اولازم اقدامات
وکړي. په دې دول د شوروي دغه تېری هم د اسلامي هېوادونو د سرانو
په جرګو، او هم د دغو هېوادونو د باندنیو چارو د وزیرانو په جرګې کې
پرله پسې دول طرح شو، او دهغه په باب پریکړې وشوې، او هر اړخیزه
دګډ بازار ټولنې دغه تېری په خپلو غونډو کې تر بحث لاندې ونیو، او د
حل لارې مسکوته وراندې کړه. دنا پیلو هېوادونو غوږ ځنګ هم
په خپلې هرې غونډې کې دغه پرځې تېری غاړه، او د باندنیو پوځ وتل
یې له افغانستان نه غوښتل، خو د ټولو دنیا والو د اړادې په پېروۍ د
ملګرو ملتو مؤسسې دغه تېری د پاکستان د اسلامي جمهوریت په
ابتکار د دغې کشالې حل یوه جدي موضوع وګرځوله، تر څو په پای کې
یې د سږ کال د اپریل په څوارلسمه په ژنیو کې د شپږو کالو د وقفې وروسته
خبرو اترونه وروسته د ملګرو ملتو د موسسې د خاص استاځي
دییګو کوردوویز په سرپرستی سره، د موضوع په باب د ټولو دخیلو
هېوادونو ترمینځ د ژنیو د توافقاتو په نامه یوه موافقه لاس لیک شوه
چې دهغه په موجب د نوموتکو تر څنګه، شوروي اتحاد څرمنه وکړه

چې خپلې قواوې به د نهو میاشتو په بهیر کې له افغانستان نه بې له کوم قید او شرط نه وباسي ، او افغانستان به د پخوا په شان سیمې خپلواك ، ناپیلی او بېطرفه هېواد وي . دغه لیکنه د دغو پېښو بیانوي .

## په افغانستان باندې د شوروي دیرغل په مقابل کې د امریکې د حکومت لومړنی دریځ

په افغانستان باندې د شوروي روسیې تیری ، چې د سنجول شوی پلان له مخې ، دهغه د نزدې څلورسوه کلنې پراختیا غوښتې هڅې وروستۍ هڅه ده ، نړۍ وال لنډ تر لنډه دیرغل په لومړي پراو کې په دې فکر کړل ، چې افغانستان به له دې وروسته د شرقي اروپا د هېوادونو په شان د شوروي د نظامي امپراتورۍ یو تابع هېواد وي . هېڅ ملک د افغانستان په باب له شوروي سره د نظامي مقابلې په فکر نه شو ؛ حتی هېڅ ملک ، له لفظي اعتراضونو نه پرته له شوروي روسیې سره خپلې اړیکې ونه شلولې ، یوازې امریکې د اعتراض په دول په شوروي باندې د غنمو د خرڅولو شوی قرارداد فسخ کړ ؛ هغه اولمپیک لوبغړو ته یې د ملګرو ملتونو په مسکو کې د اولمپیا له لوبو سره مقاطعه وکړه او له دې پرته یې هم نور ډېر وکړه چې خپل سیاسی

نمایندګان یې د مسکو په سره میدان کې په عنعنوي جشنونو
او نظامي پریډ کې د معمول په شان برخه واخلي .

## په افغانستان باندې د شوروي دیرغل په مقابل کې د اسلامي هېوادونو دریځ

سعودي عربستان هم په دې لحاظ چې په مسلمان افغانستان باندې تجاوز شوی - او هم ممکن له دې امله چې په دغه ملک کې د شوروي پوځ شته والی به یوه درځ منځنی ختیځ په تړه دهغه دتیلو منابع او په دې دول په خپله عربستان او د خلیج نورو مسلمانو هېوادونو د پاره جدي خطر ثابت شي . په افغانستان باندې یې دغه تېری جدي وبلو . دیرغل نه وروسته د ۱۹۸۰ کال په جنوري کې د - اسلامي هېوادونو د سرانو جرګه وبلله . جرګې په خپلې پریکړې کې دغه تېری وغاندله ، او وې غوښتل چې باندنی پوځ دې له افغانستان څخه ووځي ، او افغانان دې آزاد پرېښودل شي چې د باندنیو دلاس وهنې نه پرته په خپله خوښه د خپل د پاره سیاسي نظام وټاکي . د اسلامي هېوادونو د باندنیو چارو وزیرانو جرګې هم هر کال په همدغې روحیې سره پریکړه لیکونه صادرول . په کابل کې د شوروي تابع حکومت د معمول په خلاف نوښتونو د دغو جرګو غړی نه و ، او هم

دغو جرګو کې د اسلامي هېواد په توګه د افغانستان دغه هېواد استحقاق په اصطلاح په هوا کې خوړند پرې ښوول شو، له هغه وروسته هر وخت چې دغه جرګې دایر شوې، خپلې غوښتنې یې وار په وار تکرار کړې دي. د اسلامي هېوادونو د سرانو هغه وروستۍ جرګه چې څه موده مخ په کویت کې جوړه شوې وه، د لومړي خل د پاره د «باندنیو قواو» په ځای د «شوروي قواو» نوم یادګړې، او له افغانستان نه یې د هغو د وتلو غوښتنه وکړه. کله چې اسلامي هېوادونو کې د یوځای په اصطلاح راډیکالو هېوادونو، یا شوروي ته متمایلو هېوادونو لکه لیبیا، سوریې، عراق، دموکراتیک یمن په سبب نه وای، په دغو جرګو کې ممکن په افغانستان باندې د شوروي اتحاد تیری په ډیرو کلکو الفاظو غندل شوی، او حتی ممکن غربیې یې په ګډه په نورو مناسبو مشخصو اقداماتو تړلې پورې کړی وای. د افغانانو هیله داوه چې څنګه چې شوروی اتحاد د افغانستان په اسلامي هېواد څرګند وسله وال تیری کړی، او څنګه چې افغانستان د یوه اسلامي هېواد، او افغانان د مسلمانانو په حیث، د اسلامي نړۍ فعال غړي وو، باید اسلامي هېوادونو حکومتونو، د خپلو مسلمانو موکلینو د مسلمانه د جذبې او ارادې په تائید، ډېره څه کړی وای، او حتی له مسکو سره یې سیاسي اړیکې شلولی وای. سره له دې هم له افغانستان نه د شوروي پوځ د وتلو په باب د دوی پرله پسې کلکې غوښتنې په خپل ذات کې اغیزمنې ثابتې شوې؛ په شوروي باندې د غه غوښتنې په دې سختې

تمامې شوې، چې دهغوپه سبب يې په دغوملکونوکې پرېښتګ ونه شو کړلی، بلکه تر زیاته حده له هغونه تجریدشو. ترهغه زیات له مجاهدینو سره دیوشمیر اسلامي هېوادونو په خاص دول د سعودي عربستان او تر څه حده د کویت مالي پرېمانه مرستې وې، چې د افغانانو د جهاد غورځنګ يې پیاوړی کړ. د مصر حکومت د انورالسادات په مشرۍ د شوروي دیرغل په مقابل کې سخت چلند ونیو. په دې لړکې د عربي ملکونو د انفرادي شتمنو مالي مرستې او په خاص دول د هغوانفرادي رضاکارو فداکاري هرپوره دقدر وړ ده. له یوشمیر نورو غوهېوادونو، په تېره له عربستان، کویت، مصر نه د برشمیر رضاکارو په ډېرو ستونزو سره محض د اسلامي جذبې او قوت خاونه د افغانستان جنګي جبهوته ورسول، او هلته يې له افغاني مجاهدینو سره یوځای د روسيې ملحدو یرغلګرو په مقابل کې په دغه اسلامي جهاد کې عملاً برخه واخیسته، او یوشمیر يې شهیدان هم شول.

په افغانستان باندې د شوروي اتحاد وسله وال تېري د ناپیلو هېوادونو له خواهم تر بحث لاندې نیول شوی. خو څنګه چې یوځو دغو هېوادونو شمیر بېخي ډېر دی، او بله داچې په هغوکې د شوروي پلویان لږ نه دي - او په خلورو کالونوکې یوځل جرګه کوي، دغه ټولې جدي نه دي نیول شوی، کومه چې هم د دغه غورځنګ یو موسس غړی مظلوم واقع شوی و ، حتی د کابل حکومت، چې د شوروي پوځ په قوت، نه پخپله

د افغانانو په خوښه، په پښتو درول شوی دی، د دغه غوڅ جنګ له غږ سره سره نه هم نړۍ ایستل شوی. په دې ډول په یو له حیثیت او حتی مشروعیت وړ ته قایل شوی دی. نو له دغه غوڅ جنګ څخه نه کریملن واکمنان، ته د کابل رژیم چلوونکی په اندیښنه کې دی.

# د شوروي دیرغل په ضد د اروپا د ګډ بازار د هېوادونو درېځ

خو تر هغه ځایه چې د اروپا د ګډ بازار هېوادونو په افغانستان باندې د شوروي اتحاد تېری سخت غندلی دی. د ۱۹۸۱ کال د جنورۍ په پای کې د فرانسې جمهور رئیس ژیس کارد ستاینت د افغانستان د کشالې په باب په یوې تلویزونې وینا کې پېشنهاد وکړ چې باید دغه کشاله په دغسې یوې جرګې کې ترڅېړنې لاندې ونیول شي، چې د ملګرو ملتو د مؤسسې د امنیه شورا له دایمي غړیو (شوروي، امریکا، برتانیه، فرانسه او چین)، د افغانستان له ګاونديو هېوادونو، هندوستان او د کوم بل اسلامي هېواد نه جوړوي. امریکا د دغه پېشنهاد ملاتړ وکړ، پېشنهاد وړوسته په رسمي ډول د فرانسې له خوا شوروي ته وړاندې شو، خو شوروي ونه مانه. د برتانیې حکومت لا دغه ورته پېشنهاد کړی و، د همدغه کال د جون په میاشت کې یې له افغانستان باندې د شوروي

دتیری مسئله دارو پا دګډو بازار دلسو غړیو هیوادونو د باندنیو چارو وزیرانو له خوا دکشالې دحل دلارې دلټولو په مقصد تر بحث لاندې ونیوله شوه. جرګې دبڼاغلي پیښنهاد تائید کړ، چې دهغه له مخې باید د امنیت شورا یمیغړي، دافغانستان ګاونديو هیوادونه، دهند وستان په شمول سره جرګه شي، اوجرګه دې په دوو مرحلو کې وي. په لومړنۍ مرحله کې دې له افغانستان نه د بهرنیو لښکرو دوتلو دپاره لارې چارې ولټولې شي، اود جرګې ټول هیوادونه دې د افغانستان دنا پیلتوب، او بېطرفۍ د درېځ تضمین وکړي، دجرګې په دوهمه پراوکې دې د افغانستان دخلکو نمایندګان، اودکابل درژیم نماینده هم شامل وي، دګډو بازار دغړیو هیوادونو دسرانو په جرګې کې دغه پیښنهاد تصویب شو، اود برتانیې دبهرنیو چارو وزیر لارډ کرنکټن پې، چې په هغه وخت کې دوزیرانو دجرګې نوبتي مشر وو، په دې وګماره چې موضوع رسماً دکمیټ له لوړ پاڼوسره په مسکو کې طرح کړي. نومورې هم دغسې وکړل - ګورباچوف د شورويو دباندنیو چارو وزیر دغه پیښنهاد «غیر واقعبینانه»؛ وبالله خو سمدلاسه یې رد نه کړ. دغو پیښنهادونو سمله لاسه نتیجه ورنه کړه ځکه د نړۍ دغو هر هیوادونو په ګډه شورويو ته وښودله چې په افغانستان باندې دهغې تېری نه منې اودغې وضعې په وړاندې پېښوا و انکشافاتو باندې غټ تاثیر وکړ.

.....

# د افغانستان دکشالې دهوارولو په مقصد
# سباغلي پژواك نظر

په دې هکله د وطن نومیالي او پاخه دیپلومات عبدالرحمن پژواك
لیکنې ښې مهمې دي، چې له ۱۹۸۲ نه راهیسې یې په مجاهد ولس کې یو
وخت بل وخت کړې، او هغه توکې په ۱۳۶۶ کې د « نړیوالو مذاکراتو »
په نامه د افغان مجاهد اطلاعاتي مرکز له خوا راغونډې شوې، او خپرې
شوې دي، په دغو لیکنو کې د افغانستان کشالې په سیاسي، په ټبره
دیپلوماتیکي او بین المللي اړخونو باندې مهمې تحلیلي او انتقادي
لیکنې شوې دي. د افغانستان د کشالې د خبرو په ارتباط یې دوه پیش-
نهادونه دي چې په یوه کې یې ( مخ ۳۰ ) راغلي دي « کنفرانس خاص بین-
المللي تحت نظارت ملل متحد با اشتراك نماینده گان احزاب مجاهد و
مبارز از داخل و خارج کشور به شمول هم همسایگان افغانستان
همه اعضای دایمی شورای امنیت و یک شمار از ممالک عضو از تمام قاره
ها با توجه کامل به رول ممالک بیطرف و کشورهای اسلامي با استخدام
مساعي د یبر کل ملل متحد انعقاد یابد و با موافقت نماینده گان حقیقي مردم
افغانستان طرفی را جستجو کند که به تجاوز روسیه خاتمه داده به اعاده

واسترداد حقوق مردم وملت افغانستان ومصئونیت کامل افغانستان
منتج گردد وازجانب جامعه بشري وشورای امنیت ملل متحد تعیین
گردد .» دی وړاندیې لیکی « مراد ازتضمین حقوق مسلم افغانستان بحیث
یک کشور مستقل ، حاکمیت ملي ، تمامیت خاک وجلوګیری ازهرګونه
مداخله ازهرجانبی که باشد وبشمول توطئه ها و دسایس به منظور
نفوذ سیاسي خارجي واستعمال افغانستان بحیث یک پایګاه نظامي
میباشد . »

# دژنیو دخبرو ترپیل نه دمخه

په افغانستان باندې د شوروي دیرغلی نه وروسته د ۱۹۸۰ کال
په جنوري کې د شوروي دیرغل موضوع د ملګرو ملتو د موسسې دعمومي
اسامبلي په خاصې غونډې کې طرح شوه ؛ د مجلس بیخي دېروغړیو پخپلو
ویناوو سره دغه تجاوز وغانده او په غوڅ اکثریت سره یې پریکړه صادره
کړه چې باید باندنی قواوی له افغانستان څخه بې له کوم قید او شرط نه
ووځي او داسې نور ، خو د ملګرو ملتو په سر پرستۍ سره د افغانستان
دکشالې دهواړولو د پاره دژنیو خبرې دعمومي اسامبلي له دوهمې پریکړې
نه را ولاړې شوې ، چې دهماغه کال د نومبر په شلمه وشوه ، او په دغې
اسامبلي کې د پاکستان نماینده له تولو خواو نه وغوښتل چې کشاله

په سیاسي لحاظ ، یعني دخبرو له لارې هواره شي . په همدغې پریکړې کې له عمومي منشي نه په خاص دول وغوښتل شول ، چې د موضوع د حل د پاره خاص استاځي وټاکي ، او فیصله په دغو لاندې تکو بنا وي :

۱ - په سیاسي لحاظ خپلواک ، اوناپیلی افغانستان ؛

۲ - د باندنیو قواوو وتنه ؛

۳ - د افغانستان د پاره بې له بهرنۍ لاس وهنې یا تخریب نه د خپل سر = نوشت تاکنه ؛

٤ - د مهاجرینو د بېرته ستنیدو د پاره " په مصؤنیت او عزت " سره د شرایطو منځ ته راوستنه ؛

شوروي په اول سر کې ، د غه پریکړه او د روستنۍ ورته پریکړې په رسمي دول رد کړې ، او هغه یې د افغانستان په د ننه نیو چارو کې لاس وهنه ، او د کابل له رژیم سره یې په خپلو دوه اړخیزو اړیکو باندې تجاوز وګانه ، خو د روسته یې همکاري وکړه ، او حتی عمومي منشي یې و هڅوه چې د فیصلې په لورې کوښښونه وکړي .

پاکستان له عمومي منشي نه وغوښتل چې د ۱۹۸۰ کال د نومبر د پریکړې له مخې یو خاص استاځی وټاکي . د پاکستان ، ایران او افغانستان ترمینځ ډیر دریځي اړخیز و خبرو پیل کېدل غوره وبلل ، په داسې حال کې چې کابل رژیم نماینده په دغو خبرو کې بس د افغانستان د خلق د موکراتیک ګوند نماینده په حیث ګډون کوي ، نه د افغانستان د نماینده په

ترګه .

له بلې خوا دکابل رژیم پخوا له هغې چې شوروي د ملګرو ملتو په سرپرستۍ سره دافغانستان دکشالې په باب خبرو دپاره خپل نماینده ګان ټاکلې وو، په تېرو ګډو سره ویل چې حاضر دی دخپل مینځې موضوعاتو په باب هم د پاکستان او هم د ایران له ګاونډیو هېوادونو سره خبرې وکړي. د ۱۹۸۱ کال په جنورۍ کې یې د یوه لیک په تړلو کې پاکستان ته څرګنده کړه چې له دغه ملک سره دخبرو دکېدو په حال کې به سرحدی جنجالي موضوع هم هواره شي . دوارې لیکونه په دغې روحیې سره وو، چې افغانستان له ګاونډیو هېوادونو سره د سرحدي سیمو ادعا نه لري. دکابل دحکومت مطلب دا وو چې که دغه دوه هېوادونه له هغه سره خبرو ته حاضر شي ، یو له بل څخه د بې ځایه ګټو نیت به بې حاصله کړي وي . دکابل رژیم دموضوع بین المللي کېدو سره په کلکه مخالف و، غوښتل یې وازې له پاکستان او ایران سره په حکومتي سویه پرې وغږیږي ، خو هیڅ یو ملک له کابل سره خبرو ته حاضر نه شو ؛ دغو دوو هېوادونو د نږدې د غیر سوشلستي ګډو هېوادونو په شان د شوروي له تېري نه وروسته د کابل رژیم په رسمیت نه پېژانده ، که څه هم په کابل کې یې سفارتونه خلاص وو، او وارې مامورین یې پکې چارې بوخت وو . د ۱۹۸۰ کال په دسمبر کې ، یعنې هغه ته د بریژنیف د رسمي سفر په درشل کې د شوروي سفیر پاکستان ته څرګنده کړه چې کابل حاضر دی په خبرو پیل وکړي ، بې له

دې چې دهغه دپېژندنې موضوع کوم شرط وي . دیوه راپور له مخې د شورويي حکومت د ملګرو ملتو د موسسې سرمنشي کورت والدهایم له دخبرو د شروع په باب خپل ملاتړ څرګند کړ. څنګه چې د افغانستان دکشالې هوارول دعمومي اسامبلې د سپارښتنې له مخې د دغې موسسې یوه موضوع شوې وه ، له هغه روسته د دې دپاره لازه هواره شوه چې عمومي منشي د همدغه منظور د پاره یو نماینده وټاکي - نو نو دکابل رژیم دپاره ممکنه نه وه ، چې په خپل پخواني دریځ ټینګار وکړي مجبور و دمسکو په پلمه لاړشي .

# دیونو داستاځي ټاکنه

د ملګرو ملتو د مؤسسې یا یونو عمومي منشي کورت والدهایم د ۱۹۸۱ کال د فبروري په یوولسمه خپل رسټال جاوېر پیزدی کویلار دخپل « خاص استاځي » په توګه وټاکه . تر هغه د مخه والدهایم په نوي دهلي کې د ناپیلو هېواد و نو د مهرنیو چارو د وزیرانو په غونډه کې دکابل د رژیم ، او پاکستان د باندنیو وزیرانو سره د همدغې موضوع په سر خبرې کړې وې . سره له دې هم د خبرو اترو نزدې آینده روښانه نه بریښیده . پاکستان څرګنده کړه چې پریزدی کویلار دې د خبرو د طرز د خندونو لیرې کولو د پاره د اړوندو هېوادونو مرکزونو ته سفر

وکړي .

دې کوډلارد ۱۹۸۱ کال په اپریل او اګست کې دوه ځله اسلام-آباد او کابل ته لاړ . دکابل رژیم د دې کوډلارد په دوهم سفر کې چې تر هغه وروسته د افغانستان موضوع د هندغه کال په مني کې دیونو په عمومي اسامبلي کې نر بحث لاندې نیول کېده ، پاکستان ته څرګنده کړه چې نور نو په دوو اړخیزو خبرو باندې ټینګار نه کوي ، او په دې ترڅ کې یې وښودله چې حاضر دی دیونو پراخ رول ته غاړه کښېږدي . د باند نیو چارو وزیرې په نوي دهلي کې د هند صدر اعظم ته ښکاره کړه چې کابل د طرز العمل یا طرز کار په ټکو کې « نرم » شوی دی .

پریزدی کوډلارد د خپل سفر نه وروسته په نیویارک کې عمومي منشي ته دیوه رپورټ په ترڅ کې څرګنده کړه ، چې پاکستان او افغانستان په لاندې څلورو ټکیزې لجنه باندې سره جوړ راغلی دی .

۱- له افغانستان نه د شوروي قواوو وتنه ؛

۲- د پاکستان او افغانستان له خوا دیوه بل په د ننه نیو چارو کې د لاس نه وهنې ژمنې ؛

۳- د لاس نه وهنې په باب بین المللي تضمینونه ( ویل کېده چې شوروي اتحاد ، امریکا او چین به تضمین کوونکي هېوادونه وي ) .

٤- د مهاجرینو ستنیدنه .

دیونو په مقرکې په غیر مستقیم ډول خبرې هم وشوې ، خو

د ۱۹۸۱ کال د سپتمبر په ۲۸ په تېره ودریدې، بې له دې چې هیڅ
پرمختګ یې کړی وي - د کابل درژیم دبهرنیو چارو وزیر دانتقاد غږ جګ
کړ، چې امریکا له افغاني مجاهدینو سره د مرستې کولو سره ګواکې د افغا-
نستان په دننیو چارو کې ګوتې وهي د خپل حکومت دریځ یې سخت
کړ؛ خرګنده یې کړه چې افغانستان د دوه اړخیزو خبرو د پاره له
حکومت سره د حکومت په سویه یوازې نیغ په نیغه خبرو ته حاضر دی.
ترهغه دېره مهمه لاره دا وه چې د افغانستان اوشوروي دریځ یې
داسې وښودې چې له پاکستان سره توافق کې به داشامل وي چې « د شورو
قولو وتنې د پاره مهال ویش به د افغانستان اوشوروي ترمینځ په
موافقې سره تاکل کیږي. » برسېره پردې د کابل حکومت په دغه
مهال کې په دې تینګار کاوه چې د افغانستان په دننیو چارو کې ناڅرګنه
مداخله باید بیخي بنديې وي، او د نه مداخلې تضمین دې ورکړل
شي. د دغه حکومت فکر یوازې په دغه حال کې به کابل اومسکو په
خپلو کې د شوروي « د محدودو نظامي قولو » د وتلو به باب سره
موافقه وکړي. په مقابل کې د خپلو راپورونو له مخې پاکستان هم د
امریکې د حکومت په اشاره خپل دریځ سخت کړ، او کوښښ یې وکړ چې
ته ښکاره کړه چې پاکستان حاضر نه دی د کابل له هیئت سره حتی د
کابل د حاکم ګوند د نماینده په توګه هم نیغ په نیغه خبرې وکړي، اوس نو
د خبرو وړ ترلې ښکاره شو، او والدهایم هغه بې ګټې وبللې او قطع

کړې .

# دیونود خاص استاځي په توګه د کورډوویز ټاکنه

دیونود عمومي منشي په توګه د کورت والدهایم په څلورمه پریزدی کنوانسیون کې د ټاکنې نه وروسته وروستۍ ۱۹۸۲ کال په فبروري کې خپل مرستیال دیسیګو کورډوویز د افغانستان د کشالې د حل د پاره د خپل خاص استاځي په توګه وټاکه . د همدغه کال په اپریل کې کورډوویز کابل اسلام آباد او تهران ته لاړ . ده د خپل دغه سفر په بهیر کې موافقه ترلاسه کړه ، چې د افغانستان د کشالې به باب د ې خبرې پیل شي . د خبرو د ځای د سویس د ژنیو په ښار کې د ملګرو ملتونو دلیګ هستوګنځی وټاکل شو ، اوله د ې اړه دغه خبرې یا مذاکرې د ژنیو په خبرو یا مذاکرو یاد ې شوې . د ژنیو خبرې په دوولسو پراوو ، یا دورو کې سرته ورسیدلې ، او په هر پراو کې بې شماره غونډې وشوې ، تر څو د ۱۹۸۸ کال په اپریل کې د خبرو په دوولسم پراو کې فیصله اوجوړه وشوه .

## د خبرو لومړی پراو

په پای کې د ۱۹۸۲ کال د جون په

نیمایي کې د پاکستان او د کابل د رژیم د هرښو چارو د ږیرانو ترمینځ
دیوښو د خاص استاځي کورډوویز په وساطت سره د ژینوخبرې
پیل شوې. دایران حکومت په خبرو کې له برخې اخیستلو نه ډډه وکړه
خو دهغه په غوښتنه د پاکستان حکومت هغه ته دخبرو په باب معلومات
ورکول. خبرې مخامخ اونیغ په نیغه نه وې. غیر مستقیمې وې؛ —
کورډوویز به اول له یوه هیئت سره خبرې کولې، اوبل هیئت به د
ودانۍ په کومې لېرې برخې کې منتظرؤ. بیا به منتظر هیئت په داسې حال
کې چې بل هیئت به دخبرو له کوټې نه وته، راډنته کېده. په هرحال
دخبرو د دغه پرلړ او په باب زیات معلومات ترلاسه نه شته؛ دخبرو په
په پای کې کورډوویز، بې له دې چې زیات څه بې ویلی وي، دغوښتنې
وویل چې دواړو هیوادونو مهم امتیازات ورکړي، اودی په نظر
کې لري په راتلونکې مني کې د موافقه لیک له یوه پراخ چوکاټ سره افغا-
نستان، پاکستان او ایران ته سفر وکړي.

. دهمدغه کال په دسمبر کې بریژنیف وهڅه، او په ځای یې یوري
اندروپوف د شوروي اعلی واکمن شو. د مطبوعاتي خبرونو له مخې
اندروپوف جنرال محمد ضیاء الحق د پاکستان سره وال ته چې د بریژنیف
دخښتیدو په مراسمو کې د ګډون د پاره مسکو ته تللی ؤ، ویلي وو، چې
که پاکستان افغاني مجاهدینو باندې خپلې مرستې بنده کړي، شوروي
اتحاد به خپل پوځ له افغانستان څخه "زر" وباسي. خو وروسته د-

شوروي رسمي مطبوعاتو د جنرال ضیاء الحق له خوښ بینې نه وکړه دغه وینا په ضمني ډول رد کړه مګر په عین حال کې د کورډوویز له خولې وویل شول، چې د « دهلوماسۍ نوې فضا » تر نظره راځي .

کورډوویز د ۱۹۸۳ کال د جنورۍ ۲۱ او ۷ ترمینځ د تهران اسلام آباد او کابل ترمینځ سفرونه وکړل . ده د دغه سفر په بهیر کې د یوه موافقه لیک مسوده وړاندې کړه - په مارچ کې کورډوویز او عمومي منشي پریزدی کوی لار په مسکو کې له اندروپوف او د شوروي د - بهرنیو چارو له وزیر اندري ګرومیکو سره وکتل، او د ژینو د خبرو په باب یې د هغوی ملاتړ تر لاسه کړ .

# د خبرو دوهم پړاو

د خبرو دوهم پړاو په ژینو کې د ۱۹۸۳ کال د اپریل په اتمه پیل شو او د اپریل تر دوه ویشمې پورې دوام وکړ . د خبرو په پای کې وویل شول چې د دواړو ملکونو نمایندګان دې ته اړدي چې له خپلو حکومتونو سره د سلا مشورې له پاره خپلو هیلو د ونې ته ستانه شي - د خبرو په باب بیا هم مفصل معلومات ورنه کړل شول ، خو د کورډوویز او نورو له څرګندونو داسې ښکارېده چې دیوې جامعې فیصلې په مسودې کې د پرتګلي رونبانه شوی او منل شوی د خبرو تر بل پړاو پورې یو څو هیلې ښونکې پېښې څرګندې

شوي . دې په میاشتې کې په یونو کې د امریکې سفیر جین کرپاټرک له کورډوویز سره د لیدنې په ترڅ کې د هغه د ماموریت په باب د خپل دحکومت ملاتړ څرګند کړ. وروسته کورډوویز په یوې مطبوعاتي مرکه کې څرګنده کړه چې « د جامعې فیصلې د مسودې د متن په سلو کې ۹۵ برخې تیارې دي» او « د نورو عناصرو په جمله کې له افغانستان نه د شوروي قواوو د وتنه د متن یوه برخه جوړوي . » د کورډوویز په قول نورې هغه څېړې باید فیصله پرې باندې وشي هغه بندوبستونه دي چې د هغه له مخې د مهاجرینو د ستنیدو د خپلې خونې او رضا څنګه والی یقیني شي ، او د فیصلې تضمین کوونکي مشخص شي. کورډوویز وویل چې « ما ته په غیر رسمي دول څېړنې نښې نښانې په لاس راغلې چې شوروي اتحاد متحده ایالات اوچین به تیار وي چې کوم وخت چې دوی د غه متن وګوري د موافقلیک تضمین به وکړي . »

د کورډوویز د خوش بینو څرګندونو نه د هیلوا سره فضا پیدا شوه . د څېړنو راپورونو له مخې شوروي اتحاد هم د واړه کورډوویز اوهم د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر صاحبزاده یعقوب خان ته څرګنده کړه چې که پاکستان ژمنه وکړي چې افغان مجاهدینو باندې به وسله دروي ، هغه به خپلې قواوې مرحله په مرحله له افغانستان نه وباسي . څېړنو باخبره سرچینو هیله بنکاره کړه چې سوله نږدې شوې او د امریکې چلند غوڅوونکی اثر لري .

صاحبزاده یعقوب خان ښځوا له دې چې ژنیوته لاړشي، د یونو د امنیت د شورا له دایمي غړیو سره سلامشوره وکړه ؛ د اسلامي کنفرانس د مؤسسې له سرواله یعني عربستان سره هم جرګه شو. د ژنیو د درېم پراو د خبرو له پیل نه د مخه د پاکستان لوړ رتبه مامورین د دې فیصلې هیله من نه وو، چې دهغې له مخې به شوروي خپل پوځ له افغانستان څخه بهر وباسي. صاحبزاده یعقوب خان د جون د میاشتې په سرکې په مسکو کې خپلې خبرې له ګرومیکو سره "د بربې ګټوري" وبللې خو د چیرانوونکې پرمختګ امکان یې رد کړ، او د فیصلې لاریې یې کره وڅېړه او پېچلې نشخیص کړه.

## د خبرو درېم پراو

د خبرو اترو په درېم پراو کې چې ۱۹۸۳ د جون له سپارښتې نه پې د جون تر پینځه ویشتمې پورې دوام وکړ، دواړو خواوو خپل دیرځونه سخت وتیول. پاکستان چې ټل پې د جامعې جوړې په اهمیت باندې ټینګار کاوه، حاضر نه وُ د اسې فیصله ومني چې اروند تکي او مادې پرېږي ځای شوي نه وي، پاکستان غوښتل چې خبرې اتري د "لاس وهنې" له مادې نه پیل شي. پاکستان لادا تکی هم وړاندې کړې چې باید دغسې یو میکانیزم مینځ ته راشي چې په هغوسن په هغو الفاظو موافقه راغلې وي چې مهاجرین به د هغوله مخې خپل وطن ته ستنیږي. خو شوروي

په خپل نوبت د کابل رژیم د هیئت له لاري د ډیته تیار نه وو په هغه مهال ویش بحث وشي، چې د هغه له مخې د دوی پوځ له افغانستان څخه ووځي، په داسې حال کې چې دا د موافقه لیک د پرمهم تکی ګڼل کیده. د کابل د رژیم نماینده په دې تبښتګارکاوه چې پاکستان باید د "لاس نه وهنې" په باب کلکه ټینګار وکړي؛ د دې معنی دا وه چې باید د مقاومت په مجاهدینو باندې هر راز بهرنۍ مرستې بندې شي.

په دغو خبرو کې په څرګنده دول د پرېږمختګ ونه شو. دواړو خواو سره وعده چې د یونو مینځګړي ته اجازه ده د دغسې "لوړپوړو مشرو" ابتکار وکړي چې د هغه له مخې واشنګټن او مسکو د بټه وبولي چې که دواړه د اخري فیصلې په غاړه واخلي. د دغسې مفاهمې هر وشوه چې د یونو مینځګړي په کوم ترتیب سره له مهاجرینو سره د مشورې کولو بیه د قبول طرح جوړه کړي.

کرښه هم تر لوخوا و په ظاهر کې له فیصلې سره مینه ښوولې، د فیصلې آینده خړه پرېږده؛ پرېږدی کویلار د کومړ دوویني هغه تجویز شوی سفر قطع کړي، چې وروستی باید د هغه له مخې په سپتمبر کې سیمې ته کړی وای، خو افغانستان موضوع د ملګرو ملتو د مؤسسې بیوغټه موضوع وه. د همدغه کال په غونډو کې یې د معمول په توګه د پنځم ځل د پاره پرې بحث وکړ، دا ځل یې تر پخوا زیات په دې فرق سره (د شلو رایو په مقابل کې په ۱۱۶ رایو اولسو ممتنعو رایو) بیا خپل

پخوانی دریځ تائید کړ. د موضوع په سر په عمومي اسامبلۍ کې غیر رسمي بحثونه د پرسشول. د ۱۹۸۳ کال په نومبر کې یو ځل خرګنده کړه چې کورډوویز به بیا سیمې ته په دغسې وخت کې سفر کوي چې تولې خواووته د مسلو وړ وي.

# سیمې ته په ۱۹۸٤ کې د کورډوویز سفر

کورډوویز د دغه کال د اپریل په سر کې اسلام آباد، کابل، او تهران ته په سفرلاړ. مقصد یې داوُ چې خبرې له سره پیل کړي. خو دا وخت اندروپوف مړشوی او چرنینکو پې ځای ناولی، او د شوروی سیاست سخت شوی وُ. ځنګه چې وړوسته څرګنده شوه، کورډوویز په دغه سفر کې وکولی شول، د خبرو فورمات یا شکل واړوي - له دې وړوسته د ژنیو غیر مستقیمې یا په واسطه خبرې دا سې کېدلې چې د - پاکستان او کابل رژیم نماینده ګان به په دوو بېلو بېلو ګاونديو کوتو کې ناست وي، او کورډوویز به په واړه له هغوی سره بېل بېل ګوري. تر هغه لا مهمه دا شوه چې کورډوویز د خبرو اترو د پاره طرح واړوله، او هغې په څلورو «سندونو» یوه مجموعه وګرځوله سندونه دا شول:

۱ - «لاس نه وهنه»؛ ۲ - بین المللي تضمینونه؛ ۳ - د مهاجرو

ستنید نه او ٤ - « خپل مینځي اړیکي » . په دعوسند وینو کې د باندینو قواوو د وتنې په باب داسې څرګنده ماده یا تکی نه ؤ کوم چې په پخواني څلورفصله بیزې « جامعې فیصلې » مسودې کې ؤ .

په عین حال کې پخوا له دې چې په ژنیو کې خبرې له سره پیل شي ، د خبرو د فورمات په هکله هم کورډوویز یو مهم بدلون راوستا. د کورډوویز په فکر د دوه اړخیزې لاس نه وهنې په باب موافقه به د جامعې فیصلې په هکله د اعتماد فضا مینځ ته راوړي . د ده په فکر د غه فارمول یوه ضمني معنی دا کیده چې د بهرنیو قواوو وتنه به د پاکستان له هغې ژمنې څخه ببله شي ، چې په مجاهدینو باندې وسله و د روي . خو کورډوویز په دا ګډه چې د امریکې او شوروي تر مینځ د اړیکو خرابوالی د جامعې فیصلې د پاره خنډ دی .

# د خبرو څلورم پړاو

د خبرو د غه پړاو چې د ۱۹۸٤ کال د اګست په ۲٤ پیل شو او تر اګست ۳۰ پورې اوږد شو ، د اساسي تکو په باب د هیڅ راز پرمختګ سبب نه شو . په د غو خبرو کې د لومړي ځل د پاره د کابل د رژیم په خوا کې د شوروي مشاور نه ؤ . د غه حال خپله په د غه فکر کې چې ممکنه نه ده د کابل د هیئت له خوا کوم اساسي ګام پورته شي . په عین حال کې د غه خبرې



COOPERATIVE
ACKU
290

لږ وروسته له هغه وخت نه روانې وې ، چې د شوروي پوځ د پنجشېر په دره کې په زور وروعملیاتو پیل کړی و، او د پاکستان حکومت شکایتونه پورته کړی وو، چې افغاني جنګي الوتکې د کندوز پولو په اوږدو کې د پاکستان په فضا تیری کوي، او بمونه غورځوي . په دغو خبرو کې د یادونې وړ یوازې پرمختګ په هغې مادې باندې د دواړو خواوو له خوا هغه موافقه وه چې دهغې په موجب دې د دوه اړخیزې « لاس نه وهنې اونه مداخلې » ماده په تفصیل سره د خلورګونو سندونو په دله کې په یوه سند کې ځای شي . له خبرو وروسته د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر دوه ټکي بیا تکرار کړل - یو یې د شوروي قواوو د وتلو د پاره د مهال ویش ضرورت ښوول، او بل یې دیوښتر څارنې لاندې د دغسې میکانیزم یا ترتیب نیول وو چې په هغه سره ډاډ له دې چې جوړه وشي، له مهاجرینو سره سلا مشوره وشي - پاکستان او افغانستان دواړو برالا کړه چې دوی د خبرو له دریم پراو نه راضی دي، او په دې موافق دي چې هغه دې بیاوشي .

# د خبرو پنځم پراو

د خبرو دغه پراو د ۱۹۸۵ کال د جون په شلمه شروع شو، او د جون تر ۲۵ پورې یې دوام وکړ. وروسته له دې چې کورډوویز

سیمې ته سفر کړی و، پیل شوه، سیمې ته د کورډوویز د سفر به پایې کې چې د مې له ۲۵ نه د مې تر ۳۱ پورې اوږد شوی و، پاکستا او افغانستان دواړو موافقه کړې وه، چې فیصله دې په مشخص ډول دغه مواد ولري :

۱ ـ « د لاس نه وهنې، او نه مداخلې په هکله دوه اړخیزه موافقه؛ »

۲ ـ « د بین المللی تضمینونو په باب اعلامیه (یا اعلامیې) ؛ »

۳ ـ « د مهاجرینو د خپلې خوښې ستنیدو په باب دوه اړخیزه موافقه؛ »

٤ ـ « یوسند چې د پوهنتون یادښت سند وینو ترمینځ خپل مینځی اړیکې په ځای کړي، او دهغې موافقې په قرار چې د کابل او شوروي اتحاد ترمینځ دي لاسلیک شي، د بهرنیو قواوو د وتنې د موضوع حل . »

د خبرو په پایې کې د کورډوویز له یوې ویناته داسې نتیجه راوخیستله شوه « چې د هغه سند په تسوید کې چې د جامعې فیصلې د پاره بنسټ کښدلی شي؛ په دې شرط چې نور لا قوي عوامل یې خنډ نه شي، مهم پرمختګ شوی دی » . په هرحال د دې په قول خبرو هر کړل شوې چې کوم هغه تال اوږدکود چې له ۱۹۸۳ نه را پدیخوا مینځ ته راغلی وُ، له منځه تللی دی . وروسته عمومي منشي په یوه رپوټ کې څرګنده کړه چې « د لاس نه وهنې او نه مداخلې » بین المللي تضمینونو او د مهاجرینو د بېرته ستنیدو سند ونه په اصل کې حل شوي

د ده په قول یوازې د «د خپل مینځې اړیکو» سند باید حل شي، چې د هغه له مخې به د شوروي پوځ وتښت د پاکستان له هغې ژمنې سره ترلې وي چې افغاني مجاهدین به خپلې خاورې کې له فعالیت نه وا ړوي. د کومړ وویښ د غه وروستۍ خبره د هغه فکر مخالف وه چې د خبرو د دریم پړاو په نتیجه کې یې د غه دوه تکي سره بیل شوي وو. په هرحال په دغه پړاو کې په دغه وروستي ناتکمیل سند باندې بحث ونه شو. په دې باب اغیزمن خلک د کابل د حکومت هغه تېښتګار وچې د پرله پسې عملونو کولو د پاره یې کاوه، چې شروع یې باید له «لاس نه وهنې» او بین المللي تضمین څخه وي. د دغه نظر له مخې څه وخت چې د دغو تکو په باب عملي ګامونه واخیستل شول، د باندې نیو قواو وتښت به په یوه تاکلې وخت کې په خپله ممکنه شي. د پاکستان د حکومت دریځ د دغه نظر پر ضد و؛ پاکستان په دې ټینګ و، چې د فیصلې ټول اړخونه باید په عین وخت کې عملي شي او شوروي قواو دوتلو د پاره دې مهال ویش مشخص او تاکلی وي..

د دغو خبرو له ختم نه وروسته دننه په پاکستان کې په صاحبزاده محمد یعقوب خان باندې انتقادونه وشول. ده ښکاره کړې وه چې پاکستان به په کوم «مناسب وخت» کې له کابل سره د مخامخ خبرو کولو موضوع ترنظر لاندې ونیسي. ده په دې باب هم خپل تیارې ښودلې وې، چې که خو د شوروي قواو د وتلو په سر بحث ترتیاره نه وي، د فیصلې د نورو اړخونو په باب به بحث وشي. په دې باب

په یوې رسمي وینا کې څرګنده شوې ، چې د مخامخ خبرو موضوع « پخواله وخته » ده ، خو « په مناسب وخت او د مناسبو انګیرنو په رڼا کې مخامخ خبرې په نظر کې نیول کیدلی شي . » ، لکه چې څرګنده ده دغه دواړه وینا وې چندان سره ښایي نه وي ؛ هغود کابل رژیم ته د دې هیله ورکړه چې په راتلونکو خبرو کې په مخامخ خبرو اترو باندې زوره واچوي ، او حتی دغه موضوع د شورويي قواوو د وتلو په موضوع پورې وتړي ، تر څو د هغوې په نتیجه کې یې د ځان د پاره مشروعیت رڼګ حاصل کړې وي .

# د خبرو شپږم پړاو .

د خبرو دغه پړاو د ۱۹۸۵ کال د اګست له ۲۶ نه تر ۳۰ پورې اوږدشو. د کابل رژیم نماینده په مخامخ خبرو باندې د عمومي زیاته زوره واچوله ، چې تر اوسه یې نه وه اچولې . پاکستان وته منله . - خبرې اترې د معمول په شان د رضایت ښکاره کولو په اشنا الفاظو سره سر ته ورسیدلې ، خو اساسي مشکل په ځای پاتې و. کوم دوویز وویل چې د « لاس نه وهنې » سند « په واقع کې تکمیل شوې » ، او د د بین المللي تضمینونو په باب له امریکې او شورويي نه د قناعت ورکړ - ځوابونه ترلاسه کړي دي . ده دا هم وویل چې د مهاجرینو د بېرته

ځای په ځای کولو په باب د افغانستان او پاکستان ترمینځ به ممکن په راتلونکی دسمبر کې موافقه تکمیله شي . د عمومي منشي په قول دمخامخ خبرو دپاره د افغانستان تقاضا دې سبب شوه چې څلورم سند یعنې د خپل مینځې اړیکو سند باندې بحث وشي .

# د ملګرو ملتو د عمومي اسامبلې پریکړه لیک

د معمول په شان د ۱۹۸۵ کال دیرمې په عمومي اسامبلې کې د افغانستان موضوع بیا تر بحث لاندې ونیوله شوه ؛ د نومبر په ۱۳ د نوښتونو رایو ورکونې مقابل کې په ۱۲۲ رایو بیا فیصله صادره سوه ، او په هغې سره یو ځل بیا خپلې تاسیدکې په دغې پریکړې سره د پاکستان د حکومت د ریښ بیا قوت ومونده ، او پاکستان دیوه پریکړه لیک مسوده وړاندې کړه ، چې په هغې سره یې افغانستان نه د باندنیو قواوو تشه وغوښتله - د عمومي اسامبلې په بحثونو کې د ژنیو خبرې یا په په قوت سره کیدلې ، په داسې حال کې چې د شورویي بلاک هیوادونو د افغانستان د نمایندې په شمول ، د کشالې د حل دپاره د مخامخ خبرو غوښتنه کوله . د بحث په سر کې د نومبر په یوولسمه د پاکستان

نماینده یعقوب خان د غه دلیل وراندې کړې چې « په غیر مستقیمو خبرو سره د خلورو ګونډو سند ونو څخه د رې پې تکمیل شوې دي. . . . . او عقل دا نه منې چې تېښتګار وشي چې خلورم سند دې د فوړمات په تغییر سره ترمخ لاندې وښیول شي.» ده کابل په دې توګه کړې چې د غه غونډنه یې « سیاسي انګیزې لرې، چې مقصد یې د ژینو د پروسې له لارې پې له دې چې ( د پوځ ) وتلو انتقادي اړخ باندې خبرې شوې وې، د خان قبلول او مشروعیت دی. »

# د امریکې له خوا د مشروط تضمین کولو نکي رواړمنل

د امریکې د ۱۹۸۵ کال په نومبر کې په ریګ جاویک کې د ګورباچوف - ریګن له کتنې نه وروسته چې د افغانستان د کشالې په سر د مخالفو له چلند نه خالي و، د ژینو د خبرو په باب د څرګندې همکارۍ چلند غوره کړ. دیوې عمومي منشي ته یې دیوه لیک په ترڅ کې د - پرنسیپ له مخې خپل تیاری وښود چې غواړي تضمین کونکی اړخ په لیک کې ویل شوی وو چې « مونږ خپل تیاری د هغه سند د مسودې په باب ښودلی چې کورډوینز د خپلو خواوو او مونږ ته تسلیم کړی،

په دې شرط چې د شورويو پوځ د وتلو مرکزي تکی او له نورو سندونو سره د هغه خپل مینځي ارتباط حل شوی وي . ،،

# د خبرو اووم پړاو

د ژنیو د خبرو اووم پړاو د ۱۹۸۵ کال د دسمبر ۱۶ او ۱۹ ترمینځ اوږد شو. دیوې مینځګړي د هغه خبرې له خپل وخت نه یوه ورځ د هغه ختمې کړې . د کابل د رژیم نماینده بیا په مخامخ خبرو ټینګ ولاړ و - او هغه یې د خبرو د دوام په قیمت غوښته - د هغه حل د کابل د رژیم نماینده د شورويو پوځ د وتلو مهال ویش کوي دوهم ته وسپاره ، خو شرط یې دا وُ چې پاکستان باید له هغو سره مخامخ خبرو ته حاضر شي - پاکستان بیا هم ونه منله ، او دلیل یې دا وُ چې په مخامخ خبرو سره به په کابل کې د شورويو له خوا په پښو دریدلی رژیم په رسمیت پېژندل شوی وي .

د خبرو د مخکې د رخصتیدو سره سره یوځه پرمختګ محسوس شو - د لوړې حل د پاره د کابل د رژیم نماینده د بهرنۍ پوځ د وتنې د مهال ویش په باب بحث د پاره تیاری وښود ، کرځه هم هغه یې په یوه شرط پورې وتاړه - برسېره پردې د څلورم سند د څېنو نورو تکو په باب هم بحث وشو - البته کوم دوهم دا یو محرس

اوهیله من پرمختګ وباله چې امریکې د جامعې فیصلې د تضمین د پاره خپل تیاری وښود.

# نوې پېښې

د ۱۹۸۵ کال په مارچ کې د چرنینکو له مړینې وروسته د میخائیل ګورباچوف په سر والۍ کې د ۱۹۸۶ کال په فبروري کې په مسکو کې ۲۷ م ګوندي کانګرس جوړ شو. په دغه کانګرس کې ګورباچوف د خپلې وینا په ترڅ کې د کابل رژیم ملاتړ وکړ چې « د خپلې واکمنې مدافعه کوي »، خو په عین حال کې یې هیله څرګنده کړه چې « په ډیره نزدې آینده کې به شوروي قواوې چې په افغانستان کې دي، د هغه حکومت په ځوښتنه وایستلې شي. » ده زیاته کړه چې شوروي اتحاد « د افغان له خوا سره د هغو د مرحلې یېزې ایستنې په طرح باندې موافقه کړې ده په مجرد دې چې د غسې سیاسي فیصله وشي چې ( کومکوونکې ) حقیقي بسکوونه تحقق ومومي او په ( افغانستان کې ) د باندنۍ مداخلې د بیا نه شروع کېدو قابل اعتماد تضمینونه ترلاسه شي. »

په عین حال کې کورډوویز مسکو ته په مارچ کې له یوه سفر نه وروسته کابل او اسلام آباد ته په سفر لاړ. ده څرګنده کړه چې ده ته په کابل کې غږې سندونه ورکړل شوي چې په هغوکې د شوروي قواو د مهال ویش

ذکر شوی دی. که څه هم ده ترهغه وخته نه له کابل اونه له اسلام-
آباد نه دخپل دخبرو اترو دنوي فورمات په هکله خواب ترلاسه
کړی و، چې په هغه سره دخبرو موجود رکود له مینځه یوسي، ده
څرګنده کړه چې « دی اوس د افغان دکشالې دجامعې فیصلې تول
عناصر په لاس کې لري.» خو وروسته معلومه شوه چې کورد وویز د
پخوا په شان خوش بین دی، او دواړه خواوې له افغانستان نه د بهرنۍ
پوځ د ایستلو د مهال ویش په سر په میلو سره لېرې دي، خو فورمات
کشاله لږ تر لږه داوس د پاره هواره شوې ښکاریده، په دې چې د
کابل رژیم د موافقې تر لاس لیک کېدو پورې د مخامخ خبرو په
موضوع له خپل تینګار نه لاس اخیستی وُ.

په دې مینځ کې د ۱۹۸۶ کال د مې په څلورمه د ژینو د خبرو
دا ټم پراو په درشل کې نجیب الله د یرک کارمل په ځای د کابل د
رسمي ګوند عمومي منشي وګرځول شو- ترهغه ځایه چې دغه تغییر
د ژنیو په خبرو پورې اړه لرله، د هغه په باب له رنګ رنګ تبصرو له
جملې نه یوه دا شوه چې یو هدف یې په کابل کې د دغسې ترتیب
راوستل دي، چې د ژنیو په خبرو ښه اثر ولري، او هغه د پاکستان له پاره
د منلو وړ وي.

# د خبرواتم پراو

په ژنیو کې د خبرو دغه پراو چې د ۱۹۸۶ کال د مې په ۱۹ مه پیل شو، او د مې تر ۲۳ پورې اوږد شو، د دواړو خواوو ترمینځ یې څېنې اختلافات کم کړل، خو د پوځ دا ایستلو د مهال ویش په سر اختلاف د پخواپه شان غت او په ځای پاتې شو دا هغه وخت وُ چې په کابل کې په ځینو باځره حلقو کې ویل کېده چې ګورباچوف خپلو نظامیانو ته، د هغوی د استدلال په مقابل کې، یو کال مهلت ورکړی وُ، چې د افغان کشاله به له نظامي لارې څخه هواروي، او که دوی په هغه برياليي نه شول، بيا به د کشالې د هوارولو د پاره له سياسي لارو نه کار اخيستل کيږي. همدغه سبب وچې د خبرو د اتم پراو تر پيل نه روسي د افغانستان - پاکستان د سرحدي سيمو په اوږدو کې د مجاهدينو په مرکزونو باندې سخت هوايي عمليات کېدل اوحتی د دغه د پاکستان په سرحدي سيمو باندې هم بمونه غورځول کېدل. کله کله د دغو هوايي عملياتو په سبب د دواړو ملکونو الوتکو هم سره تصادم کاوه، لکه چې يوځل د يوې راپور له مخې د پاکستان دوه اف - ۱۶ طيارو د شوروي ساخته دوه - سو الوتکې نسکورې کړې هم وې. د دغه په افغانستان کې عمليات په خاص دول سخت شول - خو ژر تر ژره د روانې خبرې هغوړه د تقابل په فضا

کې نه وې، بلکه کابل لاد مخامخ خبرود کولو له موضوع نه هم تېر شو.

دخبرو په همدغه پراوکې ووچې د لومړي ځل له پاره د پېښور ټي ایریکو سند باندې بحث شروع شو. خو شوروي پوځ د وتلو د مهال ویش د کلیدي موضوع په سر اختلاف د پخوا په شان غټ او په ځای و. د مهال ویش په باب د کابل د رژیم نمایندو د پخوا په شان دغلو د یا د بې کلونو څخه کړېده، په داسې حال کې چې پاکستان په شپږو میاشتو، یا تر هغې په لنډې موده کې د پوځ وتل غوښتل.

# د خبرونو نم پراو

د خبرو دغه دور د ۱۹۸۶ کال د جولای په ۳۰ پیل شو، او یوه اونۍ اوږد شو. د هغو دوو موضوعاتو په باب چې د خبرو د واړه خواوې یې ښې لېرې ساتلې وې، هیڅ راز پرمختګ ممکن نه شو دلته به بیا یادونه وشي، چې یوه موضوع د شوروي پوځ د وتلو مهال ویش اوبله یې د فیصلې د تطبیق ځای نه وه - د پاکستان د باندنیو چارو وزیر یعقوب خان وویل چې د مهال ویش د موضوع په سر د واړه خواوې « ښې لېرې دي ». د یوې میاشتې کې د دوو ځله تر ډېرو معلومې موده پورې د خبرو د ځنډولو د اعلامولو په وخت کې څرګنده کړه

چې « پروسه د پرې نه پایته ژوندۍ ده او دوام به مومي . »

# سیمې ته د کورد وویز سفر

غټه خبره داده چې د افغانستان موضوع په بین المللي حلقو کې یوښ او دننه په افغانستان کې د مقاومت خواك ژوندۍ ساتلې ده ، سره له دې چې د ۱۹۸۶ کال په اوږدو کې دګورباچوف تر واکمن کېدو وروسته ، لکه څنګه چې د مخه یادونه وشوه ، شوروي قواوو د مقاومت د ځپل کېدو د پاره خپل عملیات بیخي شدیدکړي وو. د یوښ عمومي اسامبلي د نومبر په پنځمه د اووم ځل له پاره د افغانستان د کشالې د حل د پاره د شلو رایو په مقابل کې په ۱۲۲ رایو پریکړه لیک صادر کړ ؛ یوولس هېوادونو د هند په شمول له رایې ورکولو نه ډډه وکړه. د غه پریکړه لیک د کورد وویز د پاره یو بل خوځونکی قوت شو ، ځکه چې له افغانستان نه رایې د بهرنیو قواوو د وتلو غوښتنه کوله او دی د نومبر په ۱۶ ییا سیمې ته په سفر لاړ . په لاره کې یې په لندن کې سرچیفري هاوس د بهرنیو چارو وزیر چې په عین حال کې د اروپا د اقتصادي ټولنې رییس وؤ ، هم ولیده . له اسلام آباد او کابل نه بریښره داخل تهران ته هم لاړ . په عین حال کې د پاکستان بهرنۍ سکرتر عبدالستار مسکو ته لاړ او هلته یې د شوروي د باندنیو چارو د وزارت له لومړي

مرستیال ورانسوف، او خپله له شیورنادزې سره هم وکتل.
کورډوویز دخپل سفر په پای کې په خپلې خرګندونې سره یوځل بیا د
هیلو اسرو فضا ژوندۍ کړه - ده وویل چې دواړه خواوې دخبرو په
بیا پیل کیدو باندې راضي شوې دي . بله خرګندونه یې داوه چې -
« د فیصلې د اغیزمن اجرا په باب هرډول راغلې ده .» په مطبوعاتي
خبرونو کې خرګنده شوه چې د فیصلې په تطبیق کې به د اسې اقدامات
شامل وي چې په هغوسره به هم د شورويو پوځ وتنه ، او هم به پاکستان
کې میشته شویو مجاهدینو ته د وسلو بندونه تر خارنې لاندې نیول
کیږي ، او په دغه کار کې به « د ملګرو ملتونو مرسته دخیله » وي.
کورډوویز نیویارک ته په ستنیدو سره د دسمبر په ۹ وویل چې
« اوس دالوړې حل دی چې مهال ویش یوازې نه دې پاتې کشاله ده .»

په عین حال کې دخبرو د بل پړاو تر پیل نه د مخه د کابل رژیم په یو
لړ سیاسي ابتکاراتو لاس پورې کړ ، او فکر کیده چې هغه به د څرګندونې
خبرو پې اغیزې پاتې نه شي . د ۱۹۸۷ کال په جنورۍ کې یې د شپږو
میاشتو د پاره یوارخیز اورښت اعلام کړ ؛ د شورويو پوځ د تلو وعدې
یې تکرار کړه ، خو د تلو موده یې نامعلومه پرېښوده ، او په اصطلاح
« ملي رڼوغې جوړې » د حکومت د جوړېدو په لور یې یو لړ ګامونه
سازې کړې ، او حتی د مقاومت مجاهدینو یې په هغه کې د ګډون
د پاره وبلل . خو د روستیو پېښو ګډوه دغه بلنه په پېښورکې د مهاجرینو

په یوې ډېرې ګڼې غونډه کې ښځې ډډکړه ، او یو ځل بیا یې په کلکو الفاظو څرګنده کړه چې دوی به خپل جهاد ته تر هغو دوام ورکوي ، تر څو د شوروي پوځ له افغانستان څخه وایستل شي ، او په کابل کې د سوروي لاس لاندې حکومت نسکور شي ، او په ځای یې یو خپلواک اسلامي دولت جوړ شي .

# د خبرو لسم پړاو

د خبرو دغه پړاو په ژنیو کې د ۱۹۸۶ کال د فبروري په ۲۵ پیل شو ، او د مارچ تر ۹ پورې اوږد شو . تر خبرو دمخه د فبروري په سر کې یعقوب خان د خبرو د پاره دوه ځلې مسکو ته تللی و ، د مطبوعاتي څرګندونو له مخې شوروي لوبانو ورته ویلی وو ، چې دوی له خپلو بخوانیو ویناوو نه "اوښتي" دي چې د هغوله مخې په کوم ورځ ستیا ملي حکومت د کابل د رژیم رول « د خبرو وړ » دی . د پاکستان او امریکي مامورانو په دې ټینګار وکړ ، چې د اسې فیصله دوی ته د منلو وړ نه ده چې هغه د اسې سیاسي تر تیبات ونه لري چې هغه د افغان مجاهدینو په طبع او خوښه نه وي ، او مهاجرین د بېرته وهڅوي چې وطن ته ستانه شي .

د خبرو په شروع کې د افغانستان او پاکستان په سرحدي

سیمو کې هم د مجاهدینو فعالیتونه د پرمختګ وو، او هم هغوی په مرکزونو باندې د کابل رژیم له خوا بمبارۍ کیدلې. دغه د پاکستان په سرحدي سیمو باندې هم بمبارۍ ګاڼې روانې وې؛ په دې حال کې له څمکې نه هوا ته دستنګرو راکټونه هم د مجاهدینو له خوا په اغیزمن ډول سره استعمالیدل. دغه امریکایي راکټونه لا د غه مجاهدینو ته د ګرل شوي وو؛ خو اوس یې شمیر د پرمختګ وو؛ په هرحال د غه جنګي نسبتاً شدید حال د ژنیو د خبرو فضا خرابه کړې وه. یعقوب خان په رسمي اعتراضیې لیک کې کابل باندې تور و لګاوه چې غواړي «په عمدي ډول تاو تریخوالی شدید کړي او (د ژنیو) د خبرو هیلې له مینځه یوسي..»

د تاو تریخوالی او توروبنو سره د ژنیو په خبرو کې د شورې پوځ د وتلو د مهال په سر د پرکمښت و منل شو. د خبرو په بهیر کې د کابل د رژیم د باندینو چارو وزیر عبدالوکیل مهال ویش ۱۸ میاشتو ته راوست، په داسې حال کې چې پاکستان په ۷ میاشتو ټینګار کاوه. د مطبوعاتي رپوټرونو له مخې د لومړي ځل د پارې د شورې پوځ له وتلو نه وروسته په کابل کې د حکومت د ترکیب په مسئله هم بحث وشو. د خبرو په پای کې کوردووین رضایت ښکاره کړې چې په مهال ویشونو کې د وخت اختلاف تر یوه کال نه هم لږ شوی دی.

دځینو ړپوټونو له مخې کورډوویز هیله بنکاره کړه چې امریکا
اوشوروي به دخبرو دوقفې سره په اسقادې سره په خپلو کې سره
وګړیږي ، اود داخلي سیاسي حل امکانات به وڅېړي . یرشمېر مبصرین
په دې فکر کې شول چې پاکستان ، افغانستان ، شوروي اوامریکې ټولو
په مستقیم یاغیرمستقیم ډول له یوځواني پاچاظاهرخان سره په یوې فیصلې
کې د هغه د ښکېلتیا رول په باب له هغه سره په تماس شوي دي .

# دخبرو یوولسم پړاو

دغه خبرې د ۱۹۸۷ کال د سپتمبر په ۷ پیل شوې ، اوپه
لسمه پای ته ورسېدلې . دغه پړاوخبرو هیلې ښې ډېرې کړې وې . د
کابل اوشوروي حکومتونو په ناڅاپي او بې سابقې ډول دخبرو غوښتنه
کړې وه - عمومي هیله داوه چې مهال وېش به ترېوه کاله پورې کم
کړل شي ، خودکابل درژیم نماینده یوازې دوه میاشتې کمې راوست ،
اوله ۱۸ میاشتو نه ۱۶ میاشتو ته ښکته راغی ، په داسې حال کې چې پا-
کستان له اوو میاشتو نه اته ته پورته لاړ - نوهغه ورځې وسته په واشنګټن
اوڅرنیو کې دامریکې اوشوروي د بهرنیو چارو د وزیرانو مرستیالانو
اونورو لوړرتبه مامورانو سره وکتل ؛ خو د شوروي له خوا د مهال
وېش لنډولو ته کومه اشاره ونه شوه . زیاترو مبصرینو ویل چې دژنیو

دخبرو له تدویر نه دکابل اصلي هدف داؤ چې د افغانستان دکشالې په باب دملګرو ملتودعمومي اسامبلې راتلونکی بحث تر تاثیر لاندې راولي .
داهم ویل کیدل چې د دغه موضوع په سر ممکن دکابل او مسکو ترمینځ اختلاف پیدا شوی وي .

# شوروي اتحاد په دوه لارې کې

اوس د دوارو خواو د مهال وېش ترمینځ فاصله اونږده نه وه؛ موافقه پرې کیدونکی ښکاریده - خو اصلي خبره بل چېرې وه - خبره داده چې شوروي اتحاد په ربښتیا غواړي خپل پوځ له افغانستان څخه وباسي؟ دفیصلې وخت رسیدلی ؤ . تر دې شپږ کاله په وتفو کې خبرې وشوې، خو شوروی دخپل پوځ د ایستلو د پاره تر اوسه په غوښه څه نه ووکړي .
دا یقین هم نه کیده چې شوروي به دخپل پوځ د ایستلو په باب پریکړه کړې وي ، د خبرو اونږدیدل هرڅوک شکمن کړي وو - د انسان په تاریخ کې نورې دیپلوماتیکې مذاکرې دومره اونږدې شوې نه وې . البته د شوروي دپاره د افغانستان موضوع غټه کشاله وه - د خپل پوځ له ایستلو نه چې عواقب به یې درلنه په خپلې امپراتورۍ، او دباندې په تابعو هیوادونو او په نورو کمونستي ګوندونو باندې ښه نه وي ، په اند ښه کې ؤ . خو له بلې خوا د افغانستان کشاله د

گورباچوف دپاره « خونړي پرهار » په څېړۍ . دغه « خونړی پرهار » دننه په شوروی کې دده د اصلاحي پروګرام يعني د جامعې د سرخلاصوالي ( glasnost ) او د تولنې د بيارغونې (Perestroika) دپاره غټ خنډ ؤ . په همدې ډول دهمدغه « خونړي پرهار » په شته والي سره د ده دپاره اسانه نه وه چې له لويديځې نړۍ په تېره له امريکې سره د هستوی محدودې پې وسلې کولو په باب موافقې ته ورسيږي او هغه له لويديځې نړۍ، او هم له عربي نړۍ سره نزدې کړي، کومه هم تراوسه پې د نزدې متوسط وايتن ويشتونکو راکټونو د امحا په سر د امتيازونه ورکولو سره يوځای موافقه ته هم رسېدلی وو، خو شوروی او په واقع کې د بيړنيت دپاره، د سترا تيجيکي هستوي وسلې وې، چې دهغو په باب د ورو ستيز موافقې دپاره لږ تر لږه اوس بايد دښه تفاهم فضا مينځ ته راغلې وې . دريګن د ستورود جنګ په نامه پروګرام، چې په اصل کې شوروي ته متوجه دی د بين المللي تشنج په فضا کې، خو ورو ورو د تحقق په لور روان ؤ .

له بلې خوا « خونړي پرهار » په ناسور اوښته . دې وه ستر نظامي قدرت په توګه د شوروي د جراحي ټول کوښښونه په دې باب ناکام شوي وو . حتی دې وه کال په بهير کې د شوروي خاص شديد عمليات، لکه چې دمخه يې يادونه وشوه، هم نتيجې ته رسېدلی ونه شول . په واقع کې د همدغو عملياتو په نتيجه کې د شوروي

پوځ د پاره په افغانستان کې نوي اغېزمن خنډونه هم وتوکېدل - دغو شدیدو عملیاتو په نتیجه کې کله چې مالي او انساني تلفات ترڅو لاهم زیات شول - او پاکستان ته د افغانانو په مهاجرت کې څرګند ډېروالی راغی دغه وېره پیدا شوه، چې کرښه هم د مجاهدینو د مقاومت اراده د هروخت په شان کلکه ده، شاید په پای کې نظامي لاس بری د شوروي په برخه شي، او وېره دکابل د رژیم نسبي نرم چلندونه چې تول یې د «ملي روغې جوړې» په نامه یادېږي بریالی شي، او په دې دول روسان وېرو وړو په افغانستان کې په خپل نهایي استعماري مقصد وړسېږي. امریکې له دغه حال سره د مقابلې په غرض د مجاهدینو په وسلوکې کیفي ځول راوست. د ۱۹۸۶ کال په اوږدو کې یې د لوړې ځل له پاره مجاهدینو ته د ستنګر په نامه هوایي ضد راښکته وړکړل، او وېرو وړو یې شمېر وړته زیات کړ انګریزي بلوپایپ ضد هوایي راکټونه هر مجاهدینو ته وړسول شول. د مجاهدینو د وسپنیزې ارادې، او تخنیکي استعداد او مهارت او د دغو راکټونو په برکت د روسانو د هوایي قوې تاثیر په څرګنده دول لږ شو. د روسانو بېساري غوڅونکې امتیازي قوت وېرو وړو خپل تاثیر او اهمیت له لاسه ورکړ. د مجاهدینو د دغې نوې پېچلې وسلې په اغېزمن استعمال سره وچې حتی په لوړنۍ راکټ باندې یې د ۱۹۸۶ کال په سپتمبر کې د شوروي الوتکه راښکوره

کړه ، او اوس دغه راکټ د یادګار په ډول د سناتور چارلز ولسن
د دفتر په ورکې لیدې شي . له هوایي ضد راکټونو نه برسېره مجا-
هدینو ته ۱۲۰ ملي متري هاوانونه ، او ماین خنثی کوونکی وسیلې
هم ورسولې شوې ، چې د هغو په نتیجه کې کله چې شمېر یې کم
شي ، د دښمن کارنیز ته به هم د لږې فاصلې نه هدف ګرځي ، او مجاهدین
به وکولی شي حتی په ستراتیجیکی سیمو کې هم له خطر نه تر ډېره حده
پورې په امان وي ، او د حرکت آزادي به یې خپله کړې وي . د دغې
وسیلې اهمیت له دښمن څخه ګمندیږي چې روسانو او د کابل رژیم عمالو د
دخپلو نظامي پوستو شاوخوا مایینونه فرش کړي ، چې د امریکې د نظامي
متخصصانو په تخمین سره د هغو شمېر درې میلیونو ، او د مجاهدینو
په تخمین سره د هغو شمېر پنځه میلیونو ته رسیږي .

په هرحال د کرملن واکمنو د پاره اوس نو دوه لارې وې ؛
یا په نظامی عملیاتو ته لا هم شدت ورکړي ، چې د هغو نتیجه به
د جنګ دوام او د دوی په دننیو اوباندنیو پروګرامونو باندې د هغه
ناوړه اغیزې وي ، او یا به د څرنیو له لارې یوې فیصلې ته رسیدل
وي . نو ریګانو اسانه نه ده چې جنګ به په افغانستان کې په نسبتاً
ښکته سویه کې وساتل شي . روسانو پې له دې چې نظامی عملیات
کم کړي وي په دیپلوماسۍ باندې هم سنه نه ده واچوله ، خو لکه
چې وړاندې لیدل شي ، د دوی د دیپلوماسۍ لار په خاص ډول پېچلی

# په واشنګټن کې ګورباچوف - ریګن جرګه

د ۱۹۸۷ کال په سپتمبر کې د ژنیو د خبرو په تړلبدو سره چې له افغانستان نه د شوروي پوځ د ایستلو په باب د پاکستان او کابل رژیم د نمایندګانو د مهال ویشونو ترمینځ فاصله اتو میاشتې ته کمه شوې وه ، دغه هیله پیدا شوې وه ، چې کله چې د همدغه کال په دسمبر کې ګورباچوف له ریګن سره په واشنګټن کې د هستوي بې وسلې کولو او په خاص دول د منځنۍ اوږدې واټن وېشتونکو ډروی راکټونو د له مینځه وړلو په باب د درېم ځل د پاره سره وینې . د افغانستان د کښتانې د هوارولو د پاره به هم کوم اساسي ګام پرمخ واخیستل شي . خو څه ونه شول . خو ګورباچوف د خبرو په پای کې په یوې مطبوعاتي مرکې کې څرګنده کړه ، چې د شوروي حکومت له افغانستان نه د خپلو « محدودو نظامي قطعاتو » د ایستلو په باب « سیاسي تصمیم » نیولی دی او په دې باب به د ژنیو راتلونکې خبرې آخرۍ اوږدې ونکې وي . په عمومي ډول فکر کېده چې بل ګام به د ژنیو د خبرو د سره نیول وي . خو موضوع دومره پېچلې وه ، چې د هغه په وړاندې باید په افغانستان

کې دوامړو جنګې خواوته د نظامرستې وړکولو، د نورو اړوندو تکو په تړه د انتقالي یا عبوري حکومت په باب فیصلې شوې وې، په هرحال، دګورباچوف له پورتنۍ ویناته وروسته د افغانستان دکشالې په باب سیاسي فعالیتونه، او خبرې اترې دېرې اوپراخې شوې.

# ارمه کاست په اسلام آباد اوشیوارډنادزې په کابل کې

د ۱۹۸۸ کال د جنورۍ په ٤ مه د امریکې د باندنیو چارود وزیر مرستیال مایکل ارمه کاست اسلام آباد ته، او د شوروي اتحاد د باندنیو چارو وزیر شیوارډنادزې کابل ته درسمي خبرو اترو د پاره لاړل. اسلام آباد ته ارمه کاست د راتګ په وخت کې دغه فکر په قوت سره مینځ ته راغلی وُ، چې د افغانستان په باب د شوروي په سلوک باندې اعتماد نشي کېدلی، په دې چې له یوې خوا حتی مشر واکمن یې ادعا کوي چې غواړي د افغانستان کشاله د خبرو له لارې هواره شي، خو له بلې خوا یې دلومړي ځل د پاره پاکستان ته نزدې د پکتیا ولایت د خوست ښار د محاصرې د ماتولو د پاره تر هرې بلې وخت نه زیات په بیځي شدید وعملیاتو پیل کړی دی. په دې حال کې —

ارمکاست د پاکستان د حکومت مشرانو ته ډاډ ورکړ، چې امریکاد
دوی د هغوکومبښنو ملاتړکوي چې مقصدئ په خبرو سره دافغا-
نستان دکشالې هوارول، اوله دغه ملک نه د شوروي قواووایستل
دي. ده په عین حال کې دلومړي ځل د پاره دمجاهدینو د اووه
ګونې اتحاد ویندوی اویو ځمیز نوروونمایندګانو سره وکتل، او-
هغوته یې ډاډورکړچې «امریکا له باندنی تسلط نه د خلاصون په
مقصد د افغانانو نو دمبارزو پوره ملاتړکوي.»

په کابل کې څه وخت چې شیورډنازې خبرې دکابل د رژیم
له لوړپاونو سره روانې وې، دمسکو راډیو څرګنده کړه چې شوروي په
کابل کې په داسې حکومت ټینګار نه کوي چې هغه دې د شوروي
پلوي وي، خو له امریکې نه هم غواړي له دې نه ډډه وکړي چې هلته
خپل پلوي حکومت واکمن وګرځوي. ګورباچوف لا دمخه څرګنده
کړې وه چې د افغانستان آینده حکومت باید د ټولو ټولګوتوبنو
له ائتلاف نه مینځ ته راغلی وي. دغه ویناوې په څرګندډول د افغا-
نانو دخود ارادیت دحق منافي وي، شیوارډنازې لا په کابل کې
و، چې دمسکو راډیو څرګنده کړه چې شوروي حاضر دی چې
همدا چې امریکا په مجاهدینو باندې وسلې ودروي، دخپلوالښکرو
په ویستلو پیل وکړي. په همدې وخت کې کورډوویز په امریکې کې
په یوې مطبوعاتي مرکې څرګنده کړه چې د شوروي حکومت هغه ترخبر

ورکړی چې غواړي خپل پوځ له افغانستان څخه تر یوه کال نه پرلږه موده کې وباسي او پخپله شیواړ نازې په کابل کې د کابل رژیم له مشرانو سره له خبرو کولو نه وروسته د باختراثرانس نماینده سره په مرکې کې وویل « موږ هیله کووچې د ۱۹۸۸ کال به ستاسې په هېواد کې د شوروي پوځ دشته والي وروستی کال وي . » ده دا هم وویل چې د دغه کال د پاره به « په نزدې آینده کې مناسب حالات برابرکړل شي . » له « مناسبو حالاتو » نه د ده مطلب د شوروي پوځ د ایستلو په پیل کې په مجاهدینو باندې د امریکې له خوا د وسلو بندول و . برسېره پردې ده څرګنده کړه چې له هغې نېټې نه چې د ژنیو موافقه لاس لیک شي دوه میاشتې وروسته له هغه به د پوځ په ایستلو پیل وشي .

د شوروي له دغو هلوځلو نه څرګنده ده چې پرسېره پر هغو کړنو چې پخپله د دوی عمالو، او د کابل رژیم د نښه په افغانستان کې په بېلو بېلو ډګرونو کې د حکومت د تینګولو د پاره په جدي ډول کول، په دې پلوماتیکی لاروسره دا ممکنه کړي چې د مجاهدو تنظیمونه تجریدکړي، او په هغو باندې د وسلو په بندولو سره فشار راوړي تر څو د کابل حکومت وکولی شي په کوم ډاډ پراخ ائتلافي حکومت کې د سیاسي قوت په توګه پاتې شي .

خو په مجاهدینو باندې د وسلو بندول په واقع کې په کابل کې د شوروي لاس لاندې حکومت په پښو درول وو، او دا هغه

ځانګړو چې څرګندونه د لایلو له مخې د امریکې حکومت او همدا راز نورو کومک ورکوونکو حکومتونه وړته تیار نه وو. نوځکه جارج شلتز د امریکې دبهرنیو چارو وزیر د جنورۍ په ۷ مه په واشنګټن کې په یوې مطبوعاتي مرکې کې څرګنده کړه چې د افغانستان په باب موافقې کې نه یوازې باید د شورويې د پوځ ایستل، او په مجاهدینو باندې د وسلو بندول شامل وي، بلکه باید د کابل په رژیم باندې د وسلو بندول هم شامل وي - ده اضافه کړه چې " موږ ( د شورويې پوځ ) د اخراج د پاره د یوه ثابت جدول د پاره د شورويو موافقې ته په انتظار یو. زموږ په نظر د غه جدول باید تمام عیار وي - ( Front-end-load ) ؛ همدا چې یوځل پرې پیل وشي، باید یو راز حتمي توب پکې وي. په شاتګ باید پکې نه وي. "

د شورويې حکومت د لویانو له دغو ویناوو نه د اسې څرګنديده چې ترهغې اندازې چې دوی له افغانستان نه د خپل پوځ ایستلو په باب څرګندې او غوښتې وياوې وکړې، د امریکې حکومت شاید په هماغه اندازه مجاهدینو ته د وسلو وړکولو په باب د دوی د پاره امتیازات ومني. د بی بی سي په قول د جنورۍ په یوولسمه د شورويې حکومت څرګنده کړه چې که پاکستان او امریکا ځینې شرایط ومني شورويې به د ټته تیار شي چې د همدغه کال مرمۍ پورې له افغانستان نه د خپل پوځ په ایستلو پیل وکړي. د همدغې راډیو په قول د شورويې د کمونستي ګوند ولسپاني

پراودا کې لیکل شوی وو چې ،، د موضوع اصلي تکی د شوروي پوځ
د ایستلو د پاره نهته نه ، بلکه په دښمن ( مجاهدینو ) باندې د امریکې
د وسلو بند ولو نهته ده . ،،

# سیمې ته د کورډوویز وروستی سفر

کورډوویز د جنورۍ په ۲۰ مه اسلام آباد ته راغی ، د لانګ په
وخت کې یې ځرګنده کړه چې غواړي نه یوازې د افغانستان نه د شوروي
پوځ د وتلو په مهال ریش بحث وکړي ، بلکه د افغانستان د کشالې نول اړونده
تکي د وروستي فیصلې په مقصد هم تر بحث لاندې ونیسي . ده وویل
چې د سفر نهایي هدف یې ،، چې څومره ژر کیږي ،، د ژنیو د خبرو له
سره یوځای کړي . خو دغه سفر تر هرڅه نږدې سفر ځکه اوښد شو ، او د فبروري
تر نهمې پورې یې دوام وکړ ، او دغه په بهیر کې اته ځله اسلام آباد
او کابل ته لاړ او راغی .

د کورډوویز دغه سفر ځکه اوښد او سخت شو چې د ژنیو د
خبرو اصلي موضوع یعنې له افغانستان نه د شوروي پوځ د ایستلو
موضوع د تولو خبرو خاص او ستر تکی وُ ، چې په هغې پورې د کابل د رژیم
آینده اوهم د دغه هیواد په باب د شوروي اړاتلونکی سیاست مربوط کیده .
که شوروی غوښتلی چې له افغانستان نه په هغه دول ووځي ، لکه چې

امریکا له ویتنام وتله، دکشالې هوارول به اسانه وای، لکه چې وبه لیدل شي، شوروي په دغه فکر هیڅ نه ځ .

د مسکو له ۱۱ دیونه د جنوري په ۲۴ مه وویل شول چې کوسیاچوف لا د مخه ویلي وو، چې افغانستان دې په آینده کې یو خپلواك، ناپیلی اوبېطرف هیواد وي، په دغې وینا کې دا هم وویل شول چې د امریکې حکومت او نورو دخیلو هیوادونو دغسې څرګندونې نه دي کړې. په وینا کې اضافه شوه چې د شوروي حکومت په کابل کې د شوروي پلوي حکومت هم نه غواړي، په داسې حال کې چې د امریکې حکومت نه دي ویلی چې هغه هم په کابل کې امریکې ته په متمایل حکومت باندې ټینګار نه لري. څرګنده وه چې د شوروي حکومت د افغانستان له آینده حکومت نه په اند یښته کې ځ، نوځکه یې په خپل فکر له « خپلواك افغانستان » سره « ناپیلی » او بېطرف » افغانستان هم غوښته، او د دغې افادې په څرګندتنا فض یې ستوګې پتې کړې وې. که آینده افغانستان د افغانانو د خوند ارادیت د مخې شوی اصل له مخې خپلواك وي، او باید وي، نو ـ پیلتوب او بېطرفي باید د خپلواك افغانستان کار وي، نه د اچې شوروي سره اوسه په هغه دغه قید او پندیز ولګوي، او د افغانانو خپلواکي محدوده کړي .

برسېره پردې کله چې شوروي ته د افغانستان د آینده عبوري حکومت په باب د پاکستان د حکومت نظر د کوردوویز له لارې ابلاغ

شو، د هغه منلوته حاضر نه شو، کوم څه هم د مخه يې څرګنده کړې وه چې شوروی په افغانستان کې د شوروي پلوي حکومت باندې تینګار نه کوي. د پاکستان د حکومت نظر دا و چې پخوا له دې چې د ژنیو فیصله لاس لیک شي، باید په کابل کې د مجاهدینو او مهاجرینو ترمنځ یو ائتلافي حکومت مینځ ته راغلی وي، او په هغه کې دې دری واړه خواوې برابره برخه ولري، د پاکستان د حکومت په نظر یوازې د غسې حکومت په راسې حال کې چې په مهاجرینو کې د پخوانۍ پاچا د پاره هم لاره خلاصه وه، کولی شي په ملک کې د شوروی قواوو له وتلونه وروسته سوله خوندي کړي، او جنګ ختم کړي، او د مهاجرینو د ستنیدو د پاره لار هواره کړي، خو د پاکستان دغه نظر د بهلو بهلو دلایلو له مخې نه یوازې د کابل او مسکو نه د منلو وړ نه وُ، بلکه د مجاهدو تنظیمونو مشرانو او پخوانۍ پاچا هم نه مانه. وروستیو تر اوسه په واړه واړه څرګنده کړې ده چې دوی په هیڅ دول حاضر نه دي د کابل د کمونستانو سره په حکومت کولو کې برخه ولري. دوی د نجیب الله د « جامعې نه د سیاسي قوتونو » پراخ بنسټه حکومت پیښنهاد چې دوی ته په هغه کې د ګډون کولو د پاره څو واړې بلنه ورکړل شوې وه په غوڅو الفاظو سره ردې کړی وو.

د غه حال د کنړ د وویني مامورینو ببخې مشکل کړی و. د جنوري په ۲۵ مه نیټه د معمول په شان خوش بیني ښکاره کړې وه، او ویلی یې وو

چې د ژینو راتلونکې خبرې به وروستۍ اوغوښتونکی وي - ۲ د جنوري به ۳۰ مه چې له اسلام آباد نه کابل ته تللی و، څرګنده کړه چې «زه زیار باسم د تولو ناحل شویو موضوعاتو د پاره یوه ګډوډي پیدا کړم ..» د جاري خبرو په هکله یې وویل چې «هغه په تپه په ځای ولاړې نه دي، - سستې روانې دي، خو داهغه څه دي چې دنړۍ په دغه ګوټ کې هم دغسې وي ..» وروسته یې په دغه هکله یو راز ګیله وکړه - د فبروري په دوهمه یې له زین نورانی سره، چې د پاکستان د حکومت له خوا د بهرنیو چارو په وزارت کې د دولت د وزیر او د ژنیو په خبرو کې د هغه د حکومت خاص استاځی تاکل شوی ؤ، په اسلام آباد کې له هغه سره په مرکې کې وویل چې موجودې خبرې «بې له لزومه سستې وې» او هغه «نتیجې ته نه دي رسیدلی»، کوردوویز داخل په اسلام آباد کې تر دېره وخته پاتې شو. او له پاکستانی مقاماتو نه برسېره یې دلویدیځ خلې دیاره په اسلام آباد کې د شوروي او امریکې له سفیرانو، او هم د مجاهدینو د اوه ګونی اتحاد له مشر مولوي محمد یونس خالص سره د افغانستان د کتابي په باب خبرې وکړې. له وروستي سره د کوردوویز د لیدنې په باب پام ژیات شو. مولوي محمد یونس خالص اسلام آباد ته د کوردوویز په راتګ سره څرګنده کړې وه، چې افغاني مجاهد تنظیمات نه غواړي له هغوسره وګوري. د اوه ګونې اتحاد نظر د ژنیو د خبرو په باب له هماغه اول نه داوچې د -

افغانستان کشاله اهغه وخت د خبرو له لارې هوارېدی شي ، چې د
شورۍ حکومت د مجاهدینو له مشرانو سره مخامخ وګوري ، ځکه
چې په واقع کې همدغه دواړه خواوې دي چې د یو بل په ضد جنګ
کوي ؛ دوی د جنګ واقعي خواوې دي ، او یوازې دوی دې
وسلوي ، چې سوله خوندي کړي . پیر سید احمد ګیلاني د همدغه
اتحاد دیوه تنظیم د افغانستان د ملي اسلامي محاذ مشر له کومه دوین
سره د خبرو په هکله په دې فکر و چې « ما تل ویلی چې د افغان کشاله
بین المللي ده ؛ موږ ته زمایاست بین المللي جامعې ته وښیو چې
موږ د خپلسو اصولو د دفاع د پاره جنګیږو . مګر غلی کومه دوین دیوې
بین المللي ټولنې استاځي دی - که له دغې جامعې نه کوم شبه څرحاصلیږي
موږ به یې ومنو ، او که نتیجه یې عادلانه نه وي ، رد به یې کړو . »
په هرحال مولوي خالص له کومه دوین سره د پاکستان د جمهور
رئیس جنرال ضیاء الحق په تیلفوني سپارښتنه ولیدل ، خو له شوې
خبرو نه یې رضایت ونه ښود . له هغه زده وروسته وو چې د پاکستان لوړ
رتبه مامورانو ، کومه دوین او هم مولوي خالص عین مطلب په بېلو
بېلو الفاظو څرګند کړ . دوی وویل چې د افغانستان سیاسي آینده
یوازې د افغانانو له خوا تاکل کېدلی شي . خو هیڅ لوړې دغه مهم اصل
مشخص نه کړ ، او په دې یې خپه ښه وانه چوله چې څوک یا کومه ډله یا
ډلې به په دغسې اضطراري حال کې د خپلو ارادیت د اصل له مخې

په کوم رازمیکانیزم سره د عمومی ارادې اوهیلی واقعي تمثیل وکولی شي.
په هرحال دپوهنې مطلب معنی په اوسني حال کې دا کیدلی شوه، چې د
افغانانو د پاره د موقتی حکومت د جوړیدو لو موضوع د څنیو په مذاکرو
پورې اړه نه لري، په څنیو کې د افغانستان د کشالې بهرنی اړخ تر بحث
لاندې نیول کیږي، او د دننی اړخ یې په خپله د افغانانو کار دی. د پا-
کستان د حکومت له دغې پوهنې وینا نه داسې ښکاریده چې د هغه په
هغه تمینګار کې چې د څنیو د موافقې تر لاسلیک کیدو نه روسی باید
په کابل کې یو قانوني حکومت مینځ ته راغلی وي، څه بدلون راغلی،
کرښه هم د هغه خاص استاځی زین نورانې په ځوانې تمینګار تر دې وخته
پورې ولاړو - په هرحال د همدغه پرمختګ په سبب وو چې کله چې کور-
دوین د فبروري په اوومه له کابل نه اسلام آباد ته راغی، څرګنده کړه
چې «موږ ځوا د پورې سختې کشالې هواري کړي دي. موږ غږې
جنجالونه حل کړي چې ما ویل هیڅکله به حل نه شي. نو اوس باور لرم
چې ناحل شوي مسایل به هم حل شي..» د هغه په قول د ناحل شوو
مسایلو له دلې نه د پوه ستره پې له افغانستان نه د ستورو ي پوځ د وتلو
مهال ویش وُ.

څرګنده وه چې د مهال ویش د تاکلو موضوع د کریملن د مشرانو
کار وُ، او ګورباچوف په بله ورځ د فبروري په ۸ مه په دې باب د
لومړي ځل د پاره یوه مهمه وینا وکړه. ده په دغې څرګندونې کې ښکاره

کړه چې د مې په پنځلسمه به له افغانستان د شوروي پوځ په ایستلو پیل وشي، په دې شرط چې ترهغه دوه میاشتې د مخه د ژنیو خبرې په بري سره پای ته رسیدلی وي . ده دا هم وویل چې د تول پوځ ایستنه به په لسو میاشتو کې وشي . په عین حال کې ده د دغسې افغانستان د پاره هیله څرګنده کړه چې هغه به „ خپلواك ، ناپیلی او بې طرف وي .“ د - ګورباچوف د دغې نیټې تاکنه په دغې ګڼنې پورې تړلې وه چې د ژنیو فیصله به د مارچ تر پنځلسمې پورې لاسلیک شوې وي . په عین حال کې ده دا هم څرګنده کړه چې د پوځ ایستنه به کله په کابل کې د اشتلافي حکومت په باب کوښښونه کومې نتیجې ته نه وي رسیدلی هم ، پرمخ ولاړه شي - په دې ډول په دغې څرګندونې کې د غه د واړه موضوعات سره نا - اړونده وګڼل شول ، په داسې حال کې چې تېرکال د کریملن واکمنو د خپل پوځ د ایستلو د پاره شرط ایښی وُ چې په کابل کې دې دغسې حکومت په ځای وي ، چې هغه له شوروي سره په دوستۍ عقیده ولري .

اوس نو کورډوویز سیمې ته د خپل هدف رسیدلو ته نزدې ښکاریدل چې هغه په ژنیو کې د خبرو له سره نیول وو - ده د فبروري په ۹ مه دیوې مطبوعاتي مرکې په ترڅ کې څرګنده کړه چې دوه اونۍ وروسته یعنې د مارچ په دوهمه به د ژنیو خبرې له سره ونیولې شي . په خوښۍ سره ده دا هم څرګنده کړه چې اوس دې له دغسې احساس سره بهر ته روان دی چې د خپلې خواوې د څلورم سند د تکمیلولو په عرض د هرې وارندې تللې دي ، او د ژنیو د وروستیو خبرو د پاره بنه تیاری نیول شوی دی ، او دا د ده د سفر هدف و .

## دوهم فصل

# د خبرو دولسم پراو او فیصله

### مقدمه

بین نسلي مذاکري په تېره هغه چې د جنګ او سولې، او د یوه ملت یا ملتونو د سیاسي سرنوشت او برخه لیک په باب دي هغومره اسانې نه وي، لکه څومره چې په دغو پانو کې دلوستونکو په خاطر اسانې او لنډې بیان شوې دي، او لکه څنګه چې له بده مرغه اجتماعي ساینس پوهان همدغسې ګڼي. د ژنیو د راتلونکو خبرو تر پیل نه دمخه په دې اوینو کې، د افغانستان د کشالې، په تېره د عبوري یا موقتي حکومت په هکله ډیر خلو خواو وخپل د یځونه په مختلف او حتی متضاد دول وینیول. دغه د یځونه دومره پیچلي ښکاره شوي وو، چې حتی د ژنیو د راتلونکو خبرو د بریالیتوب په شک کې اچولی و.

# د موقتي حکومت په باب متضاد درېځونه

زین نوارپي د پاکستان د حکومت خاص استاځي، د فبروري په نهمه څرګنده کړه چې د څینو توافقات یوازې د کابل له «قانوني حکومت» سره لاسلیک کېدلی شي. ده دا هم څرګنده کړه چې ترهغو چې د څینو موافقه لاسلیک کیږي، په کابل کې به قانوني حکومت مینځ ته راغلی وي حُکه چې دده په فکر عبوري حکومت د جوړیدو په باب د خپلې خواوې ترهر وخت نه زیات اوس سره نږدې شوې دي. دا چې د پاکستان استاځي د عبوري حکومت د جوړېدو په باب دغسې تمینګار له سره پیل کړ، د پاکستان د حکومت د مخې اندیښنې بسکاره دي او، چې وطن ته یې د مهاجرینو د ستنېدو په باب لاره ـ د افغانی مهاجرینو شمېر په ډېره وخت کې د افغان کمشنرۍ له خوا درې میلیونه اوخلور لکه ښودل شوی و. که څه هم له دغو مهاجرینو سره د باندنیو ملکونو، په ټېره د ملګرو ملتو مرستې په پېښور کې د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ ( UNHCR ) له لارې کېدلې، خو په دې کې شک نشته چې په پاکستان کې د دغو سره زیات شمېر مهاجرین شته والی، • چې په معاصر تاریخ کې ببهساري دی، د کورنۍ ملک د پاره ستونزې هم رامینځ ته کړې دي چې په هغوکې یې هغه نشار د چې وروسکو ته متمایلو دلو په حکومت راوړ ـ نږدې پاکستان د پاره دا

دې ره مهمه وه چې حتی د ژنیو د توافقاتو تر لاسلیک کېدلو نه وروسته باید په افغانستان کې دغسې قانوني حکومت مینځ ته راغلی وي، چې هلته د شورويو پوځ په وتلو سره سوله خوندي شوی وي، تر څو مهاجرین وطن ته ستانه شي - څرګنده وه چې د پاکستان د حکومت دغه نظر له افغانستان نه د شورويو پوځ له وتلو وروسته د اخالي داخلي جنګ د مخنیوي پاره یو اساسي اغیزمن تجویز کېدلی شو، چې همغه په ځرګند ډول د افغانستان په ګټه تمامېده. خو څنګه چې دا په اصل کې د سیاسی واکمنۍ موضوع وه، او په واقع دغه ټول جنګ د واکمنۍ په سر وۀ، د موضوع حل هغومره اسان نه و، لکه څنګه چې نورانې فکر کاوه.

حتی په خپله کورډوویز دیاره هم ګرانه وه، چې دغه نظر ومني. همغه نیویارک ته د ټګ په لاړ کې په ژنیو کې دغږوري په دیارلسمه ځرګنده کړه چې په کابل کې د موقتی حکومت د جوړېدو کار «یه مطلق ډول» په خپله د افغانانو ته حق دی. د دې معنی داوه چې، دا د خو ارادیت او ملي حاکمیت موضوع ده، او همغه خپله د وطن په خلکو پورې اړه لري.

د شورويو حکومت هم په دې باب ورته نظر لاره - د همغه د باندینو چارو د وزیر مرستیال یولي وراننسوف، چې د غږوري په لسمه اسلام آباد ته راغلی و، وروسته له دې چې له افغانستان نه یې د شورويو پوځ د وتلو په هکله د ګورباچوف وینا تکرار کړه، په یوې مطبوعاتي مرکې کې

څرګنده کړه چې د انتقالي حکومت رغونه « یوازې او یوازې د افغانانو » وظیفه ده . او افسوس دغه وینا په واقع کې د پاکستان د حکومت د درېځ په ارتباط وکړه ، او پیغام یې داوچې پاکستان ته نه ښایي د موقتي حکومت د رغونې موضوع د ژنیو د خبرو د پاره یو شرط وګرځوي . نو موږ یې داهم وویل چې « موږ کولی شو او باید د ژنیو په موافقې سره دیوه حکومت د جوړېدو د پاره شرایط برابر کړو ، او هرڅه ته وښیو چې د شوروي پوځ به په یوې تاکلې نېټې کې د ټولو هغو په خوښه ووځي چې د ژنیو په پروتوکول کې یې برخه اخیستې ده . »

په همدغه وخت کې د امریکې د بهرنیو چارو وزارت په یوې څرګندونې کې ، هغې چې د امریکې غږ رادیو خپره کړه ، راغلی ووچې کوم هغه هدفونه چې امریکا یې دیوه تضمین کوونکی په توګه غواړي تر سره شي د شوروی د پوځ پوره او اخري وتنه ، د افغانستان بېطرفي د افغانانو د پاره د خود ارادیت حق ، او وطن ته د مهاجرینو ستنېدنه ده . په دغې وینا کې د موقتي حکومت د جوړېدو په باب په څرګندو الفاظو کې څه نه وو راغلي ، بلکه له هغه نه په ضمني ډول د خود ارادیت په یادونې سره بسنه شوې وه .

## زېن نوراني په امریکې کې

زېن نوراني د فبروري په ۱۶ مه

امریکي ته په سفرلاړ، اوهلته يې دهمدغې موضوع په باب له ریګن سره وکتل. دامریکي حکومت دا ځل خپل درېیځ دهمدغې موضوع په سر تر پخوا روښانه کړ ا د فبروري په نوسمه يې په یوې وینا کې څرګنده کړه چې په افغانستان کې موقتي حکومت رغونه "مطلوبه" ده، خو دغه حکومت ستر هدف له افغانستان نه د شوروي پوځ وتنه ده، او په دې تینګار کوي. نورانې بله ورځ هپواد ته د ستنېدو په لار کې په لندن کې وویل چې که د موقتي حکومت د رغونې موضوع ناحله پاتې شوه "د پره خونړۍ جګړه" به پیل شي. نو ځکه دې لاهم په دې فکر وچې د ژنیو د موافقې تر لاس لیک کېدو نه د مخه د موقتي حکومت جوړېدنه په افغانستان کې د سولې د خوندي کېدو د پاره خاص اهمیت لري.

# ائتلافي حکومت او د شوروي نوی درېیځ

داسې ښکاري چې د شوروي حکومت د کورېدووېز د ورستۍ سفر په دوران کې د موقتي حکومت د رغونې په باب د پاکستان حکومت ته کوم راز داد ورکړی وي، او له هغه وروسته، لکه څنګه چې د مخه يې یادونه وشوه، د هغه په باب يې خپل نظر اړولی وي، خو

پاکستان د حکومت نماینده د موقتي حکومت د تشکیل په باب په ځرانی فکر ټینګ وُ . زین نورانی دفبروري په ۲۲ مه د ګورباچوف دفبروري د اتمې ښتې وینا تر سخت انتقاد لاندې ونیوه ، او څرګنده یې کړه چې « ټول ښکلي کلمات او خیالي پوښ چې ترینه لږې شي ، په هغې څه نوی شی نه لیدل کیږی . » برسیره پردې د نورانی په نظر دغه وینا نه شي کولی د افغانستان دکشالې دپاره د سولې وړ پرانیزي - ده داهم وویل چې د ګورباچوف په وینا کې د شورويو پوځ ایستنه په شرایطو پورې مقیدْ شوې او دده په فکر « هغه د سولې ییزو خبرونښه نه ده ، بلکه یوازې انتیماتوم دی » . په موضوع پورې اړوند تکی یعنې د موقتی حکومت د درغونې په باب د پاکستان خارجه سکرتر یا مرستیال عبدالستار وروسته د مارچ په ۶ مه پښه لنډن کې څرګنده کړه چې دغه فکر د ۱۹۸۷ کال په سپتمبر کې پخپله کورډوویز وړاندې کړې وُ ، او څرګنده کړې یې وه چې د څرنیو د خبرو سره موازي دې د موقتی حکومت د جوړېدو په باب پرمختګ وشي ، او د انتقالی دورې د حکومت د جوړېدو فکر د شورويو له خوا تائید شوی وُ ، او اوس د پاکستان حکومت تعجب کړي چې شورويو ولې له خپل دغه فکر نه اوښتی دی . زین نورانی لا په هماغې پرتخه وینا کې ښکاره کړې وه ، چې د کورډوویز دوروستي سفر په دوران کې موافقه شوې وه چې د نجیب الله د حکومت په ځای به یو پراخ - بنسټه ائتلافي حکومت مینځ ته راشي او د هغه په خپلو الفاظو هغه « په

څرګند دول د شوروي د حکومت په خوښه شوېده » اوکه نه کوم ـ وین کله خپل سفر دېر اوږد ده ، خو دده په فکر « اوس شورویان له خپل لفظ نه اوښتی دي .»

# د امریکایي اړمند همراغیزمن رول

له بلې خوا د امریکایي اړمند همر په قول « د ۱۹۸۷ کال په پای کې څرګنده شوې وه ، چې شوروي قصدکړی وخپل پوځ په چټکۍ سره له افغانستان نه وباسي په دې شرط چې مسکو په کابل کې د حکومت د دماهیت په هکله د نجیب الله له عوض کېدو سره له کوم شرط سره مخامخ نه شي . » دغه امریکایي میلیونر د هغو سنو اړیکو په سبب چې د شوروي له انقلاب نه وروسته د کریملن د تولواکمنو سره لرل د افغانستان د کشالې د حل په لاره کې یې خپلې فردي هلې ځلې جاري ساتلې وې . دده دیوې لیکنې له مخې چې د جاري کال د جون په لومړۍ اوونۍ کې په نیویارک تایمز کې خپره شوې وه ان د ۱۹۸۷ کال په فبروري کې کوم دوه وین له ده نه غوښتي وو چې څنګه چې د روسي پوځ د تلو په باب د ژنیو خبرې په تپه ولاړې وې د دغې غونډې د خلاصېدو د پاره کوښښ وکړي . دده په قول وروسته له یوه کال هلوځلو نه ده وکولی شول جمهور رئیس ریګن په دې قانع کړي چې روسان

د خپل پوځ په ایستلو کې ډېنستیني دي، او ده ته ښایي د پاکستان جمهور رئیس جنرال ضیاء الحق په دې قانع کړي، او هغه ته یې خپله تیلفون وکړي او داد ورکړي چې امریکا به د افغانستان دکشالې په سر پاکستان او مجاهدین دشوروي په مقابل کې یوازې پرې نږدي. د هغه په فکر هغه تیلفوني دادینې څخه وروسته وچې جنرال ضیاء الحق د ټرینیوله توافقاتو سره له خپل مخالفت نه واوښت او د هغولاسلیک کول یې ومنل. څنګه چې وروسته به معلومه شي، د غه داډېنه ممکن دماړچ په مینځ کې چې د ټرینیو خبرې له څرګنده رکود سره مخامخ وې وړکړشوې وې.

# د ائتلافي حکومت په باب داخلي مشکلات

خو موقتي ائتلافي حکومت د رغونې په باب تربین المللي مشکل نه زیات داخلي مشکل د خبرو له لارې ناحل پاتې شکار پاته. د دغسې حکومت د رغونې په باب باید د پاکستان دفاع رمول له مخې د پې خلک. د کابل رسمي ګوند، مجاهد تنظیمات او مهاجرین (د پخواني پاچا په شمول) سره جوړه وکړي. په ډېنستیا هم که د غه دلې سره جوړه وکړي، په داخل کې د جنګ احتمال به له مینځه تللی، او د ټرینیو کېدونکی موافقه به په اسانۍ سره عملي کېږي، خو له دې امله چې د غوایي ترکو د تانه وروسته د رسمي ګوند په سروالي حکومتونو د غومره جنایتونه کړي وي، چې د دې

ترمینځ ائتلاف ببخي نا شونکی کار ګرځیدلی وي. همدغه سبب دی چې هم د مجاهدو تنظیمونو مشرانو، او هم پخوانی پاچا د نجیب الله ټول هغه پیښنهادونه په غوڅه رد کړي دي، چې نجیب الله دتش په نامه ملي روغې جوړې دچلند داعلام نه وروسته په وار وار کړي دي. او - نجیب الله چې په همدغې مودې کې په خپل حکومت کې یو شمیر غیر ګوندي افرادو، اوچیي دګیو لکه سازا اوسزاته ځای ورکړی، دده حکومت ته یې نه قانونی رنګ ورکړی او په عمل کې یې نه په سیاسي اونه په جنګي ډګر کې په پیښو ښه اثر کړی دی - د افغانستان داوسني سیاست ښو وسپینو قانون دادی چې څه وخت چې افراد یا ډلې د کابل د حکومت سره ائتلاف وکړي، سمدلاسه هیڅ شي . د نجیب الله د حکومت رنګ بدل لکه چې د مخه د پاکستان حکومت غوښتی وو، په داسې حال کې چې ګوند یې په ځای پاتې وي، هم کشاله نه شي هوارولی، او سوله نه شي خوندي کولی - دغه کشاله هغه وخت هواریدلی شي چې شوروي اتحاد د خپل پوځ له ایستلو سره د سیمې ګوندیو څخه د پاسني غړي بیرون کړي، خو شوروي تر تراوسه په دې فکر نه ښکاري .

د مخلوع پاچا او د مجاهدو تنظیمونو ټولو مشرانو ترمینځ ائتلاف تراوسه ممکن نه ښکاري، لکه چې ټولو ته څرګنده ده د اووه ګوني اتحاد د ړېو په اعتدالي نومونو یاد شویو تنظیمونو مشران د پخوانی پاچا پلویان، او د خلورو نورو ګوندو مشران یې مخالفان دي . د فبروري د میاشتې له پیل

نه د مهاجرینو په کمپونو کې یو شمیر مخالفې اومواقفې غوندې د پخوانې
پاچا په باب وشوې ، خوشحه وخت چې د خبرورې په لړ کې اونه کې دغه
خبرې شوې چې ستوارسنګهه د هندوستان د حکومت د دولت وزیر
له پخوانې پاچا سره په روم کې کتلې دي د هغه داعیه چې په تېر اوږې
کې په دوه زره مهاجرینو کې د پوهاند مجروح د ذهنیت د سروې له
مخې پیاوړې وه ، سمله لاسه زیانمنه شوه . د هندوستان دګاندیانو
حکومتونو په افغانستان باندې د شوروي یرغل نه داچې غندلی نه دی ،
بلکه د کابل حکومت یې په رسمیت پېژندلی ، او د هغه د استقرار د پاره یې
مالي او تخنیکي مرستې هم ورسره کړي دي د هندوستان حکومتونو د لوی
هند له وېش نه را په دیخوا هرڅه چې له افغانستان سره کړي دي ، په اصل
کې یې له پاکستان سره د خپل مخالفت په سبب په دغه مقصد کړي چې -
پاکستان د افغانستان له دوستۍ نه بې ثباته کړي . همدغه سبب دی چې د هند
حکومت له افغانستان نه د شوروي پوځ د وتلو په مقصد د ژنیو له خبرو
سره تر اوسه هېڅ علاقه نه وه ښوولې او د خبرو په وروستۍ پړاو کې یې د
دنابلل شوي او نامطلوب مزاحم رول لوبولو ته ملا وتړله . نو د کابل د ژریم
نه د باندې ټول افغانان اوس تر هر بل وخت نه زیات د هندوستان د حکومت
په سیاست شکمن او ورسره په کلکه مخالف دي - وروسته له هغه چې دغه
حکومت له پخوانې پاچا سره په تماس کې شو د هغه د پاره یې په بین المللي سویه
مشکلات پیدا کړل ، او هغه روغ ښتی یې له مینځه یووړ چې په دغه دګر کې

د ده په باب موجود و ـ خو داسې سنکاري چې پخپله په افغانانو کې اوس هم ده ته هیله کیږي، او دوی دده قوت د نورو په .پې اتفاق کې ګڼي .

البته اووه ګوني اتحاد پخپله یو حوالك او قوت دی ـ د دا دوړې ټوټې اتفاق په حال کې کولی شي دائتلافي حکومت په باب تجویز ونیسي ـ په واقع کې دهمدغسې تجویز د نیولو دپاره دوه کاله د مخه پخپله ددغه اتحاد مینځ ته راوستل لومړنی ګام بلل کیږي ـ د ددغه اتحاد له خوا دغه ورځ په ۲۳ مه د ائتلافي حکومت په باب دلومړی ځل دپاره په مفصل دول تجویز ونیول شو، او اعلان پې وشو ـ د ددغه تجویز له مخې ائتلافي حکومت به ۲۸ تنه غړي ولري، چې نیمایی به پې د اووه ګونی اتحاد نمایندګان، اووه تنه به پې د مهاجرینو نمایندګان، او پاتې اووه تنه به پې دننه د افغانستان ـ مسلمان افغانان وي . د اووه ګونې اتحاد د هیڅ تنظیم مشر به د حکومت غړی نه، بلکه د عالي شورا غړی وي ، او د غه شورا به چې د دولت تر تولو لوړ اورګان وي، د انتقالي دورې په بهیر کې د ګډ مشرتابه دنده په غاړه ولري . د حکومت تر څنګه به یوه مشورتی شورا هم مینځ ته راغلې وي . د هیواد له هر ۲۸ ولایتونو څخه به دوه تنه نمایندګان په هغې کې غړیتوب ولري، او پاتې غړي به پې د پوهانو، روښانفکرو او تکنوکراتانو نه ورته غوره شوي وي . مشورتي شورا به دیوې انتخابي شورا له خوا د نوي اساسي قانون تر جوړیدو وروسته د چا د د اجرا د پاره د قانون د ایستلو د نده په غاړه ولري . په همدې دول د همدغه تجویز له مخې د ولایتونو چارې په ایالتی شورا له خوا په مشورې سره اجرا کیږي .

# د افغان له داعیې نه د امریکې د کانګرس کلک ملاتړ

د کور د وویز په قول، څنګه چې د مخه یې یادونه شوې، د څرنیو د ورځې خبرو د پاره بنسټ تیاری نیول شوی و. د غه راپېښه د هغه روغ نتیجه نتیجه ښکاره ده چې د همدغې موضوع په سر د امریکې اوشورۍ حکومتونو په درېځ کې ده ته څرګنده شوی و. د څرنیو د خبرو ترپیل نه یوه اونۍ د مخه د امریکې د باندنیو چارو د وزیر مرستیال رابرټ پیک د کانګرس په یوې کومیټې کې د سناتورانو په وړاندې څرګنده کړه چې « د امریکې متحده ایالات به دې ته تیاروي چې که د تولې موافقې په باب پوره اړه شي، امریکایی مرسته په افغاني مجاهدینو بنده کړي . » ده په مشخص ډول څرګنده کړه چې د موافقې له کېدو نه (۶۰) ورځې وروسته یعنې کله چې له افغانستان نه د شوروي پوځ په ایستلو پیل وشي، په افغاني مجاهدینو به د امریکې وسلې بندې شي - ده دا هم وویل چې امریکا له شوروي نه د دې هیله لري چې « په کابل رژیم باندې د وسلو په بندولو سره د څرنیو د موافقې له مخې متقابل بندیز مراعات کړي . »

د غې وینا د سناتور لوګر او پاول - د سناد د بهرنیو د موکراټ ګروند ته منسوب مشر رابرټ برډ په ډاګه کړه چې د امریکې حکومت

« قصد کړی چې له افغان مقاومت نه تېرشی . » نورو محافظه کارو جمهوریت غوښتونکو هم دېیک داډېته په کلکه وغندله ، اوځرګنده یې کړه چې سنا له شورویي نه ترلفظي وعدو څخه زیات غواړي . د پوځ وتنه باید یقیني شوی وي ، او افغان مجاهدین ازادي ولري چې دخپل د پاره پخپله حکومت وټاکي . د غوسنا توڼانو دغه موضوع ځکه تېنګه ونیوله چې دخپلو علاموله مخې دامریکي دباندنیو چارو په وزارت کې دېیک په شمول یوه دله لوړ رتبه مامورین په دې فکر بنکاریدل چې د افغان د موضوع په سر له شورویانو نه په نورو مهمو بین المللي موضوعاتو کې امتیاز ترلاسه کړي ، اوله شورویانو سره معامله وکړي .

دلته د دغه تکي یادونه حتمي بنکاري چې په ۱۹۶۱ کې دکیوبا له بحران نه وروسته دکانګرس دوارو ګرندونه د افغانستان دکشالي په باب سره یوموتی شوي وو ، په واقع کې حتی په اول سر کې هم د همدغه کانګرس په غوښتنه وو ، چې دامریکي حکومت د رېګن په مشرۍ له مجاهدینو سره د نظامي مرستې په ورکولو سره پیل کړی و . په بل عبارت له مجاهدینو سره نظامي مرسته کول دامریکي د ملي سیاست یوه برخه ده ، او اوس دامریکي دسنا په نظر په هغه معامله کېده ـ همدغه سبب وُ چې دامریکي دکانګرس دسنا مجلس چې دامریکي په باندنی سیاست کې لوی لاس لري موضوع تېنګه ونیوله او دفبروري په ۲۹ مه یې د هېڅ په مقابل کې په ۷۷ رایو د « سناد احساس » په نامه حکومت ته سپارښتنه وکړه چې

د امریکې حکومت دې « ... ترهغوچې په مطلق ډول خرګنده شي چې شوروي‌انو خپل نظامي اشغال ختم کړي » او د انتقال په دوره کې ترټولو انتخاباتو پورې افغان مجاهدین « په کافي اندازه مجهز وي چې خپل تمامیت وساتي ، افغان مقاومت باندې مرسته بنده نه کړي ، ورو سته یې ونه غورځوي ، او یا یې محدوده نکړي . » په دغې پریکړې کې دا هم وویل شول چې کابل رژیم ته دې د شوروي مرستې « ټول انواع » له مینځه لاړشي او په دې یې تینګار وکړې چې داسې « سیاسي حل دې په کابل کې (وشي) چې د (افغان) مقاومت د پاره دمنلو وړ وي . » په پریکړه لیک کې دا هم خرګنده شوې وه چې « د افغانستان آینده دې د شوروي - امریکې سرانو په هیڅ یا طرح پورې ونه ټړلې شي . » سناتور رابرټ برډ لا دې ته هم اشاره وکړه چې دې ممکن د افغانستان د سولې په باب د امریکې رول د منځنۍ ډاټن ویشتونکو اتومي راکټونو د معاهدې په تصویب پورې هم مربوط کړي ، چې په تېر دسمبر کې د هیګن او ګورباچوف ترمینځ شوې اوپه دغه وخت کې د کانګرس تصویب ته یې اړه وه - په دې ډول په ډېر ناډر ډول به د امریکې د سنا مجلس دیوې خارجي موضوع یعنې افغان مجاهدینو ته د نظامي مرستې د راکولو په سر خپل حکومت ته په دغسې تینګو الفاظو سپارښتنه کړې وي - دغسې سپارښتنې یې له شکه د ژنیو په راتلونکو خبرو کې د امریکې د حکومت د پرځ د شوروي په برابرکې په کافي اندازه تینګ کړي او د امریکې د باندینۍ چارو د وزارت هغو مامورانو د پاره چې د شوروي په مقابل کې د نرم چلند

پلویان وو، نا ممکنه وګرځوله چې « افغان مجاهدین » یوازې پریږدي .

# د ژنیو وروستۍ خبرې ، دولسم پړاو

د ژنیو خبرې له انتظار سره سم د ۱۹۸۸ کال د مارچ په دوهمه پیل شوې . خبرې دېخوا په شان پټې کیدلې . بي بي سي د مارچ په خلویښت کومه دووینه له خولې څرګنده کړه چې په تېرو درېیو وړځو کې په خبرو کې « مهم پرمختګ » شوی دی ، او دی هیله ګڼي چې پاتې ناحل تکي به هم زر حل شي . خو په بله وړځ د امریکې حکومت ، د سنا د سپارښتنې له مخې د لومړي ځل دپاره په ډاګه کړه چې تر څو مسکو د کابل رژیم ته وسله ورکوي امریکا به پې هم مجاهدینو ته ورکوي ، او کله چې شوروي په کابل رژیم باندې وسله بنده کړي - امریکا به پې هر په مجاهدینو باندې ودروي . په دې دول د ائتلافي حکومت به باب د پاکستان په تینګار برسېره ، چې لا تر اوسه پرې موافقه نه وه شوې ، د اختلاف بل تکی څرګند شو ، او جدي وښول شو ، چې دهغوی په نتیجه کې د ژنیو دغه پړاو خبرې چې شپږ اونۍ پسې اوږدې شوې ، تر هغې پړاو خبرو نه پې نږدې وې په تېره وړځې ، او په ځله دغسې حال ته ورسېدلې چې نږدې وې په تېره وړځې ، او ناکامې شي .

د مارچ په پنځمه د کابل رژیم د باندینو چارو وزیر چې د ژنیو پخبرو

کې دهمدغه رژیم د هیئت سروال و ، څرګند ه کړه چې له افغانستان نه
به د شورويې پوځ په نهو میاشتو کې ووځي ، او نیمایي برخه به یې په لومړیو
درېو میاشتو کې ووځي - وروسته یې په اسلام آباد کې د پاکستان صدر اعظم
جونیجو د خپل ملک د اپوزیشن مشران وبلل ، او د ژنیو د خبرو په باب
له هغوی سره د وړاندې جرګه شو - د دغو مشرانو د ویناوو اساسي ټکی
حکومت ته د سپارښتنې په دول داشو چې په داسې حال چې په افغانستان
کې د ملګرو حکومت باندې تېنګار وشي ، تر څو په هغه مهال د شورويې
پوځ له ټولو نه ډېر ستونزمن او افغان مهاجرین ستنیدل یقیني وګرځي ، د —
پاکستان حکومت د پاره بنسټیز ژنیو په خبرو کې دغسې درېځ غوره نه کړي
چې په هغه سره د غه خبرې نا کامې شي . د غې محتاطې سپارښتنې معنا
دا وه چې شورويه ته باید دغسې پلمه په لاس نه شي ، چې د خپل پوځ د
ایستلو نه وروسته . خو په عین حال کې په لندن کې د ډیوې تلویزیوني مرکې
په ترڅ د پاکستان خارجه سکرتر څرګنده کړه چې د ژنیو خبرې په هغای
ولاړې دي په دې چې « هغه بله خوا د انتقالي حکومت د فکر په باب
فکر کولو ته هم حاضره نه ده . » په همدې لړۍ زرین نورانی کله چې د ژنیو
نه اسلام آباد ته بېرته راغی ، یعنې څه وخت چې یې د خپل حکومت نه نوې
هدایتونه تر لاسه کړي وو ، د مارچ په لسمه د خپل حکومت پخوانی درېځ
بیا په تېنګه څرګنده کړه او ویې ویل چې د پاکستان دپاره د مـوقتي
حکومت د جوړېدلو موضوع د ژنیو د موافقې د لاسلیک له کېدو په

اندازه مهمه ده .

څرګنده وه چې د څېړنيو په خبرو کې پرمختګ نه کېده ، که څه هم دغه ځل په څېړنيو کې دلوړې ځل د پاره د امريکې د حکومت خاص استاځي رابرټ پيک او د شوروي د حکومت فوق العاده سفير نيکولای کوزيروف د خپلو هيئتونو په سروالی په څېړنو کې ښکته شوي وو ، او هغه دوين له هغوی سره د ضرورت په وخت کې کتل . د مارچ ترپوولسمې پورې د څېړنو خبرې په ځای ولاړې وې او ګمان نه کېده چې د وعدې له مخې د مارچ په پنځلسمه پای ته ورسيږي . نيکولای کوزيروف يوځل بيا په يوې مطبوعاتي مرکې کې څرګنده کړه چې د موقتي حکومت د جوړېدلو موضوع د شوروي پوځ د ايستلو په موضوع پورې تړلې « دافغانستان کشاله پېچلی کوي » کوردوين د مارچ په يوولسمه د پاکستان او کابل رژيم له استاځو نه وغوښتل چې د خبرو د جدي رکود د له مينځه وړلو د پاره له خپلو سره يوځای حکومتونو څخه نوي هدايتونه تر لاسه کړي . خو په هغه وخت د امريکې د باندنيو چارو وزارت يوويندوی چارلز ريډمين د شوروي د حکومت هغه ادعا رد کړه چې ويل يې حق لري د کابل رژيم ته حتی وروسته له هغه چې په مجاهدينو باندې د امريکې وسله هم ورډوله شي وسله ورکړي . هغه وويل « شورويان .... ددې ادعا نه شي کولی چې حق لري يوې دلې ته کومک ورکړي بس په دې چې هغه ځان ته حکومت وايي . » د هغه په قول « د غه تش په نامه حکومت

یولزي یوه ډله ده نه ترهغه زیاته اودغه ټول جنګ دهمدغي موضوع په سر دی . »

دمارچ پنځلسمه یعني موافقي ته درسیدلو تاکلي نیټه ټپه شوه. او د ژنیو خبري هماغسي په تپه ولاړي وې . په مسکو کې د باندنیو چارو وزارت ویندوی ګراسیموف وویل چې « خرګنده ده چې که د موافقي نیټه وروسته وغوړځوله شي د شوروي پوځ ایستلو ډیل نیټه به هم وروسته وغوړځوله شي » خو یوه ورځ د همدغه وزارت یوبل ویندوی وادیم پرفیلیف خرګنده کړه چې که ژنیو موافقه لاسلیک هم نه شي شوروي به خپل پوځ له افغانستان نه وباسي - ده زیاته کړه چې « مونږ به یې پخپله وکړو . او مونږ خپلې اړتیاوې او د (پوځ) د ایستنې شکلونه په خپله تاکو . »

د ناکامۍ سوري په ژنیو کې دملګرتیا په مانا باندې خوښکار بیده، خو کومه دوویم لاهم دا ده چې د یوې تینګې موافقي د پاره نه دیوې سطحې او غیر مسئولې موافقي د پاره کوښښونه روان دي . ده دا هم وویل چې « مونږ له سخت کسالو سره مخامخ شوي یو ، خو مونږ خپل کار کوو، او د حل لارې لټوو . »

## د موافقي په لور پرمختګ

د خواشینۍ په همدغه مهال کې و ، چې زمین نوراني دغسي یوه

څرګندونه وکړه چې له هغې نه نړۍ ځلاوې برېښېدې - خبرلوغوته
پې څرګنده کړه چې « پاکستان په د ټرنیو د موافقې لاسلیک کول حتی
دیوې وړې چې د پاره هم تال نکړي ، خوچې زمونږ دوه اند یښنې لپرې شي.»
دده په قول اند یښنه په افغانستان کې د موقتي حکومت د جوړېدلو
په منظور د مولو نوا و طرزالعملونو تمامول دي - ده وویل چې دغه
پروسه اوس هم پیل کېدلی شي ، او د موافقې تر لاسلیک کېدو وروسته
هر اوږد ېدلی شي - د نورانۍ له دغې ناخرګندې وینا نه داسې نتیجه ایستل
کېدلی شوه چې د ائتلافي حکومت د جوړېدو په باب ، یا په دقیق ډول
د هغه د جوړېدو د وخت په هکله ، د پاکستان د حکومت په درېځ کې څه
توپیر راغلی - لکه چې ولیدل شو ، نورانۍ تر اوسه تینګار کاوه چې د تړون
فقاتو تر لاسلیک کېدو نه وړومبی دې په افغانستان کې د غسې نوې
قانوني حکومت مینځ ته راغلی وي چې ټولو افغانانو ته منلو ور وي . معنی
دا چې د نجیب الله حکومت دې د ټرنیو د موافقاتو تر لاسلیک کېدو نه د
مخه رنګ شوی وي ، او س په دې فکر شکار ېده چې کېدی شي غسې
حکومت د تړون فقاتو تر لاسلیک کېدو نه وروسته مینځ ته راشي . په بل
عبارت د ږین نورانۍ په فکر ، هم لکه د امریکې د نظر په شان ، د شورې
قواوو وتنه تر هر بل څه مقدم وګڼل شو . ږین نورانۍ طبعاً په دې
وخت کې ونه وېل چې دغه تغییر د چا په ټوسنت پادستوړ راوستل
شوی ، خو وروسته له دې چې د جونېجو حکومت د جنرال ضیاالحق

له خوا رنگ شوی و، دجون په نهمه یې په اسلام آباد کې په یوې مطبوعاتي مرکې کې « د پردې شاته مانوږو اوخندونو » ته اشاره وکړه. دایې هم وویل چې د پاکستان موجود حکمرانان یې په ده باندې دژنیو د توافقاتو پرمس اوهم داچې ده له شوروي سره د پاکستان د دوستۍ داریکې د پاره - اساس برابر کړی دی، هیڅکله لطف ونکړي. ( مسلم، ۱۰ جون ۱۹۸۸ ) دده « د پردې شاته خندونو » ته اشاره شاید دارمند هم رسول ته وي چې د څه یې یادونه وشوه - دژنیو نورانی په فکر یله اند ښکنه په افغانستان کې دواړو د ښمنو خواو ته د وسلو د متناظر او متناسب کولو اصل و- دده په فکر مسکو او واشنګټن باید په دواړو خواو باندې وسله بنده کړي - ده زیاته کړه چې « موږ د موافقې د لاسلیک کیدو مسئله په کابل کې د موقتي حکومت د جوړیدلو له موضوع نه بیله کړې ده » سږ له دی هم عبدالوکیل د کابل رژیم استاځی پاکستان په دې تورن کړ چې د ژنیو په خبرو کې نوې کشالې برسیره کوي او موافقه خندوي دوه ورځې وروسته ترهغه د شوروي د بهرنیو چارو وزارت یوه ویندوی دغه تور تکرار کړ او امریکایي یې هم تورن نه کړه. په عین حال کې عبدالوکیل په تېرو ورځو سره وویل چې د ده حکومت به د ژنیو ترموافقې وروسته هم، کله چې لاس لیک شي، دتل پاره له شوروي نه وسلو اخیستلو ته دوام ورکړي نورانی دهغه په مقابل کې څرګنده کړه چې « له مداخلې او لاس وهنې څخه د دې کولو ژمنه په یوه هېواد کې د نه دګډوډۍ او نارامۍ د پیدا کولو

په مقصد له تجهیز انو او وسله تهیه کولو څخه د دې کولو وجیبه لازمۍ ۰۰»
ده زیاته کړه چې «که په افغانستان کې له څو ډلو یا توکمیز څخه یې یې
باندینۍ وسلوا خیستلو ته دوام ورکوي - او بل یې ترینه محروم ګرځول
کیږي، هغه به له دغه پرنسیب سره متناقض وي ۰۰» د مارچ په اویمه
د امریکې د باندینۍ چارو د وزارت یو ویندوی هم د تورن کولو په یوې
محکمې کې څرګند شو، مسکوپي د یوځ ایستلو په ځنډولو نې توهتي کړ،
او په دې یې تورن کړچې دنا حل شویو موضوعاتو په باب جدي نه دی.
ده دا هم وویل چې شوروي په دې بسه پوهیده چې د جامعې فیصلې او
حفاظت په قرینه کې د یوځ د پورې ایستلو له زمنې نه غیر موافقه ممکنه نه ده.
برسېره پر دې ده وویل چې د شوروی له خوا د یوځ ایستنې نیټه پخپل
سر او تصنعي ده. په پای کې یې څرګنده کړه چې له دې چې د تضمین
کوونکو په رول مفاهم راشي «موږ به ترهغو مجاهدینو ته نظامي
مرستې ورکوو تر څو موافقه پورې دقناعت ورړوي، او د کابل رژیم
ته د نظامي مرستې په توقف کې د متناظر اصل (Principle of Symmety)
مراعات وشي ۰۰»

د یوې او بل تورن کولو او ملامت کولو دغه حال د شوروي اختلاف
نښې وې او ځینې مبصرین لا په دې فکر کې شول چې څه نیو خبرې نور
نوناکامي دي مګر کوردوین په دې فکر نه وو. او وین دی دهغو خبرو
نتایجو ته په انتظار وو چې د مارچ په ۲۴مه په واشنګټن کې د جارج شلتز

او شیوارنادزې ترمینځ د سولې د آینده جرګې د تیارۍ نیولو د پاره پیل شوې وې ، او هلته د دوی له خوا د افغانستان کشاله هم تربحث لاندې نیوله کیده .

# په واشنګټن کې د شلټز او شیوارنادزې کتنه

جارج شلټز په دغو خبرو کې شیوارنادزې ته پیشنهاد وکړچې سکو او واشنګټن دې د کابل رژیم او مجاهدینو ته د کشالې د هوارولو په مقصد د درې میاشتو په بهیر کې له نظامي مرستې ورکولو څخه ډډه وکړي . خو مقابل لوري یې په بله ورځ په یوې مطبوعاتي مرکې کې دغه پیشنهاد ونه مانه او څرګنده یې کړه « د شوروي حکومت د افغانستان په مقابل کې یوه وجیبه لري او دغه وجیبه د یوې معاهدې له مخې ده . » ده ۱۹۲۱ کال هغه معاهده په نظر کې لرله چې د امیر امان الله خان او شوروي حکومت ترمینځ لاسلیک شوې وه . خو د عرابي په قول ( مسلم ، د اپریل ۲۴ ، ۱۹۸۸ ) « دغه تړون دغسې کومه ماده نه لرله . » په هرحال اوس په شیوارنادزې څرک په دې قانع کړي چې د امان الله خان حکومت قانوني و ، او د کابل دغه اوسنی رژیم غیر قانوني ، او څنګه چې تر هرچا زیاته ده ته څرګنده ده چې هغه روسي پوځ په ځای د رولی او هغه د افغانانو نماینده نه ، بلکه په کابل کې پخپله د دوی

نماینده دی ، اودغه ټول جاري جنګ د دوی د دوامورپرضد
دی . شپلدنادزي په عین حال کې دیوې پوښتنې په ځواب کې له
دښمنۍ څخه ډکه چې هغه وعده تکراروي کومه چې د شوروي یوه
نظام د ملګرتیا وه ، او پکې یې ویلي وو چې که په ژنیو کې موافقه هم
لاسلیک نه شوه شوروي به خپل پوځ له افغانستان نه وباسي . هغه
نظام پرفلیف ، چې د هیئت غړی و ډډه د وعدې په باب دیوې پوښتنې
په مقابل کې وویل چې هغه رسمي وینا نه ، بلکه ډډه شخصي وینا وه .
د غه موضوع ځکه یوشه مهمه شوې وه چې د امریکې د باندنیو چارو
وزارت یوه ویندوی چارلز ریډمایر دمارچ په اتلسمه د هغې وعدې
هرکلی کړی و اوزیاته کړې یې وه چې کوم وخت چې شوروي پـه
افغانستان ټینګ کاوه ، د ژنیو موافقې ته یې اړه نه حس کوله ، اوس
هم د ژنیو په موافقې پورې اړه نه لري چې خپل لښکري له افغانستان نه
وباسي . خو ده وویل چې امریکا عقیده لري چې دا به غوره وي چې که د
پوځ دایستنې دپاره یومنظم اساس جوړ شوی وي ، هغه به د شوروي
په شمول د ټولو په ګټه وي . مقصد دا چې د شولتز او شیوارد نادزې
په دې وروستۍ جرګې کې د ژنیو د خبرو ترکود په باب څه پرمختګ
ونه شو . خو په ژنیو کې زین نورانې د دې پاره چې د ژنیو خبرې په ټپه
درېدلې ونه برېښي د یوې پوښتنې په ځواب کې څرګنده کړه چې « موږ
خبرو ته دوام ورکوو او معنی یې داده چې هغه ژوندۍ دي او د نتیجې

رسېدلو د پاره تل هيله شته .» بايد وويل شي چې دوسلو متناظر اصل او د موقتي حکومت موضوع د ژنيو د غلو رګونو سند وښي برخه نه وه . د زين نوراني په قول « هغه زمونږ اند پسنې دي چې بايد د غلو رګونو سند وښه نه د باندې له مينځه لاړې شي . »

# دوسلو په مثبت متناظر اصل ټينګار

د ژنيو خبرې په واقع کې په ځای ولاړې وې ، خرنا کامې هم نه وې. د مارچ په اوومه ويشتمه زين نوراني يوځل بيا څرګنده کړه چې د شورۍ له خوا د متناظر پرنسيب نه منل د موافقې د لاسليک کولو د پاره يواځنی خنډ دی. د ده په قول « هغه څه چې د ژنيو د موافقې د لاسليک کېدو مانع ګرځي هغه د شورۍ نا آماده ګي ده چې د دواړو تضمين کړونکو مساوي او دوه اړخيز رول ومني . » برسېره پردې ده څرګنده کړه چې « په هغه شيبه چې هغه ( د شورۍ آماده توب ) وښوول شي ، قلم مې راسره دی ، او لاسليک به وکړم . » په پای کې ده يوځل بيا په ضمني ډول يوځل تکی څرګنده کړه او ويې ويل چې « ترهغه ځايه چې په پاکستان پورې اړه لري مونږ کوردوين ته خبرورکړې چې غلو د واړه سند ونه پوره شوي دی ، او مونږ په دغسې حال کې يوچې سند ونه لاسليک کړو . » له دغې وينا نه څرګنده وه چې پاکستان نور نو د ژنيو تر موافقې کېدو نه د مخه په کابل کې د انتقالي حکومت د

جوړېدو فارمول په عملي کېدو تېنګ نه و ، لکه چې د مخه امریکایي
ملیونر ارمند همر له خپلې نه یادونه شوې وه ، جنرال ضیاالحق د
رونالډ ریګن په تیلفوني راډیني له دغې موضوع نه د اوس دپاره تېر
شوی و . څرګنده وه چې له افغانستان نه د شوروي د پوځ ایستنه
تر نورو تولو اړوندو ټکو مقدمه ګڼل شوې ده - په هرحال اوس نو
یوازې دوسلو په متناظر اصل باندې تېنګار کېده - دغه اصل ګرځه
هم د ژنیو د څلورګونو سندونو ګومه برخه وه ، خو پاکستان
او امریکا دواړه وربانديې پوره تېنګ ولاړ وو .

اوس نو څرګنده وه چې که ژنیو ته له کریملن څخه شنه نښه
ونه رسیږي ، د خبرو د بریالیتوب هیله به د براس په شان پورته هوا
ته والوزي - لیونډیکوف د کریملن د دوهم قوي شخص ، د امریکایي
نیوز ویک مجلې سره په مرکې کې ، چې د مارچ په ۲۸ مه د راډیو ګانو
له لارې نړۍ ته والوته رسوله شوه ، ویلي یې وو چې « موږ څرګنده کړې
چې غواړو خپلې لښکرې وباسو ، نه د دې دپاره چې څوک خوښ وګرځوو ،
بلکه د دې دپاره چې د افغانستان او شوروي اتحاد ولسونو تر مینځ
نورمال اړیکې مینځ ته راوړو . » برسېره پردې چې دغه وینا د پر-
نسیب وبیاوه ، یعنې مشخص څه یې نه لرل ، په ضمني ډول د دې
اعتراف وچې د کابل اومسکو تر مینځ موجود اړیکې نورمال نه دي .
البته دا خو بېله اوښتګنده خبره وه چې د هغو جنایتونو له امله چې د

کریملن واک لرونکو د سیاست په وجه په تیرو نهو کالونو کې په افغانستان کې شوې خدائ خبرې د روس او افغان ولسونو ترمینځ اړیکې ترقیامتر پورې هم نورمال شې . روسانو دانفانانو درستې دلتل د پاره له لاسه ورکړې ، خو د حاضر وخت د پاره د ژنیو خبرو په ارتباط دغه وینا یوه بنه لنبه وګنل شوه -

# ژنیو خبرې او د مجاهدینو اتحاد

په دې حال کې د مارچ په ۲۸ مه انجنیر ګلبدین حکمتیار چې د مارچ په پنځلسمه د مولوي محمد یونس خالص په ځای د درې میاشتو د پاره د اوه ګوني اتحاد نوبتی سروال تاکل شوی ؤ ، د خپلو پخوانیو مکررو انتقادونو په لړکې یوځل بیا په شدت سره د ژنیو خبرې رد کړې - ده په خپلې وینا کې په ضمني دول دښتر هم اشاره وکړه چې پاکستان حق نلري چې د افغان مجاهدینو نمایندګي وکړي ، څرګنده یې کړه چې مجاهدین به هیڅ هغه موافقه ونه منې چې دوی پکې برخه ونه لري او دوی به تولپانیزه ته ثابته کړي چې د مجاهدینو له رضایت نه غیر د دوی د وطن افغانستان په باب هیڅ راز موافقه عملي کیدلی نه شي .

خو دیوه ټکي په سر د حکمتیار نظر د پاکستان د حکومت له

نظر سره ورته و. ده وویل چې د څېنیو موافقه دې ترهغو لاسلیک نه شي، ترڅو په افغانستان کې جنګ احتمال د تل د پاره له مینځه تللی وي. د ده په نظر داهغه وخت ممکن کېدلی شي، چې د غسې قوي حکومت مینځ ته راغلی وي چې وکولی شي بین المللي موافقې عملي کړي، او د مهاجرینو دستنیدو د پاره شرایط برابر کړي. خو د ده په نظر یوازې د مجاهدینو اسلامي حکومت د غسې څه کولی شي. په پای کې ده سپارښتنه وکړه چې پاکستان دې د فشار له لارنه د "څېنیو نیمګړې موافقه" لاسلیک نه کړي، مګر داچې هغه د عادلانه پایښت لرونکی، او عملي حل لارولري. حکمتیار یوځل بیا خپل همیشنی - اخطار صادر کړچې مجاهدین به ترهغو جنګ کوي ترڅو روسي روسي عسکر له افغانستان څخه نه وي وتلی.

دلته د دې وېل لازمي دي چې مولوي محمد یونس خالص په ظاهر کې د ناروغۍ په پلمه د اتحاد له سروالۍ نه ځان ګوښه کړی و. خو د اخبره عامه شوې وه چې دی د اتحاد له خوا څېنیو ته د دغسې هیئت له استولو سره مخالف و چې په خبرو کې به د ګډون حق نه لري، او بس د تخنیکي معلوماتو د راکولو د پاره به چرته د انتظار په کوم سالون کې ناست وي. همدغسې هم وشول خو په دغه توپیر چې په څېنیو کې دغه هیئت هیڅ چا ونه پېژنته

# د شوروي حکومت نوی حیرانوونکی ډیځ

د مارچ میاشت مخ په خلاصیدو وه ، او د ژنیو خبرې داوبو د ډنډ په شان په ځای ولاړې وې . خلک هماغه د وسلو متناظر اصل و ، چې د کریملن لویانو یې د ملي دپاره غاړه نه ایښوده - د کریملن لویانو په دغه حال کې ، لکه چې د مخه یې هم د توقع په خلاف څوک له په حیرانوونکي کار لاس پورې کړی و ، بیا هم په دغسې حیرانوونکي کار لاس پورې کړ ، چې کنه یې تبینګار یې کړی وای ، د ژنیو د خبرو بنه به پوه اوښتی وای ، او حتی ناکامه شوې به وای - شیوارد نادزې د بلغارې په خپل سفر کې په صوفیې کې د مارچ په ۲۹ مه د افغانستان د کتالې په باب په یوې اوږدې وینا کې څرګنده کړه چې « په یقین سره دا به ښه وي چې هغه ( امریکا ) تضمین کوونکی وي - خو زه وینم په فکر دا پوره ممکنه ده چې د امریکې د تضمین نه غیر هم هغه لاسلیک شي ، په دې چې دغه سیمه په جغرافیوي لحاظ له امریکې سره هیڅ تړلې نه ده - په دغه حال کې فیصله به په دغه شکل وي : څنګه چې سندونه د شوروي پوځ د وتلو په باره کې دي ، د افغانستان ، پاکستان او شوروي له خوا به دوه اړخیزه توافقات لاسلیک شي .» شیوارد نادزې

له هغه وروسته د اپریل په لومړۍ دخپل نوي دیڼ د پیاوړي کېدلو د پاره د اسې دلیل راوړ چې امریکا به یوې غیر حکومتي مؤسسې ( مجاهدینو ) ته د وسلو په ورکولو سره چې د ملګ قانوني حکومت یې یا نې بولي د افغان د کشالې یوه برخه شي، چې بیا به دیوه تضمین کوونکی په توګه عمل ونه کړي شي .

د شیوارډنادزې د دغه نوي دیڼ معنی څرګنده وه - شوروي لوبانوغوښتل له افغانستان څخه خپل پوځ بیرون کړي ، خو د دې د پاره چې د افغانستان پوره له لاسه ورکول ممکن د نه نه په شوروي کې ناراضیان ، غیر روسي ملیتونه ، او د ختیڼې اروپا تابع ملکونه د - کریملن د دندو لاسونو په مقابل کې د فعالیت د پاره وهڅوي ، دوی په دې تمه ګ وو چې هرڅنګه چې کېږي د کابل رژیم باید په وسلو سره په ځای وساتل شي ، او خپل درانده لاسونه په افغانستان باندې پرله نظامي موجودیت نه تل خواره وساتي ، او که امریکا د ژنیو د توافقاتو تضمین کوونکی نه وي ، په هر راز توافق سره به شوروي تر هر بل ملګ نه زیات په افغانستان موثروي - خو څرګنده وه چې د اسلام - آباد او واشنګټن د کریملن د دغه نوي دیڼ د منلو د پاره تیار نه وو. زین نورانې د شیوارډنادزې دغه پېشنهاد زړه په غوښه ردکړ. ده څرګنده کړه چې په اصل کې همدغه شوروي و چې امریکا یې دیوه تضمین کوونکی په توګه پېشنهاد کړه ، او له هغه وروسته د ژنیو

سندونه په دغه دول ترتیب شول چې که اوس یو تضمین کوونکی ترې نه وایستل شي، په ټولو سندونو باندې باید له سره خبرې وشي، او په دې دول د ژنیو د پروسې ټوله طرح به راوړې - نورالی وروسته تر هغه د اپریل په لومړۍ د وسلو د متناظر او متوازن اصل په باب یو ځل بیا وویل چې دغه اصل « باید متوازن وي، او هغه په دوه دولسه کېدلی شي - یا باید دوی ( امریکا او شوروي ) نظامي مرسته بنده کړي - یا بله متوازنه لاره داده چې دواړه یې ورکړي . »

جارج شلتز هم په همدغه فکر و - د اپریل په لومړۍ یې څرګنده کړه چې په افغانستان کې سوله هغه وخت خوندي کېدلی شي چې مسکو او واشنګټن دواړه په افغانستان کې جنګ کوونکو دلوته د نظامي مرستې په متوازن اصل جوړه وکړي . د ډاهم وویل چې « موږ باید خارواوسو چې له هغو سره چې موږ یې ملاتړ کوو، په برابر دول چلند وشي . » خو په ژنیو کې د شوروي خاص استاځي نیکولای کزیروف وویل چې شوروي دغسې پېشنهاد نه شي منلی چې په افغانستان کې مخالفو دلوته د نظامي مرستې په متوازن اصل بناوي. د خپل د حکومت نوی درېځ یې یو ځل بیا څرګنده کړه چې شوروي اتحاد به د هغه له مخې بې د امریکې له تضمین نه د ژنیو توافقات لاسلیک کړي - ده لا د مخه د ماچ په د برشمه څرګنده کړې وه چې کابل حکومت ته د نظامي مرستې « بندونه د بحث د پاره خلاصه نه ده، هغه

ممکنه نه ده .» په دې دول د ژنیو په خبرو کې دوهم خنډ پیدا شو
او کورډوویز د اپریل په لومړۍ ورځ په دې فکر شوچې د شپږو کالو
د خبرو په بهیر کې دادی اوس هغه وخت راورسیدلی دی چې د
افغان فیصله به یا برپاله او یا ناکامه شي .

# کابل ته د شپږمې نادزي ناڅاپي تګ

شپږمه نادزي د اپریل په دریمه په ناڅاپي دول کابل ته لاړ. دې
دغه سفر د افغانستان د کشالې په باب د شوروي د سیاست باب
دکوم تغییر خارجې نښه لیدله . د نیویارک تایمز په قول هر وخت
چې د شوروي د باندنیو چارو وزیر کابل ته تللی د افغانستان په هکله
د شوروي په سیاست کې څه بدلون راوستل شوی دی . په ژنیو کې
شله خبرو څوته د کوزیروف د ځنډ ګډونې چې « مشکله ده ویل
شي چې ایا شوروي اتحاد به خپل درېځ وساتي » د غسې یو امید
هروړکړی و . په همدغه مهال کې په مسکو او واشنګټن کې دپلو-
ماتیکې فعالیتونه زیات شول . دغه وخت د ژنیو د خبرو پنځمه
اونۍ وه .

شپږمه نادزي کابل ته د رسیدلو په وخت کې څرګنده کړې
غواړي د ړیم له مشرانو سره د افغان د کشالې د سیاسي فیصلې په

باب خبرې وکړې - ده وویل چې د پاکستان او امریکې د نه همکارۍ چلند سختی ستونزې رامینځ ته کړې دي ، او اوس لازمه ده چې نورې لارې چارې ولټولې شي - ده دا هم وویل چې د ژنیو د موافقې د ناکامۍ په صورت کې به مسکو د خپل پوځ د ایستلو په سر ممکن له کابل سره موافقه وکړي . دوه ورځې وروسته د اپریل په پنځمه د شوروي رسمي اژانس تاس په همدغې روحیې یوه بله خرګندونه خپره کړه او وې ویل چې د ژنیو د خبرو د ځای په ځای د ریډیو سره سره له افغانستان نه د پوځ ایستلو په باب د شوروي اتحاد « سیاسي فیصله » لاهم د اعتبار وړ ده . د تاس په خرګندونې کې دا هم ویل شوی وو، چې که اسلام آباد په داسې حال کې چې امریکا تضمین کوونکی نه وي د دوه اړخیزو توافق کولو نه ډډه وکړي شوروي به « د یوې بېلې افغان-شوروي موافقې په اساس چې د افغانستان او شوروي اتحاد له ګډو سره به سر خوري ،، خپل پوځ له افغانستان څخه وباسي . شیوارډنادزې او نجیب الله د اپریل په شپږمه په کابل کې د غه خبره تائید کړه، چې که په ژنیو کې موافقه وشوه، یا ونه شوه د شوروي پوځ به له افغانستان څخه بیرون کړل شي . پراوډا ، د شوروي د کمونست ګوند ورځپاڼې له کابل نه په یوه رپوټ کې خرګنده کړه چې « که د ژنیو پروسه د لازمي توافقاتو په لاسلیک کولو سره پای ته ونه رسیده ، شوروي اتحاد او افغانستان

به د خپلو ملي ګټو له مخې په عمل لاس پورې کړي . "

په هغه وخت کې د دغو خرڅلنډونو پورې اهمیت ته چنډان پام ونه شي، کړهم هغه د " ملي ګټو " په بناوې، نه د معمول په شان دانتونیشلستي همکارۍ په اساس. خو په واقع کې کابل ته د شیوارډنادزې تر ټنګ نه د مخه شوروي واکمنو د امریکې په ټینګار سره د وسلو د متناظر اصل ته چې د ژنیو د فیصلو یواځنی پاتې خلو، غاړه اینبي وه، او پخوا له دې چې ښکاره یې کړي، لاړې وه ته هوار وله .

شیوارډنادزې په کابل کې کوښښ کاوه نجیب الله په دې قانع کړي چې د شوروي پوځ ایستلو ته غاړه کښږدي. نجیب الله بله چاره نلرله، مګر دا چې هغه ومني - خو په دې یې ټینګار وکړ چې د شوروي ملاتړ دې وساتي، او دغه دا دینه پخپله ګورباچوف ده ته وکړي .

## نجیب الله او ګورباچوف په تاشکند کې

شیوارډنادزې او نجیب الله د اپریل په شپږمه تاشکند ته لاړل او هلته په بله ورځ نجیب الله او ګورباچوف چې هغه هم له مسکو نه هلته تللی و، سره ولیدل . د مطبوعاتي خبرونو له مخې ګورباچوف نجیب الله ته څرګنده کړه چې د شوروي پوځ نه غیر دې خپله چاره وکړي، خو دې کولی شي د پنځلسمې نه د مخه چې په دغه ورځ به د پوځ

په ایستلو پیل کیږي، د شوروي په ښې زیاتې نظامي مرستې سره
وکړي. تر هغه وروسته به هم په سخته پریمانه وسلې ورته استولې کیږي
په همدې ورځ یعنې د اپریل په اوومه دوابه یوې ګډې اعلامیې کې د
نورو تکو په ترڅ کې څرګنده کړه چې د ژنیو د خبرو په هکله « ورته
خنډ له مینځ نه وړل شوی دی، » او د ژنیو د توافقاتو د لاسلیک
کېدو د پاره بل مانع وجود نه لري، د همدغې پنجشنبې په ورځ پرمسکو
کې د باندنیو چارو وزارت په یوې ویناکې مشخصه کړه چې د شوروي
او امریکې ترمینځ د وسلو د متناظر اصل په باب موافقه شوې ده - په
هماغه ورځ تر دغو دوارو څرګنده ونونه لاد مخه په اسلام آباد کې
د پاکستان مشر جنرال ضیاء الحق د پارلمان یوې ګډې غونډې ته
هدغه زیری ورکړی و او وکیلانو د غه زیری په دریې خوښی سره
بدرګه کړی او په همدغه ورځ د امریکې د حکومت یوه ویندوی څرګنده
کړه چې د شوروي حکومت د امریکې هغه فارمول منلی چې په هغه سره
به د ژنیو خبرې بریالې شي. کومه دوویمه په بله ورځ یعنې د اپریل په اتمه
څرګنده کړه چې اوس د افغانستان د کشالې د حل په باب تړل سندونه
تکمیل شوي او د لاسلیک کېدو د پاره تیار دي، او د جاري میاشتې
تر څوارلسمې به لاسلیک شي.

. . .

# دوسلوپه متناظر اصل د امریکې د حکومت تینګار

موضوع سره له دې هم چې پوره څرګنده او تثبیته نه وه - په امریکې کې له مطبوعاتي لیکنو نه پرته رسمي څرګندونه نه وه شوې - د اپریل په یوولسمه جارج شولتز د امریکې په سپینې ماڼۍ کې په دغه باب خبرپالانو ته په دغو الفاظو وینا وکړه « اوس ترهغه ځایه چې د امریکې په ژمنو پورې اړه لري ، موږ په تینګه ویلي دي چې پخوا له دې چې موږ تضمین کوونکي شو د تضمین کوونکو ژمنې باید د متناظر اصل له مخې وي - زموږ غوره شوې لارې څخه زموږ او د شوروي اتحاد له خوا دغسې تعهد وچې دهغه له مخې موږ هریو په افغانستان کې خپلو دوستانو ته ( دوسلو ) د ورکولو حق ولرو ، خو موږ به دغو دوسلو په هکله دیوې تاکلې مودې د پاره بندیز ولګوو خو دوی ( شوروي اتحاد ) غوره وګڼله چې دغه فکر وسې او همدا موږ په باور سره په افغانستان کې خپلو دوستانو ته خنګه چې موږ یې غواړو ورکړو ( دوسلو ) د ورکولو حق سانتو - او زموږ دضرورت احساس برې هغه احترازي سره متناظر کړي چې موږ یې په شوروي یانو کې وینو .» په بله وینځ د امریکې د بهرنیو چارو د وزارت ویاند چارلز ریډمن په

افغانستان کې دواړو مخالفو خواوته د امریکې او شوروي له خوا د وسلو ورکولو موضوع لاهم مشخصه کړه او ویې ویل چې د دواړو حکومتونو ترمینځ « د دغې خاصې موضوع په هکله لا د مخه لیکونه مبادله شوي دي ... او دوی ( شوروی اتحاد ) موافقه کړې چې د همدغه تفاهم له مخې په ژنیو کې د مخه ولاړشي . » ده اضافه کړه چې « دوی ( شوروي اتحاد ) دغه راز حال چې سره پرې جوړ راغلي، او اوس پرې وغږیدو، غوره بولي . » د سپینې ماڼۍ وینداوی فتنر وانتر په قول شپږ ورځې دا پریل په نهمه نیټه یوه لیک کې په افغانستان کې جنګ کوونکو دلوته د نظامي کومک ورکولو په باب د هر ټکي روښانه کړي وو . د هغو رکنې او کلیدی ټکی دا دی چې د هغه له مخې به امریکا مجاهدینو ته تر هغو وسلې ورکوي تر څو شوروي یې د کابل رژیم ته ورکوي - جمهور رئیس ریګن د اپریل په یوولسمه د ملګرو ملتونو په مینځګړیتوب د ژنیو د موافقې په باب چې د هغه له مخې به شوروی خپل پوځ له افغانستان څخه وباسي ، خپل ملاتر څرګند کړاو ویې ویل چې « زما په فکر امریکا اوس د ژنیو د سند ونو د تضمین کوونکی په توګه له شوروي سره ګډون کولی شي . » د غه وخت تاکلی شوې وه چې د ژنیو توافقات به د پنجشنبې په ورځ د ۱۹۸۸ کال د اپریل په څوارلسمه د ۱۳۶۷ د حمل په ۲۵ مه لاسلیک کیږي .

.....

# توافقات او دهغو لاسلیک کېدنه

په تاکلي ورځ د ژنیو د ملتونو په مانۍ کې د افغانستان دکشالي په باب په وقفو کې د شپږو کلونو له خبرو کولو نه وروسته شوي توافقات د ملګرو ملتو د سرمنشي پریز دی کویلار په مشرۍ غونډې کې د پاکستان د حکومت په نماینده ګۍ د زین نورانۍ له خوا، د کابل د رژیم په نماینده ګۍ د عبدالوکیل له خوا، د شوروي اتحاد پـه نماینده ګۍ د شپولړدنادزې له خوا، او د امریکې په نماینده ګۍ د جارج شولتز له خوا لاسلیک شول، البته د ملګرو ملتو د عمومي منشي خاص استازي او د ژنیو د خبرو مینځګړي دیګو کوردوویز هم په غونډه کې حاضر و۔ تول جریان یې دوولس دقیقې دوام وکړ۔ فضا چې په اوسره وه۔ له تلویزوني تصویرونو څخه داسې ښکارېده چې غونډه دوې وې، نه دکومې موافقې اوخونجه ۔ ګډون کوونکي تول خاروار او اندیښمن ښکارېدل۔ خوښ خوښې څه کوې، حتی هیڅ یو یې هم د تظاهراو عکاسانو دپاره موسکی نه و۔ تاسو ویل دلته هغه څه کیږي، چې باید هیڅ وښتي ۔ په مسکو کې د یوه لوړپوړ دیپلومات په قول عبدالوکیل په دغې سرې فضا کې ژېړ دیده، اوخولې یې ماتې وې .

.....

دغه ټول توافقات له څلورو سندونو او یوې ضمیمې یا یادښت
نه متشکل دی دوه شوي تفاهمات هم په هغوکې راځي، خوجزیې
نه دی - لومړی سند یې د "پاکستان د اسلامی جمهوریت" او د "افغا-
نستان د جمهوریت" ترمینځ دیوه بل په هېواد کې د نه مداخلې او
نه لاس وهنې تعهد دی، او دغه تعهد ببخې زیات پراخ او په تفصیل
سره ذکر شوی دی. بل سند یې د امریکې او شوروي له خوا د شوېو
موافقو تضمین دی، په دې عبارت چې دوی "څرنګه کوي چې د
افغانستان جمهوریت او د پاکستان اسلامي جمهوریت په دننیو
چارو کې له هرډول مداخلې او لاس وهنې نه په قطعی ډول ډډه کوي
او د هغو تعهداتو د رناوی کوي چې د افغانستان د جمهوریت او د
پاکستان د اسلامي جمهوریت ترمینځ دوه اړخیزې موافقې د دوه
اړخیزو مناسباتو، په تېره د نه مداخلې او لاس وهنې په باب راغلی
دی،،" او "له نورو دولتونو څخه په کلکه غواړي چې همدغسې وکړي."
دریم سند یې د افغانستان د جمهوریت او د پاکستان د اسلامي
جمهوریت ترمینځ افغاني مهاجرینو ته د خپلې خوښې د ستنیدو
په باب بلل دوه اړخیزه موافقه ده - د دغه سند په لومړۍ مادې کې راغلی
چې "تولو افغانی مهاجرینو ته چې د پاکستان په اسلامی جمهوریت
کې په موقتی ډول دي موقع ورکړه شي چې د هغو ترتیباتو او شرایطو
له مخې چې په دغې حاضرې موافقې کې ذکر شوی دی

په خپله خوښه وطن ته ستانه شي . » په دوهمه ماده کې د افغانستان جمهوریت په لاندې دول مکلفیت منلی دی .

« الف - تول مهاجرین باید مجاز وی چې هیواد ته په آزادۍ سره ستانه شي . »

« ب - تول بېرته ستانه شوي دي د افغانستان په جمهوریت کې دننه دهېشته کېدلو له آزاد انتخاب او د حرکت له آزادۍ نه بهره من وي . »

« ج - تول بېرته ستانه شوي دي له هغه حق نه بهره من وي چې د افغانستان د جمهوریت په مدني چارو کې د برابرۍ له مخې برخه واخلي - دوی ته دې د محکې د حمل په باب د اوبو او د محکې د اصلاحاتو په اساس برابرې ګټې یقیني کړی شي . »

« د - تول بېرته ستانه شوی دی د مذهب د آزادۍ په شمول هغه حقوق او امتیازات اوهم هغه واجبات ولري چې د افغانستان د جمهوریت نور تول مدني افراد یې لري . » په نوروماده کې وطن ته د مهاجرینو د ستنیدو په منظور د ګډو کمیسونونو سره د خاصو توافقاتو کول هم په نظر کې نیول شوی دي .

خلورم سند د افغانستان د کشالې د فیصلې په ارتباط د ژنیو مینځنۍ اړیکو په باب موافقه ده - دغه موافقه هم ، د لومړۍ دوو اړخیزو موافقې په شان ، اوږده اوله مکررا تو نه درلوده - د ژنیو د خبرو

لنډیز هم پکې ځای شوی . د اتو سرګیچه وونکو مادو له جملې نه
ترټولو مهمې پنځمه ماده چې دهغې په یوې برخې کې راغلې چې « د
هغه مهال ویش له مخې چې د افغانستان دجمهوریت او د شورۍ
اتحاد د سوشلستی جمهوریتونو ترمینځ پرې موافقه شوې ده ، د
باندینو لښکرو وتنه به مرحله په مرحله د اوپه هغه تاریخ به پرې پیل
کیږي چې ځنګه چې پاس یې ذکر شوی ( د مې ۱۵ )
نافذ کړځي . دلښکرو ښایي به د اګست ترپنځلسمې ( ۱۹۸۸ ) وځي
او د ټولو لښکرو وتنه به په نهو میاشتو کې ټپره کیږي . »

په ضمیمه یادښت کې راغلې چې د ټولو توافقاتو د ځارنې دنده
به د ملګرو ملتو د سرمنشي دیوه نماینده او د هغه د نظامي نایب په
غاړه وي چې هغوی به ترپنځو سو پوړې نظامي کډوونه او یې
څوملکي ماموران له ځانه سره لري دوی به د ژنیو د توافقاتو له
نافذ کیدو نه ۲۰ ورځې د مخه په کار پیل کوي او د مهال ویش د
ختم نه وروسته دوه میاشتې به هم خپل کار ته دوام ورکوي .

د ژنیو د دوه ګونو تفاهماتو څخه یوې هغه تفاهم دی چې د
هغه له مخې امریکا او شورۍ اتحاد به په ترتیب سره مجاهدینو او
د کابل رژیم ته د متناظر اصل په قرار وسلې ورکوي . د دوهم
تفاهم له مخې د ژنیو د توافقاتو څلورواړه خواوې به له دیګو
کورډویزسره د هغه هغو کونښتونو سره همکاري کوي چې دی

به د شخص په توګه ، نه په رسمي توګه ، زيان باسي په افغا-
نستان کې د يوه ائتلافي حکومت د جوړيدلو د پاره لاره هواره
کړي .

# دریم فصل

## د فیصلې تحلیل او د حکومت بیارغونه

### مقدمه

د ژینو دغه فیصلې د دغومره اوږدو خبرو په نتیجه کې په لاس راغلی چې د دیپلوماسۍ په تول تاریخ کې ساری نه لري . خو تعجب په دې کې دی چې د کوم هغه ولس په باب چې فیصلې په نظر کې دي ، د هغو واقعي نماینده ګانو نوې ګلاوزن نه درلود . په داسې حال کې چې همدغه ولس په خپلې خاورې او خپل آزاد ټوند باندې د یرغلګر طاقت په مقابل کې چې د عصر دوهم ستر قدرت شمېرل کیږي ، د یرغل د طرد او د خپلې خپلواکۍ د بیا تحقق د پاره د دنیا والو د توقع په خلاف په نهایت میرانې جنګیده او ناکام کړای ؤ - په نتیجه کې دغه یرغلګر طاقت چې د همدغه مبارز ولس په مقابل کې په نظامي ډګر کې په مقصد ونه رسید له ناچاری په دې لټه کې شو چې په دیپلوماسۍ او بین المللي موافقو سره خپلې لښکرې وباسي او د

متعرض له مسئولیتونه خان باندې کړي . په دې حال کې په دغو توافقاتو کې مدافع وکیل هیلی له نظره ولوېدلی ، او فیصلې د نړیوالو حقوقو له ملاحظو له نظره وشوې . په راتلونکو پاڼو کې د دغو توافقاتو تحلیل په ډاګه کې په هر دغو تکو بحث کیږي .

## د فیصلو په باب د دخیلو هیوادونو د لوړو نظرونه

د توجه وړ ده چې د توافقاتو د لاسلیک کوونکو هیوادونو په مشرانو کې د شوروي لوړپوړو زیات دغه توافقات د پرستایلي دي . ګورباچوف هغه د منځني واټن وېشتونکو هستوي راکټونو د له - منځه وړلو د معاهدې په اړه مهم وبلل چې د نړۍ د ډروي بې وسلو کولو د پاره لوړنی اساسي ګام بلل کیږي . ده دا هم وویل چې « متحده ایالات او شوروي اتحاد د افغان کشالې د فیصلې کولو په منظور د منځګړیتوب او رسمي تضمین ورکوونکو په حیث په خپل ګډون کولو سره د ګډ تصمیم عمل د پاره سرمشق او دود جوړ کړي » ده زیاته کړه چې « موږ هیله لرو چې د افغانستان په باب د ژنیو د موافقې لاسلیک کول به د سیمه ییزو کشالو د هوارولو د پروسې د پاره یو محرک وګرځي . »

د ژنیو توافقات زړ د سیمه ییزو کشالو د حل د پاره سرمشق او طرح وګڼل کیږي - بس څو اونۍ وروسته دا ټولې کشالې د -

هوارولو دپاره د دخیلو هیوادونو یعنی انګولا، کیوبا، جنوبي افریقی او امریکی د نماینده ګانو ترمینځ په لندن کې خبرې پیل شوې او لومړی پړاو یې ګټور وبلل شو. نښې نښانې څرګندې دی چې د څنیو سوړی به دکمپوچیا، او ټکاراګوا په کشالو هم شنه اثر وکړي. مهمه داده چې د څنیو توافقاتو دلویو طاقتونو ترمینځ د اعتماد دفضا له پیدا کیدلو سره مرسته کړې ده، او د هغه سوړی د ریګن او ګورباچوف په څلورمې جرګې کې چې د مې په ۲۹ مه په مسکو کې پیل شوه څرګند و. لکه چې ریګن وروسته دلندن په تاریخي ګیلډهال کې ویلې وینا په ترڅ کې څرګنده کړه چې «پوره ممکنه ده موږ په دې پیل کوو چې د جنګ نه وروسته عصر خنډونه له مینځه وړو»، او موږ د تاریخ په یوه نوي پړاو کې ښوځو، چې هغه د ده په فکر په شوروي اتحاد کې د دوام لرونکی بدلون وخت دی، د هغه ریګن له خوا د شوروي په باب دغه تاوده کلمات چې شوروي یې «خبیثه امپراتوری» نومولې ده او ویلې یې چې «د کمونیزم وروستی فصل لیکل کیږي» د پوره اهمیت وړدي، خو ده د څنیو د توافقاتو په هکله د ګورباچوف په شان تاوده کلمات ونه ویل. ده لا د مخه ویلي وو چې د هغو کړیدت په افغان مجاهدینو پورې اړه لري، او موږ ویاړو چې له هغو سره مرسته کړې او وایو چې ترڅو شوروي اتحاد د کابل رژیم ته وسلې ورکوي، موږ به یې هم دمتوقفولو متناظر اصل له مخې مجاهدینو

ته ورکوو- شولتز هم په همدغې روحیې سره وغږېد.

ایران لا دمخه تردې چې د ژنیو توافقات لاسلیک شوی وی د اپریل په یوولسمه هغه ردکړل. په دغه وړځ د دغه حکومت د بهرنیو چارو د وزارت یوه ویندوی څرګنده کړه چې کوې هغه مذاکرې چې د کابل رژیم او پاکستان ترمینځ روانې دي «له بده مرغه بل څه نه، بلکه د استکبارانو (ستر وطاقتونو) د دیتانت دپاره یو سرپوښ او د افغانستان په باره کې د هغوی دسیسې دي..» ده دا هم وویل چې د حل یوازینۍ لاره د شوروي پوځ بې قیده او شرطه وتنه او پخپله د افغانانو له خوا د حکومت جوړول دي.

د پاکستان جمهور رئیس د ژنیو د توافقاتو له مخې له افغانستان نه د شوروي پوځ وتنه «د شلمې قرن معجزه» وبلله. ده د اپریل خوارلسمه «تاریخي ورځ» وګڼله، خو ده دا هم څرګنده کړه چې په افغانستان کې «د ناآرامۍ او ناکرارۍ» ورځې را تلونکې دي. له دې ټولو ډډه مطلب دا وو چې په توافقاتو سره اوږدې نه دې راغلې، او جنګ نه دې ختم شوی، او مجاهدین په توافقاتو ځان مقید نه ګڼي، په دې چې دوی په هغوې ګډون نه لاره. د پاکستان صدراعظم محمد خان جونیجو په پارلمان کې څرګنده کړه چې «موجودو حالاتو کې ترټولو ښه توافقات هغه د ژنیو توافقات وو» چې وشول. د دغې وینا مفهوم دا وو چې توافقات هغه څه نه دي چې پورته مطلوب و-

پخپله کوهدوویز هم په همدغې روحیې د ژنیو په توافقاتو باندې نظر واچاوه ؛ ده « هغه نیمګړي » وبلل ، خو د نیمګړتیا دلیل یې دا نه ګڼلو چې نیمګړتیا نتیجه وګڼله ـ شپږ وړاندزې د ملګرو ملتو رول ته په توافقاتو کې اشاره وکړه او دهغو د لاسلیک کېدو په وړځ یې وویل چې په غونډه کې د سرمنشي او دهغه د خاص استاځي وجود « نه یوازې مطلوب هدف ته د رسېدلو ، بلکه د سیمه ییزو او نړیوالو کشالو د هوارولو دپاره هم د یوې د نهایت د هرو امکاناتو ګرګندوی ګڼل کیږي . » د ژنیو توافقاتو نورې اړخیزې نظر داوۍ چې « د ژنیو توافقات د افغانستان د کشالې د جامعې فیصلې په لورلومړنی ګام وي . » سناتور ګولډن هممفري چې د امریکې په سنا تورانو کې شاید تر ټولو زیات د افغان د داعیې کلک ملاتړ وي ، ترهرې چانه زیاته د غه توافقات په تینګه ډکړل ، او هغه یې د مجاهدینو تدریجي « خرڅېدنه » وبلله .

## د فیصلې په باب د افغانانو تبصرې

ځرګنده وه چې په افغانانو کې د کابل رژیم چې نماینده یې توافقات لاسلیک کړل ، د هغو هرکلی کوي . د لاسلیک کېدو په مراسمو کې د د غه رژیم استاځي د لومړي ځل دپاره په یوه سالون کې د امریکې او پاکستان له استاځو سره عین سند ونه امضاء کړل ، او په دې ډول یې لږ تر لږه د دولسو

دقیقو د پاره د خپل حکومت موقف د هغوله درېځ سره برابر کړ، او
خپل پرېزم ته یې یو راز مشروعیت ورپه نصیب کړ؛ د دغه تکی په باب
به زړه په تفصیل خبرې وشي . خو د دغو توافقاتو په باب د افغانانو
د دېرې زیاتې برخې درېځ متفاوت و - د مجاهدینو د اوږه ګونې
تنظیمونو د اتحاد مشر ګلبدین حکمتیار د ژنیو توافقات پخوا له دې چې
لاسلیک شي ردکړي وو؛ ده ویل چې اوږه ګونی اتحاد د ژنیو پرې
له اول نه رده کړي وه ، په دې چې په هغې کې یې برخه نلرله . ده په
غوڅه توګه څرګنده کړه چې د ژنیو توافقات به افغانستان کې جنګ
ختم کړي ، او اتحاد به په هېڅ ډول ځان په هغه مقید ونه بولي - تر
هغه لا د مخه د اپریل په نهمه حکمتیار په یوې خبرې شوې بیانیې کې
ویلي ووچې "( د ژنیو ) خبرې د دې په ځای چې د هغو واقعي خلاصون
ترمینځ وشي چې د جنګ په جبهو کې سره مقابله کوي ، د غیر واقعي
خلو ترمینځ شوې دي . پاکستان متاثره خواره او هغه د افغانانو
تمثیل کولی نشي ، او نه دنده په افغانستان کې د هېڅ ډول توافق
تضمین کولی شي ." د وطن نامتو او مجرب دیپلومات عبدالرحمان
پژواک چې ویل کېدلی شي په دغسې موضوعاتو کې د افغاني ذهنیت
ممثل وي لاهم قاطع و . د ژنیو د توافقاتو په باب یې په مجاهد ولس
( اپریل ۲۱ ، ۱۹۸۸ ) کې خپل اعتراض په لاندې الفاظو کې څرګند
کړی دی - " . . . من از آغاز گفتگوهای ژنیو به ان مخالف بودم وآنرا

غیرمشمر و مخالف با منافع ملي و آرزومندي هاي مردم افغانستان میدانستم ..... روز امضاي موافقه هاي ژنیو روز بازار سیاست بود که منافع ملي افغانستان در آن رایگان فروخته شد ... معلوم شد منظور صلح در افغانستان نبود زیرا فیصله ژنیو جنگ و خونریزي را شدت خواهید بخشید ... در یک فیصله ژنیو غیر عادلانه ، غیر عملي و غیرمثمر است . در حالیکه هیچ مسئله را حل نمی کند معضلات بیشتري را ایجاد می نماید .» د افغانستان بل مشر سیاستمدار او د عدلیې پخوانی وزیر مشهور سید شمس الدین مجروح هم د امریکا له غږ سره دیوې مرکې په ترڅ کې د ژنیو د تړاقتو په هکله وویل چې په هغوسره د افغانستان کشالې هوار بدلې نه شي ، او سوله خوندي کیدلې نه شي . له دې امله هغه یې غیر عملي او غیر مفیدې وبللې . خو پخوانی پاچا هغوته په ضمني ډول د قبول په ستر ګه وکتل او خپله هیله یې دې مجاهد ولس په ذکر شوې ګڼې کې په دې ډوله څرګنده کړه . « با وصف اینکه در مذاکرات ژنیو طرفهای اصلي قضیه یعنی نمایندګان واقعي ملت مجاهد افغانستان او اتحاد شوروي مستقیماً شرکت نداشتند باز هم امید میرود این موافقت راه را برای خروج قوای شوروی از افغانستان که متضمن استقلال کامل ، تمامیت ارضي کشور و حق خود ارادیت مردم افغانستان بدون مداخله خارجی در امور سیاسي ، و داخلي ، و اجتماعي ان - باشد ، باز نماید ، و به این طریق افغانستان بتواند بار دیگر به حیث

یک کشور آزاد ، بیطرفي وعدم انسلاک خود را از سر گرفته ان
این راه در تامین ثبات در داخل کشور وهمچنین در این منطقه حساس
که صلح وامنیت جهان تا اندازه زیاد به آن بستگي دارد نقش موثری
را ایفا نماید . » ، خو پخوانی پاچا په دې باب څه ونه ویل چې د دغو
توافقاتو نتایج به د عمل په میدان کې هغه څه وشي ، کوم چې دی یې
هیله من دی ؟ یو خو لاندې اخباري تبصرې به ممکن په دې باب
رڼا واچوي -

## د فیصلې په باب د اخباري مبصرینو تبصرې

د روزنتال پخوا له دې چې د توافقاتو لاسلیک شوي وي د اپریل
په پنځمه په نیویارک تایمز کې دیوې لیکنې په توګه کې ویلي وو چې د ژنیو
په توافقاتو سره « د اډګورباچوف معقول تمایل وې چې اوس خپل
پوځ ایستلی شي ، او بیا هم په افغانستان کې د تړدې اندازې قدرت له لرلی
شي چې د دغه هیواد په سرنوشت باندې کنټرول ولري . »
ماسټي په وال سټریټ جورنال ( د اپریل ۱۸ مه ) کې د خپلې نظر
څرګندکړې ، خو ده د ژنیو موافقه په اصل کې بې مفهومه بللې ده . دی
وایي چې د دیپلوماتانو د پاره د ژنیو په شان دیپلوماتیکي پروسه زیاته
بې دلیل وګڼي ، چې دې باید یوځله لاسلیک کړي ، که څه هم هغه

دهیڅ معنی ولري. کـه تر هغې لږ وشي یا خبرو ته خاتمه ورکړه شي، هغه به د دیپلوماتیکي اوحرفوي ماتې په شان وي. دا د شورو په ګټه تمایل ؤ ځکه د ژنیو په موافقې سره د دوی کابل رژیم ته د شرعیت نړۍ پوست ورکول کیږي. عبدالرحمن دوسلو دمتوازن او متناظر اصل په رعایت سره د ژنیو توافقات «غیر اخلاقي» او «ننګي» بولي (فرنټیر پوست، اپریل ۲۷، ۱۹۸۸). غاني ایرابي د اپریل په ۲٤ مه د مسلم په وړځپانې کې په یوې اوږدې تحلیلي لیکنې کې عقیده څرګندوي چې «د ژنیو تړیو مفهوم نه زیات بې ساري وي- هغه بې له اوږدې نه د جنګ ختمول غواړي. د دوو سترو طاقتونو ترمینځ د مستقیمې نښتې د وړنګاله مینځه وړې څخه ډیر ښایسته ګانو ته د جنګ اجازه ورکوي». دا وړاندیز لیکي کـه «ژنیو توافقات په دې برخه کې نه شول چې په ظاهره کې ناممکن یعنې د شورو د اشغالي قواوو وتنه (ممکنه کړي) هغه به د تاریخ کې تر ټولو لوی بې نتیجو دیپلوماتیکي تمرینونو په ډله کې حساب شي.» بس دې بلې تبصرې په ذکر سره به دغه لړۍ ختمه شي- اکرام الله د پاکستان تایمز د اپریل په ۷ مه ګڼه کې لیکي چې تر هرڅه زیات د ژنیو د ستراجیکي د وړنګاله مهم وه. لومړی دا چې د لوړې حلې د پاره د پاکستان په تاریخ کې شوروي اتحاد د پاکستان محکمه بڼې تیا تضمین کړه او دې ته نوي ارتباط د پاره یې وړ خلاص کړ- دوهم دا چې

له نړۍ افغانستان نه د شوروي قواوو وتنه دا معنی لري چې روسیه به خپلې قواوې له واخلي، اوږدا کار به پاکستان له دې نه وژغوري چې د روسیې غوندې یوې لوی طاقت سره سیخ په سیخه اوږه وهي - دده په نظر دا د نړۍ د پاره خطرناک دي چې دیوه ستر طاقت سره ګډه پوله ولري شي - د افغانستان هغه څه چې په پاکستان کې باید نظامي عمل وکړي، د نه جنګ حالت مینځ ته راولي، او داحال به پاکستان د دروجبهو له خطر څخه وژغوري. په دې دول ژنیو توافقاتو ته چې د ستراتیجیکی اود پاکستان د امنیت له نظره وکتل شي هغه په سیمه کې په تېره په جنوبي آسیا کې چې پاکستان او هندوستان پکې شامل دي، اود فارس خلیج تر نه سوا دی د سولې په لوریو مخ په وړاندې ګام دی.

## د ژنیو توافقات او حقوقی اواخلاقی ارزښتونه

د ژنیو د توافقاتو په باب چې لومړی څه ویل کېدلی شي، دا دی چې په هغوسره د کابل رژیم "د افغانستان جمهوریت" په توګه منل شوی دی - د دې معنی دا کیږي چې د غه رژیم ګواکې د نړۍ افغانستان او ټولو افغانانو نماینده رژیم دی. خو دلمر په شان څرګند حقیقت دی چې د غه رژیم د ۱۹۷۹ کال په دسمبر

کې شوروي پوځ په زور په کابل کې په قدرت رسولی ، او له هماغه
اول نه نړۍ تولو افغانانو په ستر و پاخونونو سره له هغه او په وطن
کې د شوروي پوځ ړشته والي سره مخالفت کړی ، او دغه مخالفت
یې په دومره تینګ او پرله پسې دول کړی چې د کابل رژیم د شوروي
غوندې یوه ستر قدرت ملاتړ سره سره ځان مستقر کولی و نه شو
اوس هم یوازې په بمبارونو، لویو لارو او نظامي پوستو باندې حا-
کمیت لري ، او د مملکت ستره برخه چې په سیمو کې اته تخمین شوې په
شریکي دول د مجاهدو تنظیمونو په لاس کې او د کابل د رژیم له کنترول
نه آزاده ده . په دې دول د افغان د ولس نمایندګان د دوے
مجاهد تنظیمونه کېدلی شي ، نه د کابل رژیم . همدغو تنظیمونو د افغانانو
په نمایندګۍ د نړۍ د نهو کلونو په بهیر کې په وطن کې د ږغلګرو روسانو
له پوځ سره مقابله کړې او هغه یې په شا تللو ته اړ کړی دی .
برسېره پردې د کابل د حکومت او هم د افغانستان په هکله د شوروي
حکومت د سیاست او جګړو په نتیجه کې له افغانانو نه هر درېم له
وطن نه په هجرت مجبور شوی ، او هر لسم وژل شوی دی ، د افغانانو
د تلفاتو دغه تناسب د شوروي اتحاد د تلفاتو تر تناسب نه په دوهم جهاني جګړې کې د زیاتوالي دی چې
مطلق شمېر یې د شوروي د رسمي احصائیې له مخې شپږ
میلیونه ښودل شوی . د غوایي کودتا نه را په دیخوا پرچمي او خلقي
حکومتونو تر اوسه لږ تر لږه د څلورپنځو نږدو او پنځو سو نږدو تر

ترمیخ بندیان اعدام کړي دي ، په داسې حال کې چې د صدیق الله په قول یوازې هغه وخت چې دوه ورځې ( نجیب الله ) د خاد رئیس و ، اتیا زره بندیان اعدام شوي دي . د غو حکومتونو د دغو اونیزو د پرو جنایتونو په سبب چې د افغانستان د انسانانو په مقابل کې کړي دي ، په اخلاقي او حقوقي لحاظ دغه صلاحیت له لاسه ورکړی چې د افغانانو او افغانستان نماینده ګي وکړي ، همدغه سبب دی چې د شوروي اتحاد ، د هغه له متحدینو او بې خونه رو هېوادونو پرته د نړۍ نورو په کرانو د پرو هېوادونو دغه رژیم په رسمیت یعني د قانوني حکومت په توګه نه دی پېژندلی . دغه رژیم د اسلامي هېوادونو د - سرانو ، او د دغو هېوادونو د باندنیو چارو د وزیرانو د جرګو له غړو ب نه محروم ګرځول شوی او د ملګرو ملتو عمومي اسامبلې هرکال په غوڅ اکثریت سره ( ورسره حُل پې د ۱۹ رایو په مقابل کې په ۱۲۳ رایو سره ) له افغانستان نه د شوروي پوځ د وتلو غوښتې وه - پخپله د پاکستان حکومت هم په ژنیو کې د کابل د رژیم له نمایندګ سره د افغانستان د حکومت د استاځي په توګه نه ، بلکه د رسمي ګوند د استاځي په توګه خبرې کړي ، او خبرې یې هم له هغه سره څه ناڅه نه ، بلکه د کو رد و یې په وساطت کړي دي . په دې حساب د پاکستان حکومت د کابل د رژیم استاځي نکه د هندوستان د untouchable یاد « ناولو » د طبقې نماینده ګنلی دی . دا ټول د دې د پاره شوي چې د کابل رژیم

ته څه تانوني رنګ ورپه برخه نه شي- په تېره ژمي کې پخپله جنرال ضیاء الحق څرګنده کړې وه چې د دغه حکومت به هیڅ وخت دپته حاضر نه وي ، د نجیب الله له حکومت سره د هغو جنایتونو په سبب چې یې کړي ، موافقه لاسلیک کړي . د پاکستان حکومت اوس هم ، سره له دې چې موافقه یې ورسره لاس لیک کړې په خپل دغه سیاست ټینګ ولاړ دی ، او د توافقاتو تر لاسلیک کېدو نه وروسته یې څو ځله څرګنده کړې ، چې پاکستان د کابل اوسنی رژیم په رسمیت نه دی پېژندلی او نه به یې په راتلونکی کې د تانوني حکومت په حیث وپېژني . د دغه حال څرګنده معنی دا کیږي چې هیڅ ملي افغان حکومت به د ژنیو په توافقاتو څان مکلف ونه ګڼي . همدا اوس هم انجنیر ګلبدین حکمتیار د اووه ګوني اتحاد په نمایندګۍ ، او هم د هر جهادي تنظیم مشر په بیل بیل دول ، په ولاړو ولاړو څرګنده کړې ، چې دوی څانونه په هغو مقید نه بولي . که دغه توافقات ومنل شي باید تول هغه دوه- اړخیز توافقات هم ومنل شي ، چې د کابل حکومت تر اوسه له شوروي حکومت ، او له نورو سوسیالستي هېوادونو سره کړي ، چې تول شمېر یې ممکن څلورویشت ته ورسیږي . او د هغو په نتیجه کې په افغانستان دایمي پاره د شوروي تابع هېواد وي .

برسېره پردې آیا د سیاست او واقعیت په میدان کې د کابل رژیم ددې وسه ولري چې د ژنیو د توافقاتو په تطبیق کې

پوره موثر وي ؟ ايا ممکنه ده چې دغه توافقات د افغان مقاومت
او جهادي خواک له همکاري نه پرته تطبيق شي ؟ هر په ده پوه
پوښتنو خوابونه منفي دي . په دې حال کې پوښتنه کيږي چې
توافقاتو کې د کابل رژيم ولې د " د افغانستان د جمهوريت " په
نامه ومنل شو ؟ خواب دادی چې شاته يې د شوروي غوندې ستر
قدرت ولاړ و، او د دغه قدرت په زهر سره چې مسکوته متمايلو
مبصرينو د " ريلزم " يا واقع بينې په نامه يادکړی ، د کابل رژيم
د پاره دغه امتيازات ومنل شول ، ترڅو د هغه له مخې له افغانستان
نه د شوروي د لښکرو د وتلو د پاره لاره هواره شوي وي . په دې
حساب د افغانانو ملي منافع له نظره وغورځول شول ، په بل عبارت
د ژنيو توافقات اصلا په دغسې " ريلزم " بنا دي ، او اخلاقي او
حقوقي اړخونه او ارمونه چې بين المللي توافقات بايد پرې بنا
وي ، له نظره وغورځول شوي دي - په دې حساب دغه وينا اساساً
سمه ده چې شوروي اتحاد هغه څه چې د جنګ په ميدان کې ترلاسه
کولی ونه شول ، د توافقاتو له لارې ترلاسه کړل .

# د شوروي پوځ وتنه

د ژنيو د توافقاتو سرتاج د شوروي د حکومت هغه ژمنه ده

چې دهغې له مخې باید خپلې قواوې په نهر میاشتوکې له افغانستان
نه وباسي - دغسې ژمنه تراوسه نه تړاری روسیې ، اونه شوروي
روسیې د ملک نیونې او د امپراتوریکه په پنځه سوه کلن [illegible]
چې په سپارسمې پیړۍ کې بې دیوراله عرف څخه په اوسلو سر
پرې پیل کړی ، او تر اوسه یې د خپلې ، لویدیځ اوسهیل په لور
پراخ ملکونه لاندې کړي ، او خپل پوځونه یې پکې هستوګن کړي ، وکړي
د اسمه ده چې شوروي اتحاد په کال ۱۹٤٦ کې له ایران څخه او په کال
۱۹۵۵ کې له استریا څخه خپلې لښکرې وایستلې ، خو دغو دواړو
هېوادونو ته یې په اصل کې د جنګ په شرایطو کې لښکرې استولې
وې ، په داسې حال کې چې د شوروي له خوا د افغانستان نظامي
اشغال د روسانو د تاریخي ملک نیونې په هېرکې د تاکلي او سنجول
شوي پلان له مخې شوی وو - د بریژنف د نظامي دکټورین له مخې
د کوم ملک د سوسیالستي کولو د پاره چې شوروي قواوې استولې
کېدلې ، بیرته غوښتلې کېدلې . دنورو اروپایي هېوادونو امپراتوري -
ګانې چې د تېرو څو پیړیو په هېرکې د دنیا پر مخ جوړې شوې
وې ، په جاري پیړۍ کې ، په تېره له دوهم جهاني جنګ نه وروسته
رڼګې شوې ، او مستعمره ملکونه یې خپلواک شول . خو یوازې د
شوروي اتحاد امپراتوریکه د اتحاد یا فیډریشن په غولوونکې نامه
تراوسه نه یوازې پاتې ده ، بلکه په نظرکې وه چې د افغانستان په

نړۍ سره لاهم پراخه شي. د شوروي دغه اوسنۍ ژمنه چې بايد خپل پوځ له افغانستان نه بهر ته کړي، همغه څه دي چې د روسيې د ملک نړۍ د پېرېو پېرېو تاريخي بهير قرنطين کوي، چې بايد همغه په حقه د جنرال ضياء الحق په قول د شلمې پېړۍ « معجزه » وګڼله شي. افغانانو په دې دول د « خښې امپراتورۍ » په قرنطين کولو سره نه يوازې د خان د پاره، بلکه د آزادو انسانانو د پاره خدمت کړی دی. له دې وروسته د دغې « خښې امپراتورۍ » د اسيرو ولسونو په ټبره د خښتيو اروپا د هېوادونو ولړۍ چې د خپل پوره خپلواکۍ د پاره پاڅيږي، او دغه په ځای پاتې سوې وروسته امپراتورۍ رهنګ کړي، او ځای يې خپلواک هېوادونه ونيسي.

دلته سوال دا دی چې شوروي اتحاد د پوځ ايستلو دغه ژمنه د سولې د سپيڅې کوترې غوندې په صاف او پاک زړه کړې، يا دا چې د ټرنه څرګنده شوې چې په افغانستان کې يې ټول سياستونه د نظامي عملياتو په شمول ناکام شوي، او د کاميابيدو هيله يې نه وه، مګر دا چې ټول ملک يې له وګړو سره سوځولای وای، که څه هم په دې باب يې چندان صرفه نده کړې؟ افغانانو ته له روسانو سره د څه کم نهو کلونو له مخامخ تجربو نه ثابته شوې چې د کريملن واکدارانو تر هرچا زيات د زور الاهه لمانځي. په ملي او بين المللي موضوعاتو کې لومړی له وچ زور نه کار اخلي، خو چې کله په زور ونه شو بيا

نو د تاکتیکي لارو چارو ته رجوع کوي ، او په هرحال خپل تا کلي هدف ته رسیدل غواړي -

شوروي اتحاد کله چې په افغانستان ورداخل په دې فکر وُ چې د هغه سرې لښکرې به بس په اوښو یا میاشتو کې د مقاومت په خپلو سره د هغه ملک لاندې کړي ، خو هغه فکر څنګه چې اوس ټولو ته څرګند شو ، غلط ثابت شو - دډاکټر مراد علی شاه په قول (مسلم - جون ۳ ، ۱۹۸۸) " د څرنیو پروسه په کال ۱۹۸۲ کې کله چې د افغانستان مقاومت د شوروي یرغلګرو په مقابل کې په کافي اندازه بری ترلاسه کړ؛ شروع شوه - یرغلګرو ته روښانه شوه چې دوی د مجاهدینو د کلکې ارادې په مقابل کې په جنګ کې بریالي کیدلی نه شي ... څنګه چې بې د مخه یادونه شوې شوروی د هغه تش په نامه د سولې قاصد ګورباچوف هم دیوه کال د پاره خپل نظامیان په افغانستان کې آزاد پریښول چې افغانستان په نورلاندې کړي ، هغوی په دغه کار بریالی نه شول ؛ اومعکوساً ورته څرګند شوه چې مجاهدین د عصري پېچلو وسلو سره تر پخوا لا زیات پیاوړي شوي ، اوجنګ به ترنا معلومې مودې پورې دوام کوي . د هغه ګورباچوف په واکمن کیدو سره په ۱۹۸۵ کې ووچې د پاکستان په خاوره د کابل د رژیم بمباري ګاڼې شروع شوې - په ۱۹۸۶ کې ۲۰ حُله ، او په ۱۹۸۷ کې ترسل حُله زیات پرې بمونه وغورځول

شول . مطلب داوچې پاکستانیان دوېره ډوېرول شي ، چې د افغانانو پرضد وپاروي . خو دغه زور ښه دلو نتیجه سترګې شوه او د پاکستان واکمن د افغانستان په سرلاهم تېښګ ودرېدل -

په عین حال کې شوروي په جهاني سطح کې د امریکا له لوړو ستراتیجکی نظامي پروګرامونو سره په خطرناکې مقابلې کې ګیر ډه ، او په دې حال کې یې نوي داخلي اصلاحي پروګرامونه د جامعې سره خلاصوالي ( glasnost ) او بیا رغونې ( Perestroika ) په نامه چې ددوی په فکر دوی وړته سخت ضرورت لاره ، نه ترسره کېدل - نو یې له افغانستان نه د خپل پوځ په ایستلو د شپږو کلونو دخبرو په دوستیو وړځوکې هغه هم څنګه چې د مخه یې یادونه وشوه ، په دېرې سختې موافقه وکړه ، هر په دغې زمینې سره یې افغانستان بیا هم پرې اینبی نه دی ، ځان یې د تولو نړیوالو تړونونو تضمین کوونکی تثبیت کړی دی . دهغه په فکر خپل لاس لاندې کابل رژیم بېرې په ځای وي ، او هر ډول مرستې به وړته ورکوي . له دېنه یې یوغټ مطلب دادی چې په افغانستان باندې د خپل تجاوز او د جنګ له اعراماتو له تادیې او له هغو مسئولیتونو نه ځان بچ کړي وي چې په دغه ملک کې یې واقعاً بېحسابه انساني او مالي تلفات اوورولي دي . له افغانستان نه بې په ظاهرکې د عصر په غوښتنې سره

د اوس د پاره په نظامي لحاظ وتلی وي ، خو لکه څنګه چې د روزنې نه
له خولې د څه یادونه شوې ، په هغه به د تل د پاره نفوذ لري ، او افغانستان
به په واقع کې پوره خپلواك نه وي .

خو بل مهم سوال دا دی چې شوروي به په ښتیا خپل پوځ
له افغانستان څخه وباسي ؟ خوښ بیان په ټوله باندې خوښ بیان
همدغسې فکر کوي . دلته باید په دغه تکي ښه ځیر وشي چې شوروي
ولې خپل پوځ په نهو میاشتو کې ایستل غواړي په داسې حال کې چې د
کارکې د نظامي متخصصانو په فکر دلو ځستیکي ضرورتونو به یې پام کې نیولو
سره په څو میاشتې کې کولی شو ؟ معلومه ده چې د دغه فکر شاته
کومه طرح او طرحې دي ، چې اوس څرګندې نه دي ، او په وخت پورې
اړه لري - یوه طرح یې ممکن دا وي چې د کابل رژیم ته وخت ورکړي چې
ځان تنګ کړي - بله طرح یې ممکن له خطرنه ډکه وي - له دې ډول
کړنو نه چې شوروي د ټولو دوو کلونو په بهیر کې ، یعنې د همدغه ګورباچوف
د واکمن کیدو نه وروسته ، د افغانستان په شمال ولایتونو کې پا ځپله ، یا
د کابل د رژیم په وسیله کړي ، او دلته یې له یادونې نه دا ډډه کیږي ، چې ګواکې
چې شوروي یا د افغانستان دوه برخې ګډول په نظر کې لري ، یا لږ تر
لږه غواړي شمالي افغانستان دیوې حایلې سیمې په شکل ولري . بلخوا
له دې چې له دغې سیمې نه یې خپل پوځ ایستلی وي د شوروي حکومت
ممکن د ژنیو د همدغو توافقاتو په موجب د یې پلمې پیدا کړي چې له هغو

نه په استفادې سره د خپلو پاتو لښکرو په وسیله په دغه کار لاس پورې کړي، په هرحال افغانان د شوروي په دغې ژمنې بولنې هغه وخت باور کولی شي، چې دوی خپلې تولې قواوې له افغانستان نه ایستلې وي.

# دوسلو متوازن اصل

د ژنیو د توافقنامې په غاړه نیمګړتیا هغه تفاهم دی چې پخپله دهغو کومه برخه نه ده، خو بې له هغه د هغو لاسلیک کېدل ناشونکی ګرځول شوی و. مطلب د متناظر هغه اصل دی چې د هغه له مخې به شوروي دکابل رژیم، او امریکا به مجاهدینو ته وسلې ورکوي. لکه چې ولیدل شول په دې باب امریکا شوروي دېته وبللو چې په دواړو خواوو وسلې ودروی شي، یا هغوی دیوه تاکلي وخت مثلاً د دریو میاشتو د پاره هغوته وسلې ورنه کړای شي - شوروي دغه فکر ونه مانه، او په دې تینګ ودریدو چې، دکابل رژیم ته به حتماً وسلې ورکوي. په پای کې دواړو خواوو ته د وسلو د ورکولو د متوازن اصل مفاهمه اوموافقه وشوه - د دغه فکر عواقب به حتماً ورانونکي وي - ځکه چې په اوربند هیڅ راز موافقه نه ده شوې، او ځکه چې مجاهدین د توافقنامې کومه برخه نه ده، یعنې هغوی د هغو په رعایت هیڅ قانوني مکلفیت نه لري، جنګ به نه ځکه چې ګلبدین حکمتیار وایي "نه یوازې دوام کوي، بلکه تر

پخوا به لاهم شدید کیږي. » د شوروي له هغه تینګار نه چې د کابل رژیم ته یې د وسلو په ورکولو لاره ، اوهم د هغه له هغه تینګ مخالفت نه چې د پاکستان د تجویز په مقابل کې چې د ژنیو د تړون فقانون نه د مخه یې په کابل کې د موقتي حکومت د جوړېدو په باب سنوده خرګندونې چې شوروي په افغانستان کې د ژنیو د تړون فقانون سره سره د جنګ اوږدېدل په نظر کې لري ، ترڅو خپلې طرحې چې د مخه یې یادونه شوې ، عملي کړي - که نو هېڅ نه وي شوروي به کابل رژیم ته د وسلو له لارې افغانستان ترخپل نفوذ لاندې ساتل غواړي .

دواړو مخالفو خواوو ته د امریکا او شوروني له خوا د وسلو ورکولو د منظر پرنسیپ منل ترهرڅه زیات یو بل غټ خطر له ځان سره مل لري او هغه دا دی چې د داخلي جنګ په نتیجه کې به له دواړو خواوو نه افغانان وژل کیږي ، او د افغانستان لا د مخه کم شوی نفوس به نورهم پسې کیږي. برسېره پردې په یقین سره نشي ویل کېدلی چې نور مهاجرین ، یا لږ تر لږه ډېره برخه به یې ، د داخلي جنګ او د ژوندانه د نامصئونیت په حال کې وطن ته ستانه شي ، هسې خو مهاجرینو پر ته تګ په ډې چې وطن له انتې پرسمنل مایینونه دك دی ( سروسانو د امریکایي متخصصانو په قول په افغانستان کې نزدې درې میلیونه او د مجاهدینو په تخمین پنځه میلیونه

ماینونه خښ کړي دي (۱) اونړاعتي په تېره د ابوګولو سیستم هر چېرې لږ و دېر له مینځه تللی او کلي او کورونه یوځای بل ځای دېر ویران شوي دي، یو مشکل کار ګرځېدلی دی. خو د جنګ په حال کې په هغو برسېره ممکن د مهاجرینو یوه برخه، په تېره هغوی چې اروپا او امریکې کې دي، او تعلیمیافته دي، وطن ته هېڅ ستانه نه شي - نو د افغانستان په مجموعي نفوس کې به نورهم کمی راغلی وي، او د نفوس دغه کمی به یقین دی چې افغانستان ته د یوه ملک په حیث چې د نفوس په لحاظ د دېرو لویو ملکونو له خوا چاپېر دی په آینده کې د داسې اساسي مصیبتونه راپیدا کړي، چې اوس یې فکر نه کیږي، که څه هم د افغانستان خپلواکي د ژنیو په توافقاتو کې تضمین شوې ده - شکاکان حق لري چې ووایي لکه د دېرې چې وایي شوروي د وسلو وړکولو د مثبت ژمنسیب په طرح کولو او منلو سره د افغانانو تباهي په نظر کې لري او غواړي خپله د نظامي ناکامي په دې بدل د افغانانو په وینو جبران کړي.

---

(۱) د صدرالعین آغاخان په قول چې د افغاني مهاجرینو د ستنیدو او ځای په ځای کولو پروګرام متصدي مقرر شوی دی، په حاضر وخت کې په افغانستان کې له دریو زرونه تر څلورینیم زرهوپړې انتي پرسنل ماینونو د روسانو له خوا په مخکې کې خښ شوي دي او څنګه چې د غه زیاته ماینونه پلاستیکي دي کشف یې ممکن نه دی، او دا د مهاجرینو د پاره مشکله کوي چې وطن ته ستانه شي. (مسلم، جولای ۲، ۱۹۸۸).

یوه لیکوال عبدالرحمن (فرنټیر پوسټ، اپریل ۲۷، ۱۹۸۸) دمتناظر مثبت اصل له هغې ټوپې سره ورته بللې چې په لږغونې روم کې د امپراتور په امر به په یوه سرخلاصي تیاتري میدان کې دوه غښتلي ځوانان وهروسته له دې چې ښه به اباد شوي وو، د ښندارچیانو د سات تږې د پاره سره په جنګ اچول کېدل - که دواړه به وژل کېدل چا به پرې اوښکې نه بهولې - برعکس د ښندارچیانو سات به ښه تږېده - په افغانستان کې د دغه اصل له مخې که د وسلو ورکول عملي شي، او دوام وکړي، د افغاناتو د پاره له دغه مثال نه غیر بله معنی لرلی نشي۔

د وسلو د مثبت متناظر اصل بل خطرناک اړخ دادی چې دهغه په رعایت او دوام سره ممکن د ژنیو توافقات عملي نشي - د ژنیو د توافقاتو په دقیق نافذکېدو سره به یوې خوا یعنې مجاهدینو ته د وسلو رسول د کاغذ له مخې ناممکن شوې وي۔ د توافقاتو د لومړۍ سند له مخې - پاکستان او افغانستان دیوه بل پرضد له هرډول فعالیت کولو نه د دې کولو ژمنه کړې - هریوه تعهد کړی « چې د بلې لورې عهد کوونکې خوا واکمني - سیاسي خپلواکي، ملي اتحاد، مصئونیت او ناپیلیتوب.... د زناوی به کوي . » په بلې مادې کې هریوه ژمنه کړې « د هرعمل یا هرکوښښ نه په هره بڼه یا هره پلمه چې وي ډډه کوي چې د بلې عهد کوونکې خوا یا د هغې کومه مؤسسه ګډوډه کړي، یا یې سیاسي ثبات تخریب کړي . » لکه چې دا بس نه وو، په بلې مادې کې هره خوا متعهده -

شوې چې " دبلې لورې عهد کونکې خوا پرضد د دښمنۍ نه دکې فعالیتونو په مقصد په خپلې خاورې کې له هرې منبع نه او دهرمقصد دپاره چې وي د اجیرانو درولو، تجهیزکولو، تمویل کولو او جلبولو عنیوی کوي . " بیا هم په یوې بلې مادې کې هرې خوا څرګنده کړې چې " دبل لورې عهد کونکي طرف په خاوره کې به د دوړانکارۍ، ګډوډۍ او نا رامه جوړولو په منظور دننه په خپلې خاورې کې ، په کمپونډ او پایګاهونو کې دافرادو اوسیاسي ، انتنکي اونورو دلو د موجودیت، هڅونې ، یا په بل دول د تنظیم کولو، روزلو، تمویل کولو، مجهزکولو وسله وال کولو عنیوی کوي . " دا اودغسې نورې مادې په دغه سند کې په دغسې تفصیل او دقت سره بیان شوی ، چې لکه د دغو دولتو ملکونو ترمینځ د سولې کوم تړون لاسلیک شوی وي . تړون یا نه تړون د پاکستان له لارې دننه په افغانستان کې مجاهدینو ته نظامي مرسته رسول، یا هغوته دننه د پاکستان په خاوره کې د فعالیت اجازه ـ ورکول د ژنیو له توافقاتو نه سرغړونه کیږي ـ دا به د کابل رژیم او شوروي دپاره ، اوترهغو لازیات دننه په پاکستان کې د شوروي پالو دلو دپاره کافي وی چې د پاکستان په حکومت په پرله پسې دول فشار راوړي ـ شبیرحسین د پاکستان تایمز په نیمه رسمي ورځپاڼه کې ( مې ۱ ، ۱۹۸۸ ) لیکی چې شوروي په مخکې څوکلونو کې په دې برخه کې چې په پاکستان کې دغسې یوه دله د ځان په خوا کړي

چې هغه « د دې دپاره چې په ملک کې حالات ګډوډ کړي ، او د شوروي اتحاد په پلوي علاقمندي او د دا راحساس خلق کړي ، له هېڅ شي نه به ډډه ونکړي . » د پاکستان او افغانستان ترمینځ پورته دوه اړخیزې ژمنې د ژنیو په لومړي سند کې درج شوې ، په داسې حال کې چې په افغانستان کې د امریکې او شوروي له خوا مخالفو ډلو ته وسلې رسول ، د دغو ستر و طاقتونو ترمینځ د تفاهم نتیجه ده ، چې محتویات یې پوره خپاره شوي هم ندي ، معنی دا چې د دغه سند اخلاقي او حقوقي قدرت تر دغه تفاهم نه په کراتو پیاوړی دی .

یقین دی چې شوروي اتحاد ، د کابل رژیم او د هغو پلویان به د دغې موضوع په سر بېخي نرۍ پروپاګنډ وکړي . دوی به د امریکې له خوا د مجاهدینو سره مرسته کول یوغیر قانوني کار او په هرحال د ژنیو د توافقاتو نه سرغړونه وبولي ، کرښه هم شوروي څه وخت چې یې د نظامي کومک وړکولو له اصل سره موافقه وکړه په دې سبب پوهیدې چې له مجاهدینو سره مرسته کول بې د پاکستان له لارې ممکنه نه ده ، او د امریکې حکومت شوروي ته په واضحو عباراتو په ډاډ ورپوره څرګنده کړې وه چې تر څو شوروي اتحاد د کابل رژیم ته وسلې ورکوي امریکا به یې هم په « برابره او متوازنه اندازه » مجاهدینو ته له هرې لارې چې وي وسلې رسوي . دغه « هره لاره » پې د پاکستان له لارې بله نشي کېدلی .

پوره یقین دی چې پاکستان به دوهروی، او اسلامي دهغوټیګو علایقو په سبب چې د افغانستان له خلکو سره یې لري او دغه علایق په عمل کې تر رسمي غولونکو سند و نو نه قوي ثابت شوی ، او د جنرال ضیاء الحق د دغې وینا له مخې چې افغانان په دغه جاري جنګ کې د پاکستان دپاره هم جنګ کوي ، د مخوا په شان دا مجاهدین بولي چې تر څو د کابل غیر قانوني رژیم ته وسلې ورسولې کیږي ، افغاني مجاهدینو ته هر د پاکستان لارې نظامي مرسته ورسوله شي ، لکه چې هغه پخپله د ژنیو د توافقاتو د لاسلیک کیدو په وخت په اسلام آباد کې ګڼو جورنالستانو ته څرګنده کړه چې «موږ به پوره ژمنه وباسو چې د ژنیو توافقات په عمل کې پلي کړو ، بې له دې چې هغه د افغانستان په داخل کې په مجاهدینو تاثیر ولري .» ده دا هم څرګنده کړه چې « پاکستان تیار دی د دې دپاره چې مجاهدین د کابل رژیم په بدلولو سره په خپل مقصد ورسیږي ، قرباني ورکړي.»

# د ژنیو توافقات او سرحدي موضوع

د ژنیو د توافقاتو یو بل ستر خصوصیت دا دی چې افغانستان او پاکستان پرلوړې سند سره دلومړي ځل دپاره دیوه بل سرحدات په رسمیت پیژندلی . دوی دلومړي ځل دپاره ژمنه وکړه چې « دیوه

بل له سرحدا تو نه به تخطی نه کوي . ،، په همدې دول هر یو لې متعهد شوچې دا به « یقیني کوي چې خاوره به یې په هیڅ دول د دې پاره نه پکاریږي چې د هغې لوړې عهدکوونکې خواواکمني، سیاسي خپلواکي ، ځمکنۍ بشپړتیا اوملي اتحاد نقض شي . یا یې سیاسي اقتصادي اوا جتماعي ثبات ګډوډ کړل شي .،، د افغانستان اوپاکستان دپاره دغه ډهنې کله چې د دوی ترمینځ پخوانۍ ټرخه مناسبات دپښتونستان دمسئلې پرسر په نظر کې ونیول شي ، دآینده دپاره ممکن دوږې مهمې ثابتې شي . له دې امله د دغې موضوع تاریخ ته یوه لنډه اشاره دلته ضروري ګڼلې .

افغانستان په کال ۱۹٤۷ کې دلوی هند په ویش سره یعنې هغه وخت چې پاکستان مینځ ته راغی پېښنهاد وکړچې په هغې سیمې کې چې په کال ۱۸۹۳ کې د دیورنډ د معاهدې له مخې له پخوانې افغانستان نه بېلې شوې دي ، د خود ارادیت داصل له مخې دسیمې خلک وپوښتل شي . افغانستان دغه سیمه پښتونستان ونومولې . پاکستان دغه نظر ونه مانه اود دواړو هېوادونو ترمینځ کشاله پیدا شوه ؛ اړیکې سره خراب ، اوحتی یوځل و شلېدل ـ ځکه چې پاکستان وروسته د سنټو او سیټو په نظامي سیمه ییزو ـ پکتونو کې غړی شو ، اوله دې امله له امریکې سره یې خاص اړیکې ټینګ کړل ، اوځکه چې د هندوستان اوپاکستان ترمینځ د کشمیر

کشاله جدي وه ، اوخوځله سره پرې وجنګېدل ، شوروي او هندوستان دواړو د پښتونستان په سر د پاکستان پرضد د افغانستان خوا ونيوله اوکوښښ يې وکړ چې د پښتونستان د کشالې نه په استفادې سره د پاکستان حالات بې ثباته او ګډوډ کړي . د افغانستان کمونستانو هم د پښتونستان کشاله په همدغه منظور تېنګه ونيوله - له پاکستان سره د اړيکيو په خرابېدو سره بېرته پاتې افغانستان د پرمختګ په منظور د روسانو په شوروي اتحاد متکي شو . شوروي په دې دول په افغانستان کې خپل نفوذ خپور کړ ، او کمونستان يې وروزل . خبره دې حد ته ورسېده له ترڅو په پای کې شوروي په افغانستان ورانګل . په دې دول د شوروي دغه تېری او دغه څوکلن جنګ په اصل کې د پښتونستان د کشالې سره نېغ اړيکی لري ، په عين حال کې د سرحد په حيث د ديورنډ همدغه کرښه ده چې د شوروي او کابل دنا کامه او د افغانانو د بربالېتوب يولړې مګر بېځکې عامل وګرځېد . په ميليونو افغاني مهاجرينو له دغې کرښې نه هغه غاړه د خپلو قومي ، ديني او ژبنيو وروڼو په مينځ کې په پراخ تندي او خلاصې غېږې سره د مهاجرت ژوند ومومي او د دوی وسله وال تنظيمونه هلته دېره شول ، او له هغه ځايه يې دغه په افغانستان کې نه داچې بې له کوم خنډ نه ، بلکې د پاکستان د حکومت او خلکو او د نورو ملکونو په کومک سره د آزادۍ جنګ ته دوام ورکړ . د کابل او شوروي

حکومتونو د پاره ممکن نه شوه چې یا د دیورهنډ له کړنې نه هغه خوا
دمیلیونو افغانانو د مهاجرت مخه ونیسي کرغه هم ډیرې د مهاجرت
په لاره کې ترپنه ووژل ، او یا د دیورهنډ کړنه د ببخي د پرېوځ په
مپشته کولو سره په اغیزمنه توګه بنده کړي ، او په دې دول افغانانو نه
په ځپل هیواد کې اول قرنطین او وروسته لاندې کړي . د کابل حکومت
د « ستر سرحدات » په نامه پرله پسې هلې ځلې په همدغه سبب بې نتیجې
شوې . د کابل رژیم وروسته په دې فکر شو ، چې د پښتونستان
موضوع بېرته څوندۍ کړي . د همدغه رژیم د باندنیو چارو
وزیر عبدالوکیل د مارچ په نیمایی کې د څنیو په خبرو کې د دیورهنډ
موضوع بر سېره کړه ، او د دیورهنډ کړنې له مینځه وړل یې وغوښتل .
د مارچ په ۳۱ مه شېبلغدنادزې د بلغاریې په مرکز صوفیې کې په دې باب
ترهغه لا د مخه لاړ ، هغه حتی د څنیو خبرې په هغې پوهې سترې
وګڼلې او څرګنده یې کړه چې د افغانستان او پاکستان سرحد نا حله
موضوع ده ، او پاکستان دلاړې خنډ - د ده په قول « هیڅ افغان
په له هغه سره موافقه ونکړي ، ځکه چې هغه په عمومي دول د ملي او
په خاص دول د پښتنو دګټو په خلاف دی . » د دوی دغه نارې
د بل خه د پاره نه ، بلکه د دې د پاره وې چې په پاکستان فشار
راوړي ترڅو د څنیو موافقه د دوی په خوښه لاسلیک شي - خو د
پاکستان په درېځ کې خه توپیر رانه غی ، بلکه چې پاکستان په ۱۹۸۱

کې هم د همدغې موضوع په سر د کابل د رژیم یو لیک بیخي بېځوابه پرې اینبی و. لیک په دې باب وچې که پاکستان د کابل له حکومت سره خبرې وکړې تاریخي سرحدي کشاپي به له مینځه لاړې شي. د کابل رژیم په دغه لیک کې دېته اشاره کړې وه چې حاضر ی د دیورنډ کرښه د بین المللي کرښې په توګه ومني - خو چې پاکستان له هغه سره خبرې وکړې، او په دې وخت کې یې په رسمیت وپېژني. د دیورنډ کرښې په هکله دغه دوه متضاد درېځونه بس دې دپاره عوښتې وو چې د کابل حکومت دځان د استقرار دپاره تر ښه استفاده وکړې. کمونستان تل او هرچېرې همدغسې کوي او دوی په ۱۹۱۸ کې د بوسټ لیتافسک تړون دځان دپاره سرمشق ګڼي، چې په هغه سره لینن د خپل نوی حکومت ګټه په نظر کې لرله، نه د روسیې دولت.

کله چې په ژنیو کې په نوروتکو جوړه وشوه، د کابل حکومت د دیورنډ کرښې په باب خپل درېځ پوره واړاوه، او د دیورنډ کرښې پې د خپلو تېرو ناروپه خلاف په رسمیت وپېژندله. خو په یقین سره ویل کېدلی شي چې د کابل ژرېم دپاره (که د ژنیو د توافقاتو تر نافذ کېدو وروسته پاتې شي) د غه مننه تاکتیکي اوتر هغو د تبول وړه چې حاکمیت پې تمینګ شي دوی د دې دپاره چې افغانستان په شوروي وتړي، کوښښ کوي د افغانانو

او پاکستان ایز ترمینځ اختلاف پیدا او شدید کړي . اوس تجربو ثابته کړې چې څرګنده چې افغانستان علایق د پاکستان سره خرابوي افغانستان په هماغې اندازې په شوروي اتحاد متکي کیږي او شوروي دیوه قوي ګاونډي په توګه دغه حال نه د ځان د پاره استفاده کوي. همدغه اوس کمونستان او روس پالان د دیورند کرښو په دواړو خواوو کې دهغې په خلاف فعالیت کوي . کمونستان د دې د پاره چې په هدف وپوهیږي په ظاهر کې نشلستان هم کیږي ، یا لږ تر لږه دهغوی پېښې کوي . هغه کسان چې غواړي د دیورند کرښه یوه موضوع وګرځوي ، په حقیقت کې کوشش کوي افغانستان بیا په کوم ټوډ ګرداب کې غرق کړي ، او روس او کمونیزم غټ ته ډې وسپاري - وایي لیونی خپله خولۍ د دوهم ځل د پاره نه ورکه وي. دا به دیوه ولس خامي وي ، چې ملي تېروتنې تکرار کړي . اوس پېښو ثابته کړې چې د پښتونستان په سر د افغانستان د حکومتي لوبانو چلند ناسم وُ - یوازې موسیٰ شفیق په دې فکر وُ چې « موږ نه غواړو افغانستان د پښتونستان نه قربان کړو .» ( د موسیٰ شفیق پیغام ، مخ ۱۸ ، پېښور ۱۳۶۷ ) . د تېرو لسو کلونو پېښو په عمل کې ثابته کړه چې څرګنده چې افغانستان له پاکستان سره خواږه خپلوي تینګه اړیکې لري ، له بل هېڅ ملک سره یې نلري د افغانستان په سیاسي تراجیدیو کې تاریخي دوستي یوسُل بیا د ازموینې وخته نه

وتله ، او وړسره دواړه ولسونه سره لا هم نزدې او ځیل شول۔
په نړۍ کې به دوه دغسې ولسونه نه وي چې سره دومره تینګ خواږه
علایق ولري ، دا به د دواړو هیوادونو په اساسي ګټه وي ، چې په
خپلو کې له دې وروسته بشري ، تجارتي ، تعلیمي او داسې نورو علایق
لاپسې هم زیات ، او سرحدي بندیزونه تر وروسته حده کم کړي
پاکستان ته د افغانستان په صناعتي کیدو کې ښه وندې ورکړه شي ،
او پاکستان د افغانستان دپاره په کراچۍ کې د سوداګرۍ مالونو د
پاره اساسي او دایمي اپسانتیاوې برابرې کړي ، لکه چې دیوه خلقي
وزیر په قول په ۱۳۵۸ کې جنرال محمد صیاد الحق همدغسې وعده
ورکړې وه ۔ افغانستان به د پاکستان له لارې د غربي نړۍ له
تخنیکي او ساینسي غنا او پرمختګ نه هم مستفید شي او د روس
او کمونیزم له خطر نه به لرې شي ، په هرحال په دې ډول به افغا۔
نستان او پاکستان د برابرۍ په اساس په واقعي توګه دیوه بل متمم
او مکمل وګرځي ، او خلک به یې د سولې او ارامۍ په سیوري کې د
ښه ژوند کولو ، او د وروړۍ او انساني ښو اړیکیو د پالنو د پاره
د ښو او دایمي اوښتالو هڅه ټینګه کړي وي ۔

خو باید په یاد ولرل شي چې د پاکستان او افغانستان دواړه
ولسونه په سره ښه او تاکلو خاورو کې ژوند کوي ، او د ژنیو
توافقنامې او مې سند د « هرډول سرحدونه » د هر ډول « والکې »

دهریوه « ملي خپلواکي » دهریوه « ملي اتحاد » اودهریوه « محکمه پښې تیا » چې دا ټول دملي دولت اساسي عناصر ګڼل کیږي ، په کلکه تاسیس کړي ، اوپه دغه سندره دواړو ژمنه کړي ، چې هغه به نه نقض کوي - دغومره چې پاکستان او افغانستان په دغه سندره دښه ګاونديتوب په مقصد ډېرې اودقیقې ژمنې کړي ، شاید د انسان په ټول تاریخ کې دوه نورې ګاونديو هېوادونو په خپل مینځ کې سره نه وي کړې .

# دژنیو توافقات اودحکومت بیا روغونه

خودغه روستۍ خبرې به هغه وخت مفهوم ولرلی شي ، چې په افغانستان کې بې له بهرنۍ مداخلې اولاس وهنې نه پخپله دافغانانو له خوا دعمومي انتخاباتو په نتیجه کې حکومت مینځ ته راغلی وي ، طبعي ده چې دغسې حکومت هغه وخت مینځ ته راتللی شي ، چې هلته حالات نورهم ښه شي - ترڅودغسې حکومت مینځ ته راځي باید دیوځانه مودې دپاره لږ تر لږه دغسې سیاسي نظم دعبورې یا موقتي حکومت په نامه فعال وي چې دخپلې دلې اوخلوې پرې اتفاق وکړي ، اودغه اتفاق له برکته اوربند مراعات شي کې دغه کار ونه شي - دژنیو ټول توافقات به دسیلاو په مخ کې دشګوبند وي . په دې حساب په انتقالي دوره کې د موقتي حکومت شته والی اساسي اهمیت لري .

په انتقالي دوري کې د موقتي حکومت د تشکيل موضوع په ژنيو کې د خيلو حکومتونو استازو ديوې مفاهمې له مخې کوردوين ته وسپارلې چې هغه به په شخصي لحاظ ، نه په رسمي توګه د هغه د مينځ ته راتللو د پاره لاره هواروي - او د دوی حکومتونه به د هغه سره په دې باب همکاري کوي - د هغه اهميت له مخې چې دغه موضوع يې لري ، دغسې فکر کيږي چې کوردوين ته مشکله وظيفه نه ، بلکه نا ممکنه وظيفه ورپه غاړه شوې ده مګر دا چې تولې خواوې په ټينه شوروي اتحاد له هغه سره د زړه همکاري وکړي - خو له بده مرغه دغوايي ترکودتا نه وروسته د کابل حکومتونو د شوروی عمالو په هڅو ني اوملا نتي دوره د پر اوغټ جنايتونه په افغانستان کې کړې دي چې د هر مسلمان او ملي افغان د پاره يې نا ممکنه کړې چې په شوروي او د هغه په کابل ژغيم باندې اعتماد وکړي . ديوه جلاوطني افغان سياستمدار په قول « ترڅو ( د کابل ) حکومت سقوط ونه کي او بل حکومت يې په ځای ونه درېږي ، خطرلا هم موجود دی . دا بايد هيڅکله هيره نکړو . »

بيخکې مشکل په دې کې دی چې د غوايي په کودتا سره په افغانستان کې سياسي خلا پيدا شوې ، او دغه خلا تر اوسه په ځای پاتې ده ، که څه هم د شوروي غوندې يو ستر طاقت د هغې د کولو د پاره لښکرې را دغه کړې ، خو افغان دارادې په مقابل کې ناکام

شو . د دغو لښکرو په وتلو سره به یقین دی د دغې خلا د کولو د پاره هڅې لیونۍ شي . باید هیره نه شي چې د غوایي ترکودتانه ژر ورسته ، یعنې د شوروي له نظامي حضور نه د مخه هم ، د حکومت په سر ، یا په بل عبارت د همدغې سیاسي خلا د کولو په سر جنګ وُ ، چې د موضوع اهمیت څرګندوي .

## د موقتي حکومت په باب د کابل ژړا م ډیرځ

د دغې خلا د کولو د پاره اوس د یې پراخې ډلې سمله لاسه په نظر کې راځي یوه ډله یې د کابل ژړا م دی - د کابل د حکومت سروال او د ګوندیانو په اصطلاح د جامعې او حکومت « لوړی ورکوونکی » د خلق دموکراتیک ګوند دی . دا په اصل کې مارکسستي ګوند دی او غواړي تولنه په مارکسستي اوکمونستي اصولو اداره کړي . په اصل کې په یوه ګوندي طرز یعنې یولنې په څپل حاکمیت معتقد ګوند دی - خلقیانو د شل میاشتنې حکومت په دوره کې عملاً د - همدغه اصل له مخې حکومت کاوه - نه یولنې نورو ګوندونو ، حتی غیر ګوندي اشخاصو ته یې په حکومت کولو کې چانس نه ورکاوه ، بلکه هغوی یې تر وېښې پورې وځپل او له مینځه یوړل - ورسته د ګوند پرچمي جناح د ببرک کارمل په مشرۍ ، چې شاته یې د شوروي نظامي ملاتړ و ، د ائتلافي حکومت نارې سر کړې ، خو په عمل کې یې یوازې

یوځوغیږګوندي تکنوکراتان په حکومت کې داخل کړل او حکومت
دګوند په لاس کې وُ. د ۱۹۸۶ کال په مه کې چې نجیب الله
دګوند سروال وګرځول شو، غیږګوندیانو ته په حکومت کولو کې
موقع ورنه شوه. د ۱۹۸۷ کال په جنورۍ کې چې نجیب الله
دتش په نامه «ملي روغې جوړې» سیاست اعلان کړ، حتی
اسلامي مجاهدو ګوندونو ته هم په ائتلافي حکومت کې د برخې
ورکولو بلنه ورکړه شوه - ورځې وروسته حتی پخوانی پاچاهم وبلل
شو. د همدغه کال په اوړي کې نوی اساسي قانون رایستل شو
او پخپله نجیب الله په یوې فرمایشي لویې جرګې کې د جمهور رئیس
په توګه وتاکل شو. په عین حال کې څوګوندي سیستم هم
اعلان شوو، او دهغه له مخې یوشمیر پخوانیو وزیرانو او هم د
دوی وروستۍ چې دلو- سازا او سزا- یوځوغړیو ته په
حکومت کې مقامونه ورکړل شول.

نجیب الله تراوسه هم دملي روغې جوړې سیاست او هم
د ائتلافي حکومت په باب نارې خوږوي، او هم دننه او دباندې
د پخوانیو حکومتونو نومیالیو کسانو ته بلنې ورکوي- دده اصلي
مطلب دادی چې ناپیلی، نامتعهد او بیطرف افغانان او هم د مجاهدو
تنظیمونو څخه ځینې کسان او حتی دلې دخپل حکومت په لور
جلب کړي. دده د ائتلافي حکومت په دې شکل دی چې د

حکومت اصلي والګی يعنې د قدرت او حاکميت چلولو وزارتونه
لکه د ملي دفاع ، دولتي امنيت ، د کورنيو چارو، او هم د مالیې
وزارت او د دولت سروالی به د رسمي ګوند په لاس کې وي په
دې دول دی اوس حاضر دی د خپلو اصولو په خلاف د خو ګوندي
طرز له مخې حکومتي والك وويشي ، خو حاضر نه دی د حکومت
اصلي ستنې يا حاکمې لوړې څوکې له لاسه ورکړي . له دغه
سره ګوندونه ائتلاف هم اسلامي تنظيمونو، هم ښوانې پاچا او هم د ښاهي
ټلیو او نورو مياليو افرادو په هرحال او هره بڼه چې وي ، په غوښه توګه
ردکړی دی - د رد دليل يې يوازې دا نه دی چې دا د ملحدانو
او کمونستانو ګوند دی ، او له دوی سره ائتلاف کول په واقع
کې د خلکو د هيلو سره مخالفت کول ، او د ټولو هغو قربانيو او-
مجاهدو باطلول دی چې دا د غوښه کلونه يې له هغو سره کړي
دي ، بلکه له دې امله هم دي چې دغه ګوند د شوروي د لاس الله
او په بالقوه دول د کمونستي انټرنشنلستي خصوصيت په وجه
د افغان د ملي حاکميت ، او په يوه کلمه د هېواد د آينده د پاره په
اساسي دول خطرناك دی . دغه خطر حکمه اساسي دی چې شوروي
دې ته ستر نظامي او بې ځنډه قدرت په توګه د افغانستان چم ګاونډی
دی ، او شوروي د همدغه ګوند له لارې په ډېرو ډېرو پلمو کولی
شي ، د افغانستان د پاره د اوس په شان بيا خطرشي . نو له دغه

گوند سره ائتلاف کول ، یعنې هغه پیاوړی کول ، اولنۍ تولږه یې په ځای دلیل ، په واقع کې د افغان د ملي بنسټ ضعیفول دي . ورد بل غټ دلیل یې دادی چې د همدغه ګوند لوبانو د چل حاکمیت په دوره کې ، لکه چې تولو ته څرګنده ده ، د افغانانو په مقابل کې دومره د پرځنایتونه کړي چې دهغو په سبب دغه ګوند دغه استحقاق له لاسه ورکړی چې د افغانانو سیاسي سرنوشت هغه ته وسپارل شي - دغه ګوند په خپلو جنایتونو سره هر وجدان لرونکي افغان ته - نه هر هغه انسان ته چې اخلاقي ، ديني ، او انساني ارزښتونه د فردي او تولنیز ژوند بنسټ ګڼي ناممکنه کړي چې د هغه سره ائتلاف وکړی . همدغه سبب دی چې د کابل ښاریم د نجیب الله د رنګ رنګ ګډ شتونو سره سره یوازې یو شمیر د ابن الوقتانو ، تسلیم طلبانو ، او حکومتي مقام لمانځونکو له نه ډارونو همکاري نه پرته د ملت د عظیمې برخې له نظره هماغسې بې اعتباره او په میدان پاتې دی .

# د مؤقتي حکومت په باب د مجاهدینو د اتحاد درېمه

لکه چې څرګنده ده د مجاهدو تنظیمونو او وګړنی اتحاد د اوسنۍ سیاسي خلا د ډکولو د پاره د پرمهم دی . په اسلامي افغانستان

کې چې هر وخت اسلام ته خطر پیښېده مجاهد غوږځنګونه مینځ ته راغلي، اوفعال شوي دي. ځنګه چې افغانستان د اسلامي نړۍ په سرحد کې له غیر اسلامي کولتور سره، په تېره هندویزم سره مخامخ و مجاهد خوځښتونه په زیات شمېر په افغانستان کې مینځ ته راغلي دي. دهغو ترڅنګه اسلامي تصوفي دلې، په تېره نقشبندیه دله، دلته په سیاسي ډګر کې هم فعالې شوې دي. دهیواد دغه اوسنی اسلامی غوږځنګ چې ترزیاتې اندازې د اخوان المسلمین له غوږځنګ نه اغېزمن دي. نزدې پنځه ویشت کاله دمخه په کابل پوهنتون کې د کمونستي خطر په مقابل کې توکېدلی. په خاص دول هغه وخت چې د محمد داؤد خان په جمهوري کې کمونستانو ته په حکومت کې مقامونه ورکړل شول، غوږځنګ دومره منظم شوی و، چې په ۱۹۷۵ کې یې یوشمېر باغوږونه هم وکړل، خوهغه ټول وځپل شول. د ۱۹۷۸ کال دغوایي له کودتا، په تېره په افغانستان باندې د روسیې له یرغل نه وروسته دغه غوږځنګ په یوشمېر بېلو بېلو تنظیمونوکې ترهر وخت نه زیات د مسلمانو افغانانو له ټینګ ملاتړ نه. بهرمن په ټول ملک کې خوږ، او د جهاد په لاره کې د دیرغلګر روس او د کابل کمونستي رژیم د نظامي اوپوځي قدرت په برابر کې د مقابلې نه ماتېدونکی، بلکه ماتوونکی سپرشوی وو. د دغو بېلو بېلو تنظیمونو ترمینځ په ۱۹۸۰ کې د اسلامي اتحاد په

نامه پیوستون راغی ، خو روسته په داسې حال کې چې پښتون
دتولو مرکز وُ ، او دوی د جهاد په لارکې په بېلو بېلو درجو په
اسلامي هېوادونو او اسلامي غورځنګونو ، په ټوله د پاکستان
او سعودي عربستان له ملاتړ نه بهر من وو د دوی د اوګونی
سني جهادي تنظیمونو ترمینځ د درې ګوني اتحاد ، او څلورګونی
اتحاد په نامه دوه دلې څرګندې شوې چې لومړۍ یې په مطبوعاتي
نړۍ کې په غیر دقیق ډول د عنعنه پالې او بله یې د بنسټ پالې یا
بنیادګرایي په نامه یاده شوه . خو لومړنۍ یې په دې فکر معلومیږي
چې د افغانستان د اسلامي جامعې په تنظیم کې د اسلامي اصولو او
ارزښتونو تر څنګ ملي او عصري ارزښتونه هم په نظر کې ونیول
شي - او بله یې په دې فکر ده چې جامعه د اسلامي اصولو او ارزښتونو
له مخې له سره او پوره تنظیم شي . دوارې دلې تنظیمونه د تولو مسلمانانو
په پیروي د اسلامي جمهوریت د تأسیس د پاره فعالیت کوي او تول
د « د اکتر فاروق اعظم په دې شعار کې سره یو دي چې وایي « د
خدای رضا زمونږ هدف ، محمد زمونږ رهبر ، قرآن زمونږ قانون
جهاد زمونږ لار ، او شهادت زمونږ ارزو ده . » (خپلواکي مخ
۹۰ ، ۱۹۸۲) . د ۱۹۸۵ په مې کې د دوارو دلو ترمینځ د افغانستان
د مجاهدینو اسلامي اتحاد په نامه سره اتحاد وکړ . په واقع کې دا یو
ائتلاف دی ځکه چې هر تنظیم خپل خپلواک وجود ، او څانګړی

هویت ساتلی دی . یوازې لویانو یې په خپل مینځ کې یوه مرکزي شورا جوړه کړی ،چې د هغې سرواړ د اتحاد وینډوی یا رئیس په نامه د یوې لنډې مودې د پاره تاکل کیږي . د غه شورا به ترهغو فعالیت کوی، تر څو انتخابی شورا یې ځای ونیسي . شورا د جنورۍ په ۳۱ مه د موقتی حکومت په ترکیب جوړه وکړه ، چې هغه به مجاهدینو، مهاجرینو ، او دننه په افغانستان کې له مسلمانو افغانانو نه جوړ وي . د فبروري په ۲۳ مه د هغه فورمول له مخې د مؤقتی حکومت تشکیل اعلان وشو ،چې د غه یې پوره یادونه شوې . د هغې عالي شورا له خوا انجنیر احمد شاه او ذبیح الله مجددي په ترتیب سره د موقتی حکومت رئیس او مرستیال وتاکل شول . بیا د دوی د تنظیمونو له فعالیتونو نه د حکومت غړي اعلان شول او د غه پروسه لا روانه ده -

د اتحاد عالي شورا د روڼې د میاشتې په ۲۵ مه

په څلورو فصلونو او ۸۷ مادو کې د موقتی حکومت د پاره په نامه د « دستور العمل » یو عمومي چوکاټ وضع کړ چې د موقتی اساسي قانون حکم لري .

د اهدا فو په مادو کې لومړۍ یې « افغانستان نظام اسلامي مطابق نص قرآني « ان الحکم الا لله » دوهمه یې « اداره و - پیښ برد امور کشور برمبنای احکام شریعت اسلامي مطابق

فقه حنفي » او درېمه يې « ادامه جهاد مسلحانه إلى اخراج کامل ، فوري و بدون قيد وشرط قواى روسي از کشور، سر نگوني رژيم ملحد و تاسيس افغانستان آزاد، مستقل واسلامي» دي - لکه څنګه چې دمخه يې يادونه شوې ، په دغه دستورالعمل کې د رهبري شورا د اختيار او واک له مخې ترټولو ارګانونو لوړه ده چې د اووګونې تنظيم له مشرانو او د هرهغه چا نه چې دوی يې په غږيتوب ومني ، جوړه ده - حکومت به د شورا له خوا مينځ ته راځي ، او په ټولو ارګانونو کې به هغې ته مسؤليت لري . شورا به خپلې فيصلې په « عادي مسايلو » کې د رايو په اکثريت، په « مهمو مسايلو » کې د رايو په اتفاق او په « مهمو قضايا وو » کې د رايو په دوه - درېمه کوي - حکومت په واقع کې اجرائيوی، او اداري ارګان دي، چې ۲۱ وزارتونه به لري - د افرادو حقوق په دوو مادو کې په دغه دول ذکر شوي دي ،

« ۷۵ - حق تعيين سرنوشت ملت افغانستان متعلق به مردم افغانستان است . »

« ۷۶ - کافه ابناء افغانستان دراستفاده از حقوق حقه شرعي خويش آزادي تام دارند . »

په ۵۸ مادو کې د نورو څېړنو په دله کې د « شرعي حجاب اصل» باندې تينګار شوی دی -

لکه چې معلومه وه دستور العمل په داسې حال کې چې تنظیمونه په وطن کې نه، بلکه له هغه نه دباندې، او هغه هم د جنګ او اضطرار په حال کې دی ایستل شوی. کمونستان ترینه ګټه دي. پخوانی پاچا ته یې کې ور خلاص دی. له دستور العمل نه څرګنده ده چې په تنظیمونو کې د اتحاد او همکارۍ تمایل مخ په قوت دی، او ګمان کیږي ترڅو روسي لښکرې په وطن کې وي، په هغې به تینګښت راشي. په ازادو انسانانو کې پوره اتفاق سمله لاسه راتللی نه شي. اتحادیه پروسه ده چې وخت، زغم او متقابل ګذشت غواړي.

## موقتي حکومت اونور افغانان

طبیعي ده چې په وطن کې او دباندې نور افغانان هم دې دي چې د حکومت په بیا رغونې کې رول لوبولی شي. دا هغه پراخه پله افغانان دي چې د کوم مرکزي فکر په شاوخوا تنظیم نه دی له دې امله په اسانه یې تعریف هم کېدلی نه شي په دې پراخ دول دی د وطن په سیاسي نظم کې د دینی ارزښتونو ترڅنګ هغو ملي غوره دودونو، کانو شنونو او عنعنو ته په پوره اهمیت قایل دي چې افغانان همدا اوس هم په هغو سره خپلې لانجې هوارولې، مرکې اوجرګې کوي، اوفیصلې صادروي، او د دغه کار په پایله

کې تنظیم مینځ ته راوړي او هغه ته تکامل ورکوي ، او ټولنیز او دولتي سطح پې رسوي . له دې امله په دې کې د غه فکر قوي دی چې حکومت ، په هرشکل او بڼه چې وي ، باید اساساً ټولنه د خلکو په خوښه مینځ ته راغلی وي - دې پدې فکر نه ښکاري چې د دې جامعه دې پوهه د نورو فکرونو له مخې تنظیم وي - د دې معنی دا نه ده چې د حکومت او جامعې په تنظیم لوکې بـه دې له هغو اړیکښتونې ، او فکرونو نه ځانونه بې نیازه ګڼی چې نورې جامعې پرې تنظیم شوې دي او د هغو مفیدیت په اوږدو تجربو سره ثابت شوی دی . خو دې له هغو نه هغه غوره کـوي چې د دې له کولتوره او تولنې سره سرخوري ؛ یعنې د هغو یوه برخه کېدلی شي ، هغه تکمیلولی شي ، او غنې کولی شي - د غوره کولو په دغې عملیې کې دې دیوه اصل مراعات حتمي ګڼي چې هغه د خوښې او توافق او د عملي کېدو د امکان اصل دی . توافق به د آزاد قضاوت او آزاد نظر له مخې وي ، په دې حساب دې تولې اجتماعي فیصلې د جوګو او هیئتونو له لارې د رایو په اکثریت سره کوي ، او په دې عقیده لري چې د غسې د له یزې فیصلې تر هغه فکر نه چې دیوه کس ، یا یوې ډلې وي ، که څه هم د عقلمندۍ نوم پې تثبیت وي ، نه دا چې غوره دی ، بلکه د جامعې په ګټه اوخیر دی .

د دغې خبرې پراخې دلې بل غټ خصوصیت دادی چې افراد
یې د جامعې دچارو د اجرا- وړې وي کې ستړې - په یوې
مؤسسه یېزې یا تشکیلي چوکاټ کې دننه لټوي ؛ نه دغه دله ،
نه هغه طبقه په دې یا په هغې غوږه بولي ، او نه یو یا بل مشر
سردار ، لیډر ، یا په هربل نامه چې وي ، ترهغه څرګند مګر
تحول منونکی مؤسساتی چوکاټ نه د باندې د سوپرمین ، یا ټ
نورو پورته فرد په شان د حقیقت اوخیر منبع ګڼي ، چې په
ټولو حالاتو کې دغیر عادي او اضطراري حالاتو په شمول په
دې قادر وي په کومې خاصې اخصاري کلي یا کوم خاص -
فوړمول سره د انسانانو د ټولو کشالو غوښتنې سمله لاسه خلاصوي
او انسان ته به نجات ورکوي ، او په دې دول به د ځان دپاره
دغه استحقاق تر لاسه کوي چې له ټولو قوانینو او چوکاټونو نه به
د باندې دکوم غیر مسؤل ستر فرد په شان حیثیت پیدا کړي -
موسساتي طرح ، یا تشکیل به پخپله د دموکراسۍ یعنې د ټولنې
د نړیاړو خلکو د مجموعې اتفاق قرار دادی تیګ تفاهم نتیجه وي ،
په دې دول هغه به په هیڅ وجه په ټبره دافغان د اجتماعي - اقتصادي
جوړښت او د افغانانو د آزادي پالنې روحیې په نظر کې نیولو سره
نه په یوکلۍ سیستم بدلوي ، او نه به د هغه لوړ شکل یعنې
حکومت د بې مسؤلیتې او دکتاتورۍ په حال کې وي ، چې هغه

به د جامعې او خلکو په نامه پخپله د څوندیو واقعي انسانانو څوند
او حیثیت ته اړتیا نه وي ، بلکه هغوی به په دغه او هغه
پلمه د جامعې په نامه چې په واقع کې د حاکمې سیاسي ډلې په نامه
کیږي ، قربانۍ ته هڅوي . په واقع کې به افراد که د طبیعت او
شخصیت په لحاظ ښه وي ، یا بد ، غټ وي یا کوچنۍ ، عادي وي
یا نابغه - خپل اجتماعي کردار او کړه به د همغه غوره شوي مؤسساتي
طرحې له مخې عیار وي ، او فرد به په هر اجتماعي او حکومتي ډریځ
کې چې وي ، یعنې یا له عوامو څخه وي ، یا له خواصو څخه او یا هم دغه
وخت د پاره غوره شوی واکمن او سروال وي د نورو افرادو
له پاره انتقاد نه لرونکی او غیر مسؤل نه وي . په همدغه مؤسساتي
چوکاټ کې به دا دیوه مسلم اصل په توګه منل شوی وي چې څنګه
چې فرد په اصل کې د رنګ رنګ هوسونو ، طبیعي انسیاقاتو یو غیر
قابل اعتبار او هم تر پرځده تر اوسه نامکشوف او ناڅرګند
په ځان مین حیوان دی ، او څنګه چې قدرت او واک فرد ته د -
فرعونیت چانس او نشه ورکوي ، باید سروال هم د نورو افرادو
په ځیر د تضمین شوی مؤسسه یز پرالا انتقاد او له قانونې
بندیزونو څخه آزاد نه ، بلکه د هغو تابع وي . همدا راز د دغسې
پراخې ډلې افراد په لږو د پرتفاوت سره په دې فکر بښکاري چې
څومره چې په جامعې کې سیاسي سازمانونه جوړیږي ، اوتومره

چې په هغوکې ضیق انضباط او دسپلین عملي کیږي ، په هماغه اندازه د افرادو والك او اختیار ته زیان رسیږي ؛ له فرد نه فرد توب ځې ، او دهغه ممکن په یوه لوی او زړینوکې کل کې ځان ورك کړي . د پرکړې کولو والك ، اوپه واقع کې پخپله واك به د سازمانونو د مړو لوبو مشرانو په لاس کې لوبیږي ، او دهغوی هریوه دپاره به د وړو وړو دخپل مقام په تناسب هم د حاکمانه حا - کمیت هوس پیدا کیږي . په نتیجه کې به د جامعې په تاوان د اساسي تېروتنو احتمال پیدا او زیاتیږي ، مګر داچې تول سازمانونه اساساً د افرادو د آزادۍ او قانون په بنا عیار شوی وی ، او په هغوکې د انتقاد اصل دیوه اصل په توګه منل شوی وي او غړیتوب یې ضیق نه وي ، او هغه بس دفرد په خوښه یعنې له هیڅ رسمي - خارجي فشار او اجبار نه تحقق موندلی وي .

طبیعي وه چې دغسې پراخې دلې ته منسوب افراد به په کوم بېل تنظیم او ګوند کې راټولېدلی نشي - لکه چې دغه ورته اشاره وشوه ، په دغسې افرادوکې اساساً د تنظیمېدو تمایل ضعیف وی. دا هم د دوی ضعف او هم د دوی قوت دی - دوی په ځان اتکا او اعتماد لري ، او نه غواړي د مطیع مامور ، مطیع غړی او مادون په حیث خپل شخصیت نفي کړي ، او ځان له ځان نه بېګانه کړي - له بلې خوا له دوی نه په ځینوکې ممکن د ځانګړتوب او

فرديت او په ځان مين توب حس دومره قوي وي چې دنيا به په خپل ځان کې ګوري او هرڅه ته به له شخصي نظره وينې . په دغسې افرادو کې به دابن الوقتۍ ، اپارچونزم او بې پرنسيپه احساس ښه قوي هم وي .

دوی به هربې يوې خاصې کورنۍ ، يوه خاص قوم ، يوه خاص ملیت ، يوې خاصې سيمې ، او يوه خاص ژبنی - کولتور ته منسوب وي او دغه انتساب به د ځان او هويت د پاره ضروری ګڼي ، خو د افغان په نامه نورو افغانانو ته په هره نامه چې وي نه يوازې دمدني قانون او اسلامي شرعې له مخې ، چې ملت شمول او عالم شمول دي ، بلکه د اجتماعي وجدان ، ملي شعور ، او وطني احساساتو له مخې د ورورد او وطندار په حيث په يوه او برابر نظر ګوري او د اجتماعي مسايلو په سر به له هرهغه افغان ، او هرې هغې ډلې سره همکاري کوي چې د پورته ذکر شويو خصوصيتونو سره سم د وطن او د دغو بېشمېره واحدګيو له دايرې نه وتلی او هسک شوے يعنې تام افغان ثابت شوی وي .

د دغسې افرادو شمېر لکه چې په هرې ټولنې کې زيات دی زمونږ په ټولنې کې هم بېخي زيات دي ، او د چوپ اکثريت په نامه په ټول ملک کې خور - له بده مرغه د ټپرو لسوکلونو په بهير کې چې يوه منحطه او په خپل فکر او ايډيالوژيکه بې لارې شوې ډله

د شورويي په زور په وطن حاکمه شوه ، وتلي افراد يې د آزادي پالو، قومي پالو، محلي مشرانو ، دموکراتانو، ملي پالو، بيورو - کراتانو ، او د حاکمه طبقې غړيو ، او په يوه کلمه د ضدانقلاب په نامه په خورا ډېر شمېر د نړۍ مختلفو کونتونو ته په پراره مجبوره کړل، او نور يې د نړۍ په وطن کې وځپل - سره له دې هم څنګه چې هېڅ مدني او انساني جامعه له دغسې افرادو نه غير وخودنشي لرلې ، همدا اوس هم په افغاني جامعې کې د دوی شمېر په خرګند ډول ډېر دی - اخر تول انسانان نه غواړي سياسيون اوسي ، حتی تول نه غواړي سياست وکړي - سياست د ژوندانه په ډېرواړخونو کې بس يو اړخ دی .

# کورد وویز او افغان ائتلافی حکومت

اوس چې ائتلافی حکومت په باب د افغان مختلفو دلسو درېځونه یوشمه روښانه شول ، ایا د کورد وویز د پاره په ممکنه ډول چې دهغه د جوړېدلو د پاره لاره هواره کړي ، لکه څنګه چې د څېړنیز د تولو د خپلو دلو دیوې مفاهمې له مخې ده ته دغسې ماموریت هم ورپه غاړه شوی دی ؟

د ایریل په اتمه هدا چې د څېړنیز د تواقفاتو په تولو تکو موافقه راغله ، کورد وویز په یوې مطبوعاتي مرکې کې د افغان د موقتي حکومت د جوړېدو په باب اساسي تکي څرګندکړل او ویې ویل چې « د خبرو په تول بهیر کې په پرله پسې دول منلې شوې ده چې د پراخې فیصلې هدف د افغانانو د تولو دیوه پراخ - بنسټه او - سملاسي ګډون معنی لري ، او دا پراخې په یوه پراخ - بنسټه حکومت سره تحقق موندلی شي .» یوه سیاست وړوسته دمې په لسمه یعنې هغه وخت چې د موقتی حکومت په باب اووه ګونې اتحاد خپل فورمول وړاندې کړی وُ ، او په پلی کولوېې پیل کړی وُ ، کورد وویز په واشنګټن پوست کې په یوې لیکنې کې له مجاهدینو نه په کلکه وغږېدل چې « د پراخ - بنسټه حکومت

د تشکیل دپاره دننه په اتحادیې کې د مشورو میدان پراخ کړي او د افغان ملت ټولې ډلې یکې شاملې کړي .» د ده په نظر د پراخ بنسټه حکومت معنی داده چې د افغانانو ټولې هغه ډلې او افراد چې په سیاست او حکومت کې موثر او وارد وي د دغسې موقتي حکومت جزئ شي . ده په مشخص دول څرګنده کړه چې ، د جبهه ولې قوماندانانو ، له هغو سیاسي او نورو مشرانو سره چې هغوی اوس د اتحاد جزئ ندي ، او هم د مهاجرینو له مشرانو سره خبرې وشي . په همدې دول د ده په نظر باید له هغو نومیالیو افغانانو سره چې بخوا یې حکومتي مقامونه لرل ، او له نورو مهاجرینو سره د یې هم سلا مشوره وشي . ده دا هم وویل چې « په پرله پسې دول پټوندل - شوې - چې حاکم ګوند چې له ۱۹۶۵ نه راهیسې وجود لري ، د افغان د سیاسي ترکیب نه بهلیدلی نشي .» په همدې دول د محمد ظاهر خان په باب یې هم په صراحت سره وویل « د پېرو افغانانو په نظر بخوانی پاچا په دغسې پروسې کې رول لوبولی شي .» . د کور دوبین په فکر پراخ - بنسټه حکومت همدغه دی ، او دا د پاکستان د حکومت له نظر سره هم سر خوري ، چې وایي باید په انتقالي دوره کې د افغان ائتلافي حکومت په برابره اندازه له مهاجرینو ، د مجاهدو تنظیمونو له مشرانو ، او د کابل د رسمي ګوند نه جوړ وي - پاکستان ګڼه هم د ژنیو د توافقاتو ، او په خاص دول له افغانستان نه

د شوروي قولو دولتو په خاطر له خپل هغه تېبګار نه واوښت چې باید ائتلافي حکومت د همدغه فارمول له مخې د څېړنیو د توافقاتو تر لاسلیک کېدو نه مخه مینځ ته راغلی وای ، خو په دغه نظر تراوسه هم ولاړ دی ، او زمونږ نورانی هغه تراوسه څو ځله تکرار کړی دی .

# شوروي او د افغان ائتلافي حکومت

د شوروي حکومت چې د پنټ هولټ په فکر غواړي چې حکومت په افغانستان کې راشي ، چې که په توله معنی دوست نه وي ، لږ تر لږه نادوست هم نه وي ، په دې باب طبعاً د کابل د حکومت ملاتړ دی . د هغه د باندینو چارو وزارت ویندوی ګراسیموف د اپریل په اته یعنې هغه وخت چې په دې باب د کو-ردوویز ماموریت اعلانېده ، څرګنده کړه چې د افغان د کشالې ( د داخلي اړخ ) د هوارولو د پاره د ملي روغې جوړې سیاست د حل بوازنه لاره ده ، لکه چې د مخه یې یادونه شوې د حل په دغې لارې سره به د کابل رسمي ګوند نه بوازې په ځای پاتې وي بلکه د حکومت لوړې حاکمې څوکۍ به یې هم په لاس کې وي .

نجیب الله د همدغه فکر له مخې د مې په لومړۍ اونۍ کې په دهلي کې ، یعنې چېرته چې د لومړۍ ځل د پاره یوه غیر سوسیالستي هېواد

ته بلل شوی و ، د پروپاګندی اعلان په شان پیښنهاد وکړ چې « افغانستان حاضر دی چې له کوم قید او شرط نه ټولو اپوزیشن ته چې که په پاکستان ، روم ، لندن ، بن امریکې او یا په کوم بل ځای کې وي بلنه ورکړي چې د افغانستان د کشالې د نښیوا رغونې د حل د پاره د سراسري سولې په جرګه کې ګډون وکړي » . ده په عین حال کې دا هم وویل چې دې څنګه چې تېر کال په کابل کې یوې جرګې جمهور رئیس انتخاب کړی ، حاضر نه دی له دغه مقام نه ځان ګوښه کړي . د دې معنی/ داده چې که په ناشونکی فرض سره چې وائی پاچا ، انجنیر ګلبدین حکمتیار په دې جرګې کې ګډون وکړي ، او یا هم په ائتلافي حکومت کې داخل شي د ده سره والي به مني .

## هندوستان د بېځایه مزاحم په توګه

په دې مینځ کې لکه چې موضوع په کافي اندازه کرکېچنه نه وه ، د هندوستان حکومت نجیب الله د مې په لومړۍ اونۍ کې د دې ورځو رسمي سفر د پاره په دهلي کې وماته ، او د سفر په پای کې یې دهغه د حکومت د ملاتې په غرض افغانستان ته د استعلاکې مواد او نور کومکونو د استولو سره موافقه وکړه او په دې دول یې د نجیب الله حکومت ته د پرستیژ او مورال ورکړو

په منظوم په داسې حال کې چې د شورويو پوځ په وتلو سره د دغه حکومت د پرېښدلو خبرې روانې وې، عملي ګام واخيست. خو د هند دغه اقدام د بحث د اصلي تګې په ارتباط د بې سمه سنګاري اوهغه داچې هندوستان په دغه ګام سره په افغانستان کې د مجاهدينو په مشرتابه سره د اسلامي حکومت د جوړېدو په باب خپل مخالفت وښود. هندوستان سره له دې چې په دغسې سيمې کې ځان يولوی طاقت بولي، په افغانستان کې د دغسې دولت له جوړېدو نه په اندېښنه کې دی. په حقه فکر کوي چې هغه به د پاکستان په خوا تينګ ولاړ وي، او دوارې جمع ايران به د هندوستان د مسلمانانو، په تېره د کشمير د مسلمانانو د پاره په آينده کې تل يوخوځونکی او اميد بښوونکی قوت وي، لکه چې شورويو هم د منځنۍ آسيا په جمهوريتونو کې له همدغسې وېرې نه ترهغه لا زيات په اندېښنه کې دی. د مجاهدو تنظيمونو د دستور العمل په يوې مادې کې راغلي چې «حکومت به د نړۍ په تولو برخو کې د لاندې شويو اومظلومو مسلمانانو د اسلامي راعيې ملاتړ کوي.» په هرحال، هندوستان به په افغانستان کې د مؤقتي حکومت په جوړېدنت کې په ښه اغيزمن نه وي. هغه د ژنيو د تړون د تړونونو جز نه دی او په تېرو اته نيمو کالونو کې د دغه هېواد دګاونډيانو حکومت په افغانانو باندې د کابل او شورويو جنايتونو

باندې نه يوازې ستر ګې پټې کړې ، بلکه د دغو حکومتونو ملاتړ يې هم کړی دی . نو ځکه په دې کې شک نشته چې دګاندۍ په سروالۍ د هند حکومت به ترهغو چې بې وسه وي د شوروي په شان په افغانستان کې د مجاهدو تنظيمونو د اسلامي دولت له جوړېدو سره مخالف اود هغو کوښښونو ملاتړ وي چې د پراخ - بنسټه موقتي حکومت د جوړېدو د پاره به کيږي .

# امريکا او د افغانستان ائتلافي حکومت

په اوسنيو شرايطو د امريکې حکومت د افغانستان د موقتي حکومت اوپه واقع کې د افغانانو په روانې ملي مبارزې کې يو مهم عنصر من عامل دی . د مطبوعاتي خبرونو له مخې امريکې تر اوسه تر دوو ملياردو نه زيات ډالر مرسته کړې . مجاهدينو ته يې د ستنګر راکټونه ورکړی ، چې حتی د پرو حکومتونو ته يې نه دي ورکړي . د درندو وسلو د انتقال د پاره يې حتی د خپل ملک نه قاطرې افغاني مجاهدينو ته د نښه په وطن کې رسولې . په دپلوماتيکي ساحه کې د شوروي په مقابل کې ولاړ دی ، اوپه خاص دول د ژنيو تر ځنګه د ژنيو د توافقاتو تضمين کوونکی هم دی - وعده يې کړې چې تر خو شوروي د کابل رژيم ته وسلې ورکوي ، امريکا به يې مجاهدينو ته رسوي ، سره له دې چې د

څرنګې توافقات هم شوي دي . برسېره پردې دنورو دخپلو هېوادونو
په شان يې کورډوين دپته بللی چې د موقتي حکومت د جوړېدو
په باب خپلو شخصي هلوځلوته دوام ورکړي، او امريکا به
دده دکونبسنونې ملاتر کوي . په دې حال کې طبعي ده چې د
افغانستان په باب نه يوازې د امريکې په رسمي حلقوکې، بلکه د
سياسي ذهنيت جوړولو حلقوله خوا هم خاص نظرونه وړاندې
کيږي . دا د امريکې د آزادفکره ټولنې او سياست يو مهم
خاصه ده ، او دېرکله داسې شوي دي چې همدغسې نظرونو په
رسمي سياست کې انعکاس کړې دی .

په امريکې کې اوس دا يو مهم عمومي نظر دی چې د ربګين حکومت
افغاني مجاهدين د قطبي سرکوزي يو غلګر او د هغه دلاس
لاندې رژيم په مقابل کې « د آزادۍ جنګيالی » ښودلی دی .
امريکايانو ته دغه اخلاقي ارزښت په بنا تعريف دغسې هيله
ورکړه شوې چې د آزادۍ د جنګيالیو په برياليو کېدو سره به په افغا-
نستان کې دغسې يو حکومت مينځ ته راغلی وي، چې په آزادۍ
او دموکراسۍ به عقيده لرې اولنې ټولنې د غرب او آزادې نړۍ
دوست به وي . دا يوغټ دليل و چې امريکايان د افغانستان
په باب د ربګين د حکومت پلويان شول . خو دېروخت نه وتېر
شوی چې د دوی په مطبوعاتو کې خپاره شول چې د همدغو

جنګیالیو حیثیت دلو په داسې حال کې چې له امریکې نه یې رنګ رنګ پیچلې وسلې هم ترلاسه کولې، امریکا د شوروي په لیکه کې ودروله. او په افغانستان کې د اسلامي دولت د جوړېدو مخالفه اعلان کړه. د ایران د خمیني حکومت په نظر کې نیولو سره اوس په امریکې د غښې ذهنیت خاوندان لږ نه دي چې وایي له افغانستان نه د شوروي د قواوو د وتلو په حال کې که مجاهد تنظیمونه یو شي، یا د هغویو د له لاسه بری پیدا کړي، ممکن د غښې حکومت مینځ ته راشي چې هغه به نه یوازې د شوروي پر ضد وي، بلکه سخت حاکمانه او دلویدیځ او امریکې پر ضد به هم وي. هرې سن او کار پښتون د غښې نظر ناستو او د هر فعال محکښان دي. په مقابل کې جوړښت کمپ استدلال کوي چې «دوست او اسلامي افغانستان به د واشنګټن په پوره ګټه وي. اسلام په د غښې ملک کې یوازنی یووالی کوونکی قوت دی چې همدا چې شوروي وځي غاښ له دې چې سره متخاصم قوتونه سره یوکړي، بل مهم کار به نلري، په داسې حال کې چې نارام افغانستان به د شوروي د مداخلې د پاره د برزرصتونه برابرکړي، نسبتاً ثبات لرونکی افغانستان به د دسکو د پاره یو لیاسټ ایډ یالوجیکي چیلنج وي.»

نر هغه ځایه چې څرګندیږي د روستي نظر د تصمیم نیولو په حلقو کې څرېکې وهلې دی. سنا توران د ښځو په شان د مجاهدینو

کلک ملاتړ دی، د ریګن حکومت په مجاهدینو کلک ولاړ دی، خو په دی معتقد دی چې د افغانستان د کشالې د دغې اړخ هوډل پخپله د افغانانو کار دی. یعنې په دې باب د خوراډیت د اصل تینګ حامي دی- په دې هکله یې دېرې څرګندونې کړې، چې د مرکزي تګې یې دا دی چې امریکانه غواړي په افغانستان کې د شوروياتو کاڼي اوتپې وتنې وکړي، اونه غواړي دکوم خاص حکومت په منځ راوستلوکې دخیل شي، د نیویارک تایمز په قول (مې ۶، ۱۹۸۸) د همدغه نظر په اساس یې د خپل یوه لوړپوړي مامور، زلمي خلیل زاد له لاړې اووه ګوڼې اخاد ته څرګندې کړې چې د امریکي حکومت به د موقتي حکومت به باب د دوی د هلوځلو ملاتړ وکړي، خوچې دوی د هیواد په دېرو برخو باندې خپله قبضه تینګه کړي، اونور معیارونه هم عملي کړي چې هغه « د خاوري کنټرول، د خلکو رضایت، د بین المللي وجایبو تعمیل د پاره - استعداد، او اماده توب او د دغې مدني اداري دستګاه لرل دي چې حکومت پرې وکولی شي . » د امریکي د همدغه استاځي په نظر که مجاهدین د کابل د رژیم د رقیب په توګه د غې یو موقتي حکومت منځ ته راوستلی شي « هغوی به د بین المللي ټولنې معرفت د ځان د پاره حاصل کړی وی . »

یې له شکه له مجاهدینو له خوا د دغو معیارونو له مخې حکومت

تنظیمول ، د دوی د موخو یو موقتي کېدو او د خلکو په خوښه او ارادې د یو مدني حکومت د مینځ ته راوستلو معنی لري. د مجاهدینو یو نامتو قوماندان مولوي جلال الدین حقاني هم په همدغه فکر دی او وایي چې « حکومت باید د افغانستان د مجاهد ملت د هیلو او ارادو سره سم وي . » ( افغان اطلاعاتي مرکز مجلهٔ اپریل ۱۹۸۸ مخ ، ۳۲ ) د امریکي د دغه درېځ بله معنی داده چې امریکا د مجاهدو په سروالۍ د حکومت - موقتي وي یا دایمي - مخالفه نه ده ، خو چې هغه د حقاني د فکر له مخې د خلکو په ارادې او مینځ ته راغلی وي . د همدغه فکر له مخې د امریکي حکومت والې چې « داهم سلف دیټرمینیشن ( د خو د ارادیت حق ) نه دی چې د غې حکومت هلته ( په افغانستان کې ) پرېښود لشي چې د شوروي تانکونو په ښو د رولی وي . » ( پاکستان ټایمز، مې ۱۵ ۱۹۸۸ ) -

# بیا هم شوروي اتحاد او ائتلافي حکومت

خو په دې باب د شوروي د حکومت نظر قاطع او منفی دی . شوروي لکه چې د مخې یادونه وشوه ، د دی مخالفه ده چې په افغانستان کې د مجاهدینو په سروالی حکومت مینځ ته راغلی وي - په دغه ملک باندې د شوروي دیرغل یو منطق داو چې گواکې د افغانستان له خوا د شوروي جنوبي سرحدات نامصون

شوي وو . پروحالوف ، شوروي لیکوال ، د خپل حکومت په کراتو یاد شوی نظر دې په نهمه (فرنتیر پوست) په درغوځ دول بیان کړی دی ، دی وایي « خو په دغه ملک ( افغانستان ) کې ایران دوله بنسټ پایي نوره نو ممکن نه دی . او د شوروی اتحاد په سرحدونوکې دیوه افراطی مسلمان رژیم د څرګند بدني تهدید چې غواړي خپل تبلیغ او تمرین د منځنۍ آسیا جمهوریتونو ته ورسوي - دغه تهدید به هیڅکله عملي نشي . » د هغو مبصرینو شمېر کم نه دی چې دا ول کوي ، او وایي چې که په افغانستان کې ایران - دوله حکومت منځ ته راغی ، کابل او دهلی به په یوه محور چوړاپیږي ، او شوروي به یې خوځونکی قوت وي - خو د سلیم عقل خاوند کوم انسان به یقین وکړي چې د هغو جنګیزي وړانیو په سبب چې شوروي په افغانستان کې کړې ، د دغه وران شوي واړه ملک نوی رامنځ ته شوی حکومت ، که د دوی په اصطلاح یوازې له « مسلمانانو افراطي ډلو » نه به هم جوړ شوی وي ، د دې توان ولري ، حتی که وایي هر غواړي ، د شوروي غوندې یوې ستر نظامی طاقت په مقابل کې د هغه د منځنۍ آسیا جمهوریتونه تهدید کړای شي ؟

د غوایي ترکودتا نه د مخه په تېرو درېشو کلونو کې شوروي له افغانستان سره په بې شمېره موافقت لیکونو کې تعهد ونه کړي وو ، چې د افغانستان د اجتماعی نظام سره ، په هرشکل چې وي ، د دوی غرض نشته

او دواړه هېوادونه به د مختلفو سیاسي او اجتماعي نظامونو سره سره د لاس نه وهنې د اصل رعایت کوي - دغه تعهدونه څرنګه ؟ په مشخص ډول ایا د اپریل په اتمه ګراسیموف ، د شوروي د باندنیو چارو وزارت ویندوی ، نه وو ویلی چې « په افغانستان کې دائتلافي حکومت د جوړولو موضوع یوازې د افغانانو د ارادې پورې اړه لري ، اوله دغه هېواد نه د شوروي پوځ په وتلو پورې تړلې نه ده ؟ » معلومه ده چې دا تولې هسې خبرې دي ، او د شوروی اصلي مطلب دا دی چې د افغانانو دارادې په خلاف په کابل کې خپل وفادار کمونستي ګوند داوس د پاره حتی که په واړه اړول شوي شکل هم وي ، د حکومت یوه برخه وګرځوي ، او بیا ان مشروعیت ورته مسجل کړي ، او دهغه له لارې په افغانستان کې خپل نفوذ دایمی کړي .

تعجب په دې کې دی چې د افغانستان په موضوع کې خپلې خواوې ټولې پاڼه کوي چې د ژنیو توافقات د کشالې یوازنۍ بهرنۍ اړخ په ګڼه کې نیسي ، او د دننی اړخ پرېږدي د سیاسي طرز او د دولت د بیا رغونې کار یې موقتی وي کې دایمی - د خپل ارادیت د مسلسل شوي اصل له مخې یوازې او یوازې پخپله د افغانانو کار دی ، خو له بلې خوا بندیزي شرطونه وړاندی کوي ، چې نمونې یې پاس ذکر شوه - یوازې دا نه ده - د عمل په ساحه کې چې د افغان سیاسي انګلستانو ته سړی بنسټ ځیر شي وړخ ګنده به شي چې د خپل

ارادیت د اصل نارې په واقع کې له هغه سره د مخالفو چلندونو سره یې پوښونه دي . د دې لپاره کوز زړونو څخه نه راوځي . د هغه په ځای د بېګانه زور او قوت له راکړو نه دستورونه صادرېږي او په هغو عمل کیږي . په دغسې حال کې به کوم دوویز ، چې اوس په افغانستان کې د ملګرو ملتو مؤسسې د څارنې د کمیسیون آمر هم تاکل شوی دی ، څنګه وکولی شي چې د موقتي حکومت د جوړېدلو له پاره د دخیلو فولو د تضاد چلندونو ته د افغانانو د پاره د منلو وړ یو ترکیب یا په ځاري اصطلاح پراخ بنسټه ائتلافي حکومت جوړکړي ، په داسې حال کې چې دی اوس د خپل دلبري هېواد ایکوا دور د باندنیو چارو وزیر هم تاکل شوی دی ، یعنې له یوې سره خپل پخواني تعلقات نلري ؟

## د پاک خبرې او سپارښتنې

تر هغه ځایه چې په لیکونکي پورې اړه لري ، غواړي د افغانستان د تاریخ د محصل په توګه لیکي - په پای کې د تېرو لسو کلونو سیاسي انکشافاتو په نظر کې نیولو سره ، هغه تکي را برسېره او څرګندوي چې د افغانستان د سیاست خاصې او بېلوونکې ښېې جوړوي ، او د هغو په پام کې نیولو نه ممکن د حکومت د بیا رغونې یا په عمومي ډول د ملک د سیاسي طرز له تاکنې

سره مرسته وکړي . په دغې لیکنې کې به بس په عمومي تمایلاتو باندې نظر اچول کیږي ، نه په تاریخي مشخصو پېښو باندې۔

۱ ـ افغانانو له خپلې غریزې سره سره ثابته کړه چې د خارجي تسلط ، هغه هم د ملحد کمونست روس تسلط نه منې ـ دوی په خپل ملک باندې ، په خپل اختیار باندې ، په خپلې واکمنۍ باندې د خارجي تسلط په مقابل کې دومره حساس او له هغه سره دومره مخالف دي چې د هغه د طرد د پاره د دلې یېزې قربانۍ تر ورځو لوړې د خپلو نیکونو په شان اوس هم تیار دي . دیوه چا خبره دوی خپلې واکمنۍ ته تر پرمختګ او ښه مادي ژوند نه هم ترجیح ورکوي . بنا یې قول هغه حکومتونه چې د افغانستان له مسئلې سره سروکار لري دغه واقعیت په نظر کې ونیسي او لکه چې وایي د افغانانو د پاره د خپل ارادیت په حق ولاړ دي ، افغانان په ریښتیا پرېږدئ چې خپل حکومت او په عام دول سیاسي طرز ، د خپلو له پښتو او بر الا لاس وهنو نه غیر څخه ازاده ارادې وتاکي ـ

۲ ـ افغانان په هماغه اندازه په خپل ملک کې له کمونستي نظام سره په هرشکل چې وي مخالف دي ، دوی په واقع کې لومړۍ دهغو کومبنیونو مخالفت وکړ چې مقصد یې په افغانستان کې د

کمونستي نظام برقرارول وو . له دې امله د دوی مجادله
به د شوروي پوځ دتلونه ودوسته هم دوام کوي ، اوترهغو
به وي چې د کمونستي نظام د سائلو د پاره تول کوښښونه
شندشي ، د کمونستي نظام په مقابل کې حساسیت دومره
پیاوړی دی چې دوی په هغوکوښښونو هیڅ قانع نه دي -
چې نجیب الله یې د ملي روغې جوړې په نامه کوي اوپه هغو
سره لومړنی په اصطلاح « خلقي » یعنې کمونستي دولت وو
وړو له مینځه وړی اوپه ځای یې د افغان د غنمنوی دولت دبېرته
په ځای کېدو د پاره لاره هواروي . مجاهد افغانان غواړی د
دولت بیا رغونه یې له کمونستانونه په خپله وکړي . اوهمدغه
علت دی چې د نجیب الله د ملي روغې جوړې چلند ناکام دی .

۳ - د افغانانو غنمنوي دولت د پېړیو پېړیو په بهیر کې په دینې
ملي اود آزادۍ په اړوند تونې بنا وۍ . په افغانستان کې ستر
دینونه تېروشوي چې دهغو په نتیجه کې د خیر اوشر ، ړوا او
ناروا ، اوسم ناسم مفهومونه د افغانانو په ملي ټولنه کې چاپ
او دایمي شوي دي . خوارلس پېړۍ کېږي چې اسلام د افغانانو
رسمي دین دی . اسلام عقیده او دولت دی . یعنې اسلام د
دولت د تنظیم د پاره تا کلي اصول لري ، چې د هغو له مخې باید

د دولت سرداں په هرنامه ( خلیفه ، سلطان ، امیر ، پاچا جمهور رئیس ) چې دی مسلمان وي ، او قولنه اساساً د اسلامي اصولو له مخې تنظیم شوی وي د دغو اصولو مرکزي تکی مشوره ده . په صدر اسلام کې چې خلیفه ( ریض ) د صلاحیت منونه خوښه غوره کړه . دغه اصل د افغان ولس د جرګې له رسم سره موافق دی . افغان په باندو ، کلیو ، بنارګوټو ، او په یوې ویناپه هرې ټولنې کې اجتماعي چارې په لږ او د پر توپیر سره په مرکو جرګو سره فیصله کوي . جرګه یو سیستم دی او خانله تاکلي مقررات لري . د جرګې ټول غړي حتی د سرې هم په هرنامه ( میر ، بیګ ، خان ، ملک ، مشر ) چې یادیږي ، د هغوی تابع وي ، نه له هغونه سوا او پورته . دغه دود دومره خورا وحاوي و ، چې اوس یې د عنعنې ، ملي دود ، او کانونشن بنه غوره کړې ، او په پښتنو کې خاص اهمیت لري . په دوی کې د هغو اصولو یا نرخ یعنې جزایي سیستم بېحده دقیق دی چې د هرې جزایي پېښې په باب تاکلي او دقیق مقررات لري . څنګه چې د جرګې هرغړی د آزاد بحث او آزادې رائې حق لري او څنګه چې د افغان په قومي واحدونو یعنې اجتماعي جوړښت کې افراد یو له بل سره برابر اویو د بل سیال او تر بوږ ګنل کیږي ، د افغان په جامعې کې د همدغه ټینګ دود له مخې یو

ړاز فی دي آزادي لوړ مقام لري ، البته دا به غلطه وي چې فکر
وشي په افغانانو کې دا یوازې تمایل او په مقابل کې یې داستبداد
او واکمنه داخصار تمایل نه وموجود ، او په همدغې
برابر- ډوله جامعې کې په ورځ سویه مستبد خانان او په لوړ سویه
مستبد پاچایان او ایران نه ووهسک شوي . د انسان په تاریخ کې تر
اوسهیخ تولنه له دغو دواړو تمایلاتو نه خلاصه نه ده ، خو په دې کې
هیڅ شک نشته چې د افغان په جامعه کې د هغو دلایلو له مخې چې
یادونه یې وشوه ، لومړنی تمایل ، یعنې د دولت په رغونې کې او د
تولینزو چارو د اجراء په برخه کې د رضا او اجماع اصل په دې چې
په جامعې کې یې تینګې ریښې لرلې ، په دوهم تمایل باندې هروخت
غالب او د دولت په رغونې او تنظیم کې د هغه رعایت شوی دی ،
هوډ ترڼه نه د هغه سل کاله کیږي چې د توافق او اجماع د اصل
په مقابل کې د استبداد تمایل یا د لوړې واکمنې د غوندوولو ، خپل
کولو او مرکزي کولو تمایل د دې دلایلو له مخې په دولتي واکمنو
کې د استبداد هوډ قوي کړی ، خو له هغه سره سره د هغه په نتیجه
کې په جامعه کې تاو تریخوالی ډېرې زیات شوی ، چې د غه لس کلن
جنګ او له هغه نه راپیدا ډېرحده انساني او مالي زیانونه د هغه
زیږنده دي . نو دنامتو مجاهد قوماندان عبدالحق د غه وینا
سمه ده چې وایي « خلکو ( افغانانو ) تل انتها پسند قدرت
سره ، دننې وي یا بهرنې ، مخالفت کړی . نو دا به سادګي وي

چې يوځوك فكر وكړي افغانان په دغه دول اداره كولى شي.»
( افغان اطلاعاتى مركز مجله ، اپريل ، ۱۹۸۸ ، مخ ۳٤ ) دولت
په بيا رغونې كې د دغه واقعيت په نظر كې نيول بالكل حتمي دي.
بايد د افغانانو په نوي دولتي سيستم كې د رضا او اجماع اصل
مؤسساتي او دايمي كړل شي ، دا به نه جبران كيدونكى ملي
او انساني فاجعه وي ، كه په اجتماعي ټوندانه كې شوې تېروتنې
تكرارشي .

٤ - د افغانستان په ټول تاريخ كې دولتي واك نه دغومره متمركز
او نه دغومره مطلق وُ ،او افغانان نه په دغې اندازې څُېښل
شوي ، او ښكېل شوي وو- لكه د دموكراتيك خلق گوند د حا-
كميت په دوره كې چې وو. رسمي نظر داو چې نه يوازې د
پرېكړو كولو امتياز اوحق او صلاحيت په گوند كې ، او په گوند
كې يوازې په پاسنيو حلقو يا حلقې كې متمركز وي ، بلكه افراد
بايد په ټولو شغلونو او كسبونو كې تنظيم كړل شي ، او د ټولو
تنظيمونو سروالي د حاكم گوند د غړو لره پاس كې وي او پرېكړې
هرڅه او هرڅومره چې وي د مركزي كميتې د خاصو حلقو ، يا خاصې
حلقې په دستور او هدايت وي. په دې پيل وشو چې حتى د
جامعې يېخكې واحد، يعنې كورنۍ ته هم تغيير وركړي ، او

ماشومان اوترڅه حده بخې هم تنظيمي څرونده ولري . د آزاد فرد په برابرکې په کولیکتیف ( کمپنۍ ، ګروپ ، حکومت ډله ، دولت ، جامعه ) باندې زوره وا چوله شعوره. مقصد دا دُ چې د همدغو سازمانونو او کولیکتیفي تشکیلونو له لارې افراد په ځنځیر کې سره وترل شي ، او په دې دول دیوازې حاکم ګروند ترڅارنې اوکنترول لاندې راشي ، اوګوندی عمال وکولی شي خپل خاص غوره شوي مفاهیم اوارزښتونه پرې ومني . دغه فکر په اصل کې د افغان د اجتماعي سیکالوجۍ مخالف اود لینن د دموکراتیکی - مرکزیت نږدې دی . که دولت تینګ شوی وای یقین دی چې د جامعې هره ډله خلک به دواکمن ګروند په سروالی تنظیم شوی وای ، اوپه پای کې به د افغانانو عنعنوي آزادي اودعزت اوحیثیت څرونده له مینځه تللی وای . خوځنګه چې د افرادو تولونه او تنظیمونه هغه هم دیوه ځانګړې ګروند په سروالی ، او د اجبار اوحاکمیت له مخې کې ممکنه هم شي ، د بېشمېر اوحتی د فکرکېدونکو خبابیش اوبدیو منبع ګرځي ، د « خلقي دولت » دغه پروګرام همدغسې نتایج مینځ ته راوړل اوبېحده پاروني وکړې چې له دوو پاروونکو عواملو سره په ګډه يې هرافغان د نړۍ په تل کې نا ارام کړاو له هغه سره جامعه له بېخه ولړزېده . په دې حساب بنایي د دولت په بیا رغونې کې د افرادو رسمي تنظیمونه اوتولونه تراخري

حده کړشي . او په هرحال د تنظيم بنياد په هر سطح او ډهر منظور دپاره چې وي ، پخپله دفرد په خوښه او رضاوي .

۵ - دغوايي ترڅو تا نه وروسته د پخوانۍ دولت له مينځه وړنه ، او د نوي دولت رغونه د يوه ګوندي طرز له مخې پيل شوه او حاکم ګوند د ځان دپاره د جامعې دلوري وړکو ونکی او لاړې تاکونکي نه تر سره کېدونکي او نا ممکنه وظيفه د ځان کړه . سمله لاسې نور تنظيمونه ، ګوندونه ، او غړي کونستي لاړې چارې باطلې ، ناسمې او مردودې وګڼلې شوې ، او د هغو په ځپلو اوله مينځه وړلو پيل وشو ، په داسې حال کې چې پخپله واکمن ګوند هم چې د هايرارکي يا سلسله لړونکی طرز له مخې مينځ ته راغلی و ، له پاسه نه په ښکته په دستورونو او هدايتونو اداره کېده ، نه د جرګې او مشورې داصل له مخې په دې دول رسمي ګوند يوازې په اجتماعي حتیٰ فردي چارو کې هم خپل ځان د جامعې اصلي وارث د حق او باطل نهايي تاکونکی ، د سمې او ناسمې لاړې غوره کوونکی او په يوه کلمه عقل - کل ګڼلې او له خپل خاص ګټو نه هر سې غړو ونکی پې د انقلاب - ضد په نامه تر آخر حده پورې ځپه . څنګه چې هېڅ سياسي ګوند ، نه د دغې حق او نه د دغې صلاحيت خاوند کېدلی شي ، د کابل رسمي ګوند د پاره ممکنه نه وه چې

د ځان د پاره پخپله تاکلی دغه ماموریت کې بریالی شي . د
انسانانو هیڅ کتنه ګوري په هرنامه چې یادیږي ، او په هـر
راز فکر چې معتقد وي ، دعمومي ارادې تمثیل نه شي کولی ، او
ځکه چې په خلکو باندې د حکومت کولو مسئله په اصل کې د هغو په
اعتماد ، د هغو او د حکومت ترمینځ په تفاهم اوقرارداد پورې
اړه لري ، هیڅوک په هرمقام کې چې وي ، مجاز نه دی تر انسانانو
د اجتماعي ژوند نه محروم کړي - دا به نهایت ساده ګي یا سرزوري
ویلې فکر وشي ، چې جامعه به یوه کس ، یا څو تنو ، یا څلې یوې
برخې ته دغسې حق او صلاحیت ورکړي ، ځکه چې دغه کار نه په
اخلاقي او حقوقي لحاظ جایز دی ، او نه په عمل کې ممکن - په آزادو
انسانانو کې چې د ژوند تنظیمول د مدني او حقوقي معیارونو له مخې
غواړي د فکر او عمل په دواړو ډګرونو کې له اپوزیشن او څوګوندیز
طرز نه خلاصی امکان نه لري ، مګر دا چې څوک د نورو مرۍ
کول او په فزیکي لحاظ د اپوزیشن له مینځنه وړل په نظر کې لري
د کابل کمونستانو په دغه عمل پیل وکړ ، خو سره له دې چې د -
روس غوندې ستر طاقت یې شاته ولاړ ؤ ، ناکام شو - دا چې
همدغه اوس حتی په پرو سختو او اضطراري حالاتو کې په
هرې خوا کې دننه ، د اپوزیشن او ګوندونو تعدد لیدل کیږي ، د
همدغه حکم د پاره څرګند اونه انکار کیدونکي شواهد دي - د

ولو تپولو او گوندونو تعدد ، اوپه نتيجه کې د اپوزيشن ځوند، د افغانانو د اجتماعي ژوند او د دوی د اجتماعي سيکالوجۍ خاصه ده . په دوی کې گوندي او د مخالفت ځوند په ولسي او کليوالي سويه ښه عام دی - د دولت د بيا رغونې په وخت کې بنايي دغه حقيقت په کلکه په نظر کې ونيول شي .

۶ - په دغو تيرو لسو کلونو کې کوم هغه څه چې په ملک کې پې ځي گنډ دول پې ثبات او گډوډي راوستې، او ورسره پې تولنه له بېخه لړزولې ، په کودتايي عمل سره د تولنې دسياسي واګې په لاس کې ښونه ده - په لنډې لارې سره سياسي قدرت ته د رسېدلو مثالونه د هغه هم وو ، خو وروسته له هغه چې په عصري ملي دولتونو کې نوي نظامي تخنيکونه نړيات شول ، او دايمي منظم پوځونه په هغو سمبال شول ، په تيره هغه وخت چې نظامیان په انقلابي مفکورو مجهز شول ، په دوی کې په کودتا سره د جامعې د لوړ قدرت نيولو هوسونه او حرصونه هم ډېر شول. په اسلامي نړۍ کې څه باندې ډېرش کاله د مخ جمال عبدالناصر د کودتايي عمل سرمشق شو - په افغانستان کې سردار محمد داؤد په کال ۱۹۷۳ کې په نظامي کودتا سره قدرت ترلاسه کړ . چې نظامیان د ده سرمشق وهڅول ؛ ځکه چې د افغان د اردو زيات

شهر منصب داران په شوروي کې تعلیم یافته شوي وو. کمونستي
ګوندونو په اسانه په هغوکې نفوذ وکړ، او هغوی یې په انقلابي
مفکورو مجهز او په خپلو ګوندونو کې تنظیم کړل. د غوایي
کودتا په واقع کې دهمدغو دوو عناصرو - کمونستي ګوند او نظا -
میانو - د نا شایي اوسملاسي ګوزار نتیجه شوه. د خلقیانو د
شل میاشتني حاکمیت په وخت کې په دې نا کامو کودتایي
عملونو لاس پورې شو. کودتایي حکومت له تولنې او خلکونه
تجرید، اوسیاسي خلا دې ډیره شوه، ترڅو بیا شوروي په
افغانستان کې په نظامي کودتایي عمل لاس پورې کړي. خو شوروي
هر ونشو کړل، سیاسي خلا له مینځه یوسي، او امنیت تینګ کړي.
برخلاف د شوروي په کودتایي عمل سره نارامي ترهر وخت نه
ډیره عمومي، ډیره شدیده، ډیره اوږده، او بین المنطقوي او
حتی بین المللي شوه، او د افغان د مقاومت غورځنګ دوخت
په تېرېدو سره د جهاد په نوي روح ترڅنګ زیات پیاوړی،
اوسراسري شو، او جهاني حیثیت او اعتبار یې پیدا کړ.

د غوایي د کودتا نه لس کلونه تېرشوي دي - خو دغسې
یو واحد سیاسي نظام چې د تولو افغانانو له ملاتړ نه بهره من
وي، او اجتماعي نظم خوندي کړي، لامینځ ته نه دی راغلی. تر
اوسه هم تخریبي پروسه په تعمیري پروسې پورې غاوړه ده.

او د خدای تعالی (ج) مخلوقات په هره خوا کې لکه دمني دپاني په شان ژوند کوي، او ملک ورانیږي - داولې ؟ دا ځکه چې د - جامعې لوړه قدرت په اول کې یوې وړې ډلې په کودتایي عمل د لاسونه، مګر لنډ پاڼې لاري نه د ځان د پاره انحصار کړ.

کودتا چیان او د قدرت انحصارچیان ځان ته دلایل لري. خو د دوی قول دلایل د هغو انساني تلفاتو اونورو ورانیو په سبب چې د کودتایي عمل حتمي نتیجه وي، لکه څنګه چې تجربو ثابته کړې، په تېره هغسې چې افغانستان کې د لیدل شول په هیڅ حربه یې، دا ځکه چې اجتماعي قدرت د سیاسي قدرت په شمول په اصل کې په جامعې پورې تعلق لري؛ دا هغه د جامعې حق او صلاحیت دی، چې دغه قدرت اشخاص یا ډلې ته تخصیص کړي. هره جامعه د قدرت تخصیصولو دپاره ځانله نورموونه، دودونه، کانونشنونه، لاري چارې اومیکانزمونه لري، چې هغه قول د پېرېو، پېرېو د اجتماعي تجاربو او کولتور محصول وي، د یوې ډلې له خوا د نورلې دغه حق، یعنې د جامعې لوړ قدرت، په ناڅاپي او کودتایي دول د غصبولو اونیولو معنی داده چې دغه ډله د جامعې له رضایت نه دا ده نه ده، او دغسې عمل کوي، چې جامعه، یا د جامعې زیاتره افراد ورسره

مخالف دي . همدغه سبب دی چې دکودتا په بریالي کېدو سره
په جامعه کې تاو تریخوالی تر پخوا زیات اوشدید کیږي ، اوکودتا
چیان په واقع کې د خلکو له دا نه د دولتي ارګا نونو په ټوله پولیسانو
نظامیانو ، جاسوسانو اومحاکمو له لاري د مخالفینو په ځپلو
پیل کوي - په دغسې کال سره جامعه له بېخه لرزوله کیږي ، او
رنګ رنګ اساسي زیانونه ورته متوجه کیږي - یوغټ زیان
یې دادی چې دکودتا نه راپیدا شوی ګډوډي هېواد ( یا
هېوادوال ) د پاره د مداخلې پلمه اوچانس پیدا کوي ، لکه چې
په افغانستان کې همدغسې وشول . په کودتایي عمل سره د
جامعې د عالي واک نېونه له هغه عمل سره ورته ده ، چې یوباندنی
هېواد دبل هېواد دولس اختیار او واکمني په زور سره غصبوي .
لکه چې په عمل کې لېدل شوي د تولو عصري کودتا ګانو هرچې په
دلندې یا اوږدې موده کې د پاره په لږ او ډېر تفاوت سره اختناق
تاو تریخوالی ، بندي توب ، جزا ګاني ، محاکمې ، انساني تروړ -
نظامي حکومت ، استبداد او نوتا لیتېریزم شوی دی .

په انقلابونو کې هم حال همدغسې وي ، حتی د فرانسې په
لومړي انقلاب کې چې انقلابیونو ستر نومولی ، او ساده لوحانو
هم ورسره ملې ، په لس ګونو زره انسانان له مینځه تللي دي -
رېدیکال او انقلابي روبسپیر په یوې دورې کې محض په ترور

سره حکومت کاوه ، ده ښځه به انسانان په ګیلوتین سره له مینځه یووړل ، ترڅو په پای کې په خپله ګیلوتین شي . داچې فرانسې د غربي نړۍ د نورو برسېدلو هیوادونو په تناسب تر دې نزدې وخت پورې سیاسي ثبات نه لاره ، تر زیاتې اندازې د همدغه په اصطلاح ستر انقلاب میراث وُ . د شوروي انقلاب په اوله کې په لږو انساني تلفاتو سره بریالی شو . خو وروسته له هغه چې لینن د ۱۹۱۸ کال په جنورۍ کې د مؤسسانو نوې انتخاب شوي مجلس په خپل کودتايي عمل سره وځپه ، ځکه چې د هغه خپل ګوند په دغه مجلس کې یوازې څلویښت برخه نمایندګان لرل ، روسانو ته څرګنده شوه چې لینن د خلکو د اکثریت په خلاف غواړي په خپل واړه ګوند سره حکومت وکړي ، او - وکښئ پس د خپل دغه واړه ګوند د پاره منحصره کړي ، کوم څه هم په هغه پې د بلشویکي یعنې اکثریت نوم ایښی و - په نتیجه کې عمومي مخالفت او داخلي جنګ پیل شو . خو لینن د جامعې دواک له منحصرکولو ، متمرکزکولو نه ، چې د حالاتو مسؤل بلل کیده ، وانه وښت ، او په دې دول په جامعې کې د تاو تریخوالي اصلي منبع په ځای پاتې شوه - وروسته سټالین له هغې نه اعظمي ناوړه استفاده وکړه - نه یوازې یې دکولاکانو په نامه یې په لکونو نسبتاً شتمن محکوم وال او بزګران له مینځه

یووړل، بلکه په زرګونو سیاسي مخالفان، اوحتی د مرکزي کمیټې زیاتره غړي یې هم ووژل. د شوروي جامعه له بېخه ولړزېده، چې تر اوسه یې سیاسي ثبات نه بېرته ومنه شوې نه ده. وروستیو روسانو د ملامتۍ ګوته ستالین ته ونیوه - خو په دې تازه وختونکې چپلې په لینین باندې هم انتقاد ونه وشول، اوس یو شمېر شوروي کمونستان وایي چې په اصل کې لینن و، چې وران سیاسي سېستم یې په جامعې کې برقرار کړ، چې ستالین اوستالینیزم د هغه منطقي محصول شو. بله وړخ ممکن د شوروي کمونستان په مارکس باندې هم باوره شي، ځکه چې په اصل کې چې لینن او مارکس دکړه او لیکنو له مخې له جامعې نه عالي واک د دولتي ارګانونو له لارې د انقلاب په نامه یو ګوند، او په یوه ګوند کې یا سینو څوکسو، اوحتی دیوه کس نه منحصر شوی و، په دې دول دغه سې اساسي وراني نه یوازې دکودتا بلکه د انقلاب نتیجه هم وي، لکه چې پوهاند داکټر سید بهاءالدین مجروح لیکلي دي چې « چون انقلاب خواهي نخواهي زور و تشدد است و چون انقلاب هدف خود را در نفس خود دارد، از اینجا انقلاب ناچار است در مقام دهشت ساکن گردد و هرگز نتواند، گامی از آن فراتر گذارد - بدینگونه نظام دهشت دایمی را بر جان و تن آدمی جاری میسازند و قدرت مطلق را

پرمسند فرمانروایی مینشاند و این قدرت مطلق دهشت آفرین
همان اژدهای روایات پیشین است که بر شهری مسلط میگردد
و باشندگان ناخود آگاه آنرا میبلعد و در خود فرومیبرد .»

په دغو تکو حکمه بحث یرځه اوږدوي، چې هغه د جامعې په
سیاسي ژوند کې ډیرې اساسي اهمیت لري- ښایي ټول هغه
افغانان چې د افغانستان د ملي حکومت، او په عمومي مفهوم، د
وطن د سیاسي او اجتماعي نظام په بیا رغونې کې رول لري ،
هغه په دینګه په نظر کې ونیسي او د دغې نظام د ځای په
ځای کولو د پاره زیار وباسي چې د دینګښت، او پایښت احتمال
پې زیات، او په هرحال کوتاپروف وي- اوس د وطن د لېرې
لیدونکو سیاستمدارانو د پاره د دغو بې ساروه مصیبتونو په
نتیجه کې دغسې فرصت په لاس شوی چې کولی شي د کوتاپروف
دینګ سیاسي نظام د رغونې د پاره ډیرې لارې چارې وڅېړي
او هغه تړینه غوره کړي چې مطلوبې ، د تطبیق وړ، او زمونږ
د وطنوالو له غوښتنو سره موافقې وي . ټجاربو ثابته
کړې چې د سیاسي نظام په رغونې کې کله چې د جامعې دغوڅ
اکثریت ، یا تر هغه لاهم ښه د ټولو خوښه اونظر په رښتیاني
دول په نظر کې نیول شوی وي ، د دغسې نظام پایښت، دینګښت
درښت او گټور توب یقیني او خوندي وي . د افغان لوبانو

د پاره اوس د ښځتنی ستر توب او تلپاتی نامه وخت رسیدلی دی.
په ټولو انسانانو کې دا یو قوي دود دی چې کوم هغه اشخاص
چې د خپل ولس د پاره تمینګ او پوخ سیاسي تاداو ورکړي، د تل
د پاره ستایل کیږي.

۷ - په پای کې تر هرڅه زیات چې باید د دولت د بیا رغونې په
وخت کې په کلکه په نظر کې ونیول شي، د فرد ي او انساني ژوند قیمت
او ارزښت دی.

انساني ټولنې (جامعه، ګوند، کمپنۍ، طبقه او داسې نور)
له افرادو نه جوړ ې وي او په نهایت کې په افرادو تحویل مومي - په بل
عبارت افراد (زه، ته، هغه او بل) د انساني ټولنو ښیخ او -
بنسټ جوړوي - له دې امله څوک چې د جامعې د پاره خدمت
کول غواړي، په حقیقت کې افرادو ته خدمت کوي - معکوساً
څوک چې افراد قرباني، په اصل کې جامعه تخریبوي. د دغه فکر
زیاتونه اوس ټولو ته په عمل کې ثابت شوی چې والي چې د جامعې
په مقابل کې افراد ارزښت نلري - د دغه فکر خاوندان بس د ځان
د پاره د حاکمانه حاکمیت په فکر کې وي او د خپل حاکمیت د پاره
د خپلو مخالفانو یا اپوزیشن د محوکولو د پاره منطق پیدا کوي، او
انسانان له مینځه وړي، درسته ده چې انسانان جرمونه کوي
او باید د هغو په مقابل کې سزا وویني. خو څنګه چې انساني ژوند

له دې امله مقدس دی چې خدای تعالی ( ج ) فرمایی : انی جاعلاً
في الأرضِ خليفه یعنې زه په ځمکه باندې ( انسان ) خلیفه ګرځوم،
اوځنګه چې په قدسي حدیث کې راغلی چې ان الله خلق ادم علی
صورته یعنې خدای ( ج ) انسان په خپل صورت خلق کړ، د
جامعې په مقابل کې د جرم د تثبیت د پاره مدنی او شرعی محکمې جوړې
شوې وې، چې په هغوکې به تورن د ثقه اومسلمو شواهدو له مخې
محاکمه کیږي. له دغې لارې غیر هیڅوک حتی د جامعې د سروال
او اولی الامر په شمول حق نه لري په هرنامه چې دي فرد یعنې انسان
له مینځه یوسي. د انسانی ژوند دهمدغه تقدس له سببه ده چې
بې له محاکمو د حکم نه د انسانانو د له مینځه وړل د ژوند انه په
عملي ډګر کې نهایت خطرناك عواقب لري، چې غټ خطر یې دا
دی چې په هغه سره په تېره په انساني جامعې کې د انتقام اوبدل
رواج عمومي او دایمي کیږي، په نتیجه کې جامعه له بېخه لړزوله
کیږي - د دولتی ارګانونو په قوت سره حتی د انسان سپکول
او کوچني کول هم جامعه په اساسي دول نړیا نمنه کوي لکه چې
جان ستوارت مل نامتو انګلیس فیلسوف سل کاله د مخه ویلی دي
« په اوږده موده کې د دولت اړتیا د هغو افرادو اړتیا ده
دی چې دولت ترینه جوړدی. کوم هغه دولت چې افراد کوچني
کوي د دې د پاره چې هغوی د هغه د لاس آرامی وسیلې

وګرځي ، کوم څه چې د ګټو، هدفونو د پاره وي ، وبه مومي چې په
وړو انسانانو سره به ستر کارونه په ړندتیا چې ترسره نه شي .»
د دې د پاره چې افراد ستر وګرځي باید جامعه د غسې نظام
ولري چې په هغه سره انسان خپل استعداد او ظرفیت ته تر نهایي
حد پورې انکشاف ورکولی وشي . د غه کار هغه وخت ممکن
کېدلی شي چې د نوم چامسکی په فکر « د تولنې بیا رغونه -
باید هغسې لارې چارې ولټوي چې ایجادوونکی محرک ازاد کړي،
نه داچې دواک او قدرت نوي شکلونه مینځ ته راوړي .» د فرد
د هغه ارزښت په سبب وو چې د منځنۍ خپتیځ په لرغونو
قوانینو کې انساني ژوند ته په دغسې لوړ نظر کتل شوي چې -
وایي « هرهغه څوک چې یو ځانګړی ژوند ژغوري ، داسې
ده چې لکه ټول جهان یې ژغورلی وي ، اوهرهغه څوک چې یو
ځانګړی ژوند له مینځه وړي ، لکه چې ټول جهان یې له مینځه
وړی وي .» د هغه فکر له مخې ده چې جرمني تلپاتي فیلسوف
ایمانویل کانت په دې عقیده وو چې « هیڅ انسان باید د
بل انسان د هدفونو د پاره اله ونه ګرځول شي .» د ژوندانه
په عملي ډګر کې د دغه فکر د ارزښت ازمویل شوی او ثابت
شوی دی . کله اوچې ته چې هدف ته ( کوم چې هر څوک هر عالي
هر وي ) د رسیدلو لارغیر اخلاقي او غیر انساني لارغوره

شوې آزادي خپلول په نا آزادي توب ، اخلاق کول په غير اخلاقي توب ، او انساني کرل په انساني توب منتهي شوي دي . د کابل کمونستانو د خپل حاکميت د تينګولو په خاطر - همدغسې وکړل ، يعنې انسانان يې د خپلې فلسفې له مخې د خپل هدف ته د رسيدلو د پاره اله وګرځول او بې تره قرباني کړل - دوی د چنګيز خان په دغه فکر عمل وکړ چې ويل يې « دښمنان لاندې کړئ ، په خپل مخ کې وځغلوئ ، شته يې ډک کړئ ، هغوی چې پرې کړان دي ، په ژړا کړئ ، په اسونو يې سپاره شئ ، او ښځې اولادونه يې په غېږ کې ونيسئ . » د کمونستانو د دغه فکر او چلند نتيجه څه شوه ؟ يوه ستره انساني فاجعه د دوی د حاکميت په دوره کې تر اوسه د افغانستان له پاسه - نيمو ميليونو انسانانو ژوند هر لسم يې وژل شوی ، هر دريم يې په فرار مجبور شوی ، لس ترلسو پنځوسو زره انسانان د انقلاب ضد په توره په کابل کې اعدام شوي ، بيشمېر و انسانانو بند تېر کړی ؛ د مالي تاوانونو حساب خو بې هدو امکان نه لري . ټول افغانان نا آرام او نامصئون دي . ( فاعتبروا يا اولی الابصار )- نو ښايي ټول مسلمانان ، او په واقع کې ټول انسانان په شخصي او اجتماعي ژوند کې دغه قرآني ايت په کلکه په نظر کې ولري چې وايي ولقد کرمنا بني آدم . پای جون ۱۲ ، ۱۹۸۸

# ضمایم

# د ژنیو د موافقه لیکونو پوره متن

## ( ۱ )

د دوه اړخیزو، په تېره د نه لاس وهنې اونه مداخلې د اصولو په هکله د افغانستان د جمهوریت، او د پاکستان د اسلامي جمهوریت ترمینځ د دوه اړخیز موافقه لیک

د افغانستان د جمهوریت او د پاکستان د اسلامي جمهوریت، چې له دې وروسته لوړ ترون کوونکي لوري یادیږي،

( په داسې حال کې چې ) غواړي امریکي عادي کړي ، او بنه ګاونديتوب
او همکاري په مخ بوځي ؛ او همدارازپه سیمه کې بین المللی سوله
او امنیت پیاوړی کړي ؛

( په داسې حال کې چې ) فکر کوي چې د دولتونو په دننیو
او بهرنیو چارو کې د نه لاس وهنې او نه مداخلې د اصل پوهېدل
د بین المللي سولې او امنیت د ساتنې او د ملګرو ملتونو د
منشور د هدفونو او اصولو د ترسره کولو د پاره خورا د اهمیت
لري ؛

( په داسې حال کې چې ) د دولتونو مسلم حق بیا تائیدوي
چې په آزاد دول د خپلو ولسونو د ارادې په مطابق ، بې له بهرنۍ
مداخلې ، لاس وهنې ، وېرانکارۍ او اجبار نه په هرشکل چې
وي ، خپل سیاسي ، اقتصادي ، کولتوري ، او اجتماعي
سیستمونه وټاکي ؛

( په داسې حال کې چې ) د ملګرو ملتو منشور موادو ، او
همدارازهغو پریکړه لیکونو ته چې د ملګرو ملتونو له خوا د نه
لاس وهنې او نه مداخلې د اصل ، په تېره د ملګرو ملتو
د ۱۹۷۰ کال د اکتوبر ۲٤ د منشور په مطابق چې د دولتونو
ترمینځ د دوستانه اړیکو او همکارۍ په ارتباط د بین المللي
حقوقو د اصولو په باب نیول شوی دی ، او همدارازد

دولتونو په د ننیو چارو کې د مداخلې اولاس وهنې نه منلتوب په باب د ۱۹۸۱ کال د دسمبر نهمې اعلامیې ته ، متوجه دي ؛

په لاندې ډول موافقه کړېده :

## لومړۍ ماده

دلوړو ترڅون کوونکو لوړو ترمینځ اړیکې به د نورو دولتونو په چارو کې د دولتي له خوا د نه مداخلې او نه لاس وهنې د اصل د دقیق رعایت له مخې اجراء کیږي .

## دوهمه ماده

د نه لاس وهنې او نه مداخلې د اصل د عملي کولو په مقصد هر لوړ ترڅون کوونکی لوړی ژمنه کوي چې له لاندې وجایبو سره موافقه کوي چې :

۱ - د بل لوړ ترڅون کوونکی لوړي واکمني ، سیاسي خپلواکي ، ځمکنۍ بشپړتیا ، ملي اتحاد ، مصونیت او ناپسیلتوب ، او همدا راز د هغه د ملي پیژندګلوۍ او کولتوري میراث د رناوی کوي .

۲ - د ترڅون د بل لوړ لوړي د واکمن او مسلم حق

درناوی کوي ، چې خپل سیاسي ، اقتصادي ، کولتوري ، او تولنیز سیستمونه په ازاد دول وتاکي ؛ خپلو بین المللي اړیکو ته انکشاف ورکړي ، او د خپلو خلکو په خوښه او بې له باندنۍ لاس وهنې ، مداخلې ، وړاندیزه ، اجبار ، یا بل هر رنګ ګواښ نه پرته په خپلو طبیعي منابعو باندې له خپلې همېشنۍ واکمنۍ نه کار واخلي ؛

۳ - د ګواښ یا د قوې له استعمال نه په هر بڼه چې وي ډډه کوي ، چې دیوه سرحدات نقض نه کړي ، د بل لوړ تړون کوونکی لوري سیاسي ، اجتماعي ، یا اقتصادي نظم ویجاړ نه کړي ، د لوړ تړون کوونکی لوري سیاسي طرز نسکور یا بدل نکړي ، یا د هغه حکومت چپه نه کړي ، یا د لوړ تړون کوونکو لوړو ترمینځ کړکیچ پیدا نه کړي ؛

٤ - داډ ورکوي چې د هغه له خاورې نه به هېڅ دول - داسې کار نه استیستل کیږي ، چې د بل لوړ تړون کوونکي لوري واکمني ، سیاسي خپلواکي ، محکمه بشپړتیا ، او ملي اتحاد نقض کړي ، یا یې سیاسي ، اقتصادي ، او اجتماعي ثبات وران کړي ؛

۵ - ډډه کوي له وسله والې مداخلې ، وړاندیزه ، نظامي اشغال ، یا له بل هر راز مداخلې ، لاس وهنې ، بنکاره وي

یا پټ چې بل لوړ ټرون کوونکي لوړي ته متوجه وي ، یا له هر هغه سیاسي او نظامي عمل یا اقتصادي مداخلې نه د بل لوړ ټرون کوونکي لوړي په دنیوي چارو کې ، په شمول د هغو انتقامي اعمالو چې د قوې استعمال پکې شامل وي ؟

۶ - ډډه کوي له هر هغه عمل او کوښښ نه په هر شکل یا په هره پلمه چې وي چې د بل لوړ ټرون کوونکي لوړي ثبات یا د هغه له موسساتو نه یوه ګډه وډه یا ویرانه کړي ؟

۷ - د بل لوړ ټرون کوونکي لوړي پر ضد د ګډو ودې پیدا کوونکو او بهلتون غوښتنې فعالیتونو سره په هره پلمه چې وي ، یا له هر بل عمل نه وي ، چې مقصد یې د بل لوړ ټرون کوونکي لوړي اتحاد رڼګول یا د سیاسي نظم ویرانول وي ، له لمسولو ، هڅولو ، یا ملاتړ نه ډډه کوي ؛

۸ - په خپله خاوره کې دننه د اجیرانو د جلبولو ، تمویلولو وسله وال کولو ، او روزلو مخنیوی کوي ، له هر ډول منبع نه چې وي چې مقصد یې د بل لوړ ټرون کوونکي لوړي پر ضد د دښمنې فعالیتونه وي ، یا مقصد یې د بل لوړ ټرون کوونکي لوړي خاوره ته د هدغسې اجیرانو استول وي ، او د دغه په قرار دغسې اجیرانو ته د اسانتیاوو

نه انکاروي په شمول د تمویلونې ، روزنې ، وسله وال-
کونې ، او انتقال په مقصد ؟

۹ - ډډه کوي له نورو دولتونو سره د دغسې ترونونو له کولو ، او ترتیبونو له نیولو نه ، چې مقصد یې د بل لوړ ترون کوونکی لوړي په ډنمنیو او بهرنیو چارو کې لاسوهنه او مداخله وي ؟

۱۰ - د بل لوړ ترون کوونکی لوړي په ډنمنیو اوبهرنیو چارو کې د بد نومه کولو د مبارزې ، درواغجنې یا دښمنه نه ډک پروپاګنډ له کولو نه ډډه کوي ؟

۱۱ - د بل لوړ ترون کوونکی لوړي پر ضد د وړانکارو یا وړانکارې اجنتانو سره د مرستې د ورکولو، یا (دهغوی) د استعمال یا تحمل نه ډډه کوي ؟

۱۲ - دښه په خپلې خاورې کې د بل لوړ ترون کوونکي لوړي په سیمه کې د وړانکارې د پیدا کولو، بې نظمي یا ګډوډي جوړولو په مقصد په کامپونو، او مرکزونو کې د افرادو او سیاسي ، اتلنکي او نورو دلو د موجودیت ، پناه ورکولو یا روزلو، تمویلولو ، مجهز کولو، او وسله وال کولو څخنیوی کوي ؟

۱۳ - په داسې عمل لاس پورې نه کړي ، یا داسې عمل ته

اجازه ورنه کړي ، چې هغه لاس وهنه او مداخله ګنل کېدلی شی .

## دریمه ماده

دغه موافقه لیک به د ۱۹۸۸ دمې په ۱۵ نافذیږي.

## څلورمه ماده

د دې پاره چې لوړ ترین کوونکی لوړي په دې وتوانوي چې د دغه موافقه لیک د دوهمې مادې له شرایطو سره توافق وشي ، هرهغه تغییر چې لازم ګنل کیږي ، پخوا له هغې نهښتې دې راوړل شي ، چې دغه موافقه لیک نافذیږي.

## پنځمه ماده

دغه موافقه لیک د انګریزي ، پښتو ، او اردو په ژبو کې کښل شوی ، او ټول متنونه په برابره اندازه سم دي . د تعبیر د اختلاف په حال کې د انګریزي متن د اعتبار وړ دی.

په ژنیو کې د ۱۹۸۸ د اپریل په دغې څوارلسمې کې په پنځو اصلي نسخو کې وشوه .

د افغانستان د جمهوریت د حکومت د پاره د پاکستان د اسلامي جمهوریت د حکومت د پاره

# (۲)

# د بین المللي تضمینونو اعلامیه

د شوروي سوشلستي جمهوریتونو د اتحاد د حکومت او د امریکې د متحده دولتونو حکومت خپل ملاتړ څرګندوي چې د افغانستان جمهوریت او د پاکستان اسلامي دولت د منډاکرولې لارې سیاسي فیصلې ته رسیدلی چې مقصد یې د دواړو هېوادونو ترمینځ د اړیکو عادي کول، او د سره ګاونديتوب پرمخ بیول، او په همدې ډول په سیمې کې د بین المللی سولې او امنیت خوندي کول دي.

غواړي په خپل نوبت د افغانستان د جمهوریت او د پاکستان د اسلامي جمهوریت له هغو هدفونو سره چې یې د ځان د پاره تاکلي، او په دې نظر چې د دوی واکمنی، خپلواکه مځکنه بشپړتیا او نا پیلتوب له کار نامو سره مرسته وکړي

څرنګه کوي چې دافغانستان دجمهوريت او د پاکستان د اسلامي جمهوريت په کورنيو چارو کې په قطعي ډول د دوه اړخيزو اصولو، په تېره د نه مداخلې اونه لاس وهنې په اساس د مداخلې اولاس وهنې له هر راز شکل نه ډډه وکړي .

له نورو دولتونو څخه په کلکه غوښتنې چې همدغسې وکړي .

دغه اعلاميه به د ۱۹۸۸ د مې په ۱۵ نافذيږي .

د ۱۹۸۸ د اپريل په دغې څوارلسمې ورځ په پښتو اصلي نسخو کې ، هره يوه يې په انګريزي او روسي ژبو کې وشوه او دواړه متنونه په يوه اندازه سم دي .

- د امريکې د متحده دولتونو د حکومت د پاره
- د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د اتحاد د حکومت د پاره

# ( ۳ )

# دافغانستان دجمهوريت او د پاکستان داسلامي

(۱۸۶)

# دولت ترمینځ د مهاجرو د خپلې خوښې ستنیدو په باب موافقه لیک

د افغانستان جمهوریت او د پاکستان اسلامي جمهوریت چې له دې وروسته لږ تر ډیره کوونکي لوړي یا دیږي ،

( په داسې حال کې چې ) غواړي اړیکې عادي کړي او ښه ګاونديتوب او همکاري په مخ بوځي ، او همدارازبین المللي سوله او امنیت خوندي کړي ،

( په داسې حال کې چې ) په دې باور لري چې وطن ته د مهاجرو د بې خنډه او په خپله خوښه ستنیدنه د افغان مهاجرو د مسئلې د پاره چې اوس د پاکستان په اسلامي جمهوریت کې اوسي ، د حل تر ټولو مناسبه لاره تشکیلوي او ( وروسته له دې چې ) دا یې معلومه کړي چې دغه ترتیبات د افغاني مهاجرو د ستنیدو د پاره دوی ته د قناعت وړ دي ،

په لاندې ډول موافقه کړیده :

## لومړۍ ماده

ټولو افغاني مهاجرو ته دې چې دغه وخت د پاره د پاکستان

په اسلامي جمهوريت کې دي ، موقع ورکړه شي ، چې دهغو ترتيباتو او شرايطو له مخې چې په دغه موافقه ليک کې تاکل شوي دي ، په خپله خوښه خپل وطن ته ستانه شي .

## دوهمه ماده

د افغانستان جمهوريت حکومت دې لازمي اقدامات وکړي چې خپل وطن ته د افغان مهاجرو دخپلې خوښې ستنېدنې د پاره لاندې حالات برابر کړي :

الف - ټولو مهاجرو ته دې اجازه وي چې وطن ته په ازاد ډول ستانه شي

ب - ټول مهاجرين دې د افغانستان د جمهوريت په داخل کې د هستوګنځي ازاد انتخاب او د حرکت آزادي ولري .

ج - ټول بېرته ستنېدونکي دې د کارکولو حق، د ژوند د کافي شرايطو حق ولري ، او د دولت په هوسايني کې برخه ولري .

د - ټول مهاجرين دې حق ولري د افغانستان د جمهوريت په هدنې چاروکې د برابرتيا له مخې ګډون وکړي . دوی ته دې د محکمې او ويو

د اصلاح په اساس دمحکې په مسئله کې برابرې ګټې یقیني شي .

ذ - ټول مهاجرین دې د افغانستان دجمهوریت د نورو مدني افرادو په شان بې له توپیره دین دازادۍ په شمول یوشان حقوق اوامتیازات او یو شان مسئولیتونه اووجایب ولري .

## دریمه ماده

د پاکستان اسلامي جمهوریت حکومت به د ټولو افغاني مهاجرو دپاره چې په خاوره کې یې اوسي ، وطن ته دخپلې خوښې ، په نظم او ارامۍ سره ستنیدو نه اسانه کوي او د امکان په حدود کې دنته په غاړه اخلي چې وطن ته دستنیدو په پروسه کې ټولې لازمې مرستې برابروي .

## څلورمه ماده

د هغو عملیاتو دتنظیمولو ، منسجم کولو او څارلو په مقصد چې د افغاني مهاجرو دخپلې خوښې ، په نظم ، او سوله ییزې ستنیدنې سره مرسته کوي ، د بین المللي ثابت شوې معیار له مخې ګډ کمیسیون نه جوړ شي . د دغو کمیسیونونو

غړو او کارمنو ته به د دوی د دندو د ټ سره کولو د پاره لازمي اسانتیاوي برابري شي او ( د دوی د پاره به ) دلوړو تړون کونکو لوړو په سیمو کې د ننه مربوطو ځایونو ته د تګ اجازه وي .

## پنځمه ماده

دغه کمیسیون نو به د ډیرته ستنیدو د با نظم حرکت په نظر کې نیولو سره په سرحد کې د اوښتو ځایونه تاکي او د انتقال لازمي مرکزونه به تثبیتوي . دوی به د مهاجرینو د مرحله په مرحله ستنیدو د پاره د کار نورې ټولې طریقې ( طرزونه ) برابروی چې په هغوکې به وطن ته د ستنیدو په غرض د مهاجرو نومونه لیکی ، او د هغو په باب چې غواړی وطن ته ستانه شي ، خبر ورکول کیږي .

## شپږمه ماده

دا روندو حکومتونو په غوښتنه به د مهاجرو د پاره د ملګرو ملتو لوړ کمشنري ( UNHCR ) د دغه موافقه لیک له مخې وطن ته د مهاجرو د خپلې خوښې د ستنیدو په عملیه کې همکاري کوي او مرسته به ورکوي . د دغه مطلب د پاره

ممکن د مهاجرو د ملګرو ملتونو د لوړې کمشنرۍ او دلوړو ترون کوونکو لوړو ترمینځ کوم خاص توافق هم وشي .

## اوومه ماده

دغه توافق لیک به د ۱۹۸۸ د مې په ۱۵ نافذ شي ، په دغه وخت کې به ګډ کمیسیون چې په پنځمه ماده کې یې یادونه شوې جوړ شوی وي ، او د دغه موافقه لیک له مخې به د مهاجرو د خپلې خوښې ستنېدو عملیات پیل شي .

هغه ترتیبات چې په پورته څلورمې او پنځمې مادې کې یاد شوي دي ، د اتلسو میاشتو دپاره به اغېزمن وي . له دغې مودې وروسته لوړ ترون کوونکي لوړې به وطن ته د ستنېدو نتایج ترکتنې لاندې نیسي ، او که لازمه شي خپلې نورې ترتیبات به ونیسي ، چې ورته اړه وي .

## اتمه ماده

دغه موافقه لیک د انګریزۍ ، پښتو او اردو په ژبو کښل شوی - تول متنونه یو شان سم دي . د تعبیر د توپیر په حال کې به د انګریزي متن د اعتبار وړ وي .

په ژینو کې په پنځو اصلي نسخو کې د ۱۹۸۸ د اپریل

پدغې خواړلسمې ورځې .

- د افغانستان د جمهوریت د حکومت د پاره
- د پاکستان د اسلامی جمهوریت د حکومت د پاره

# ( ٤ )

## افغانستان پورې مربوط حال د فیصلې د پاره دخپل مینځې اړیکو په باب موافقه لیک

۱ - هغه دپیلوماټیکې پروسه چې د ملګرو ملتو د عمر مې منځې په نږدې ، او د ټولو اړوند و حکومتونو په ملاتړ مینځ ته راغلې وه ، او مقصد یې په خبرو سره د افغانستان په هکله حال د فیصلې د پاره وه ، په بري سره پای ته ورسیده .

۲ - ( په داسې حال کې چې ) موافقه یې کړې ده ، چې دیوې جامعې فیصلې په لور کار وشي ، چې هدف یې د مربوطو مسایلو حل کړل ، او د بنه ګاونډیتوب او همکارۍ د پاره دیوه چوکاټ جوړول وي ، د افغانستان د جمهوریت حکومت او د پاکستان اسلامي جمهوریت حکومت د سرمنشي د خاص استازي له لارې په ژنیو کې

۱۹۸۲ د جون له ۱۶ نه ۲۴ پورې خبرې وکړې . دغه خبرې
له هغو مشورو وروسته چې د خاص استازي له خوا د ۱۹۸۳
د جنورۍ له ۲۱ نه دفبروري تر ۷ پورې په اسلام آباد، کابل
او تهران کې وشوې په ژنیو کې د اپریل له ۱۱ نه تر ۲۲ پورې
او د ۱۹۸۳ د جون له ۱۲ نه تر ۲۴ پورې اوږدې شوې .
خاص استازی بیا د لوړې - سطحې مشورو په غرض د ۱۹۸۴
د اپریل له ۳ نه تر ۱۵ پورې سیمې ته سفر وکړ. بیا نو موافقه
وشوه چې د خبرو فورمات (شکل) دې واړول شي ، او د
هغه له مخې د خاص استازي له خوا سیمې ته د ۱۹۸۵ د مې
له ۲۵ نه تر ۳۱ پورې بل سفر نه وروسته د غبر مستقیمو
خبرو بلې دورې په ژنیو کې د ۱۹۸۵ د جون له ۲۰ نه تر ۲۵
پورې ، د اګست له ۲۷ نه تر ۳۰ پورې او د دسمبر له ۱۶
نه تر ۱۹ پورې دوام وکړ . خاص استازی د ۱۹۸۶ د مارچ
له ۸ نه تر ۱۸ پورې د مشورو په غرض بل سفر وکړ. د خبرو
وروستۍ پرلوچې په ژنیو کې د غبر مستقیمو خبرو په شکل د ۱۹۸۶
د مې په ۵ پیل شو ، د ۱۹۸۶ د مې په ۲۳ وځنډول شو ، او
د ۱۹۸۶ د جولای له ۳۱ نه د اګست تر ۸ پورې له سره پیل
شو . خاص استازي بیا د نورو مشورو په غرض د ۱۹۸۶
د نومبر له ۲۰ نه د دسمبر تر ۳ پورې سیمې ته سفر وکړ، او

د ژنیو خبرې بیا د ۱۹۸۷ د فبروري له ۲۵ نه د مارچ تر ۹ پورې وشوې ، اود ۱۹۸۷ د دسمبر له ۷ نه تر ۱۱ پورې له سره پیل شوې - خاص استازي بیا د ۱۹۸۸ د جنورۍ له ۱۸ نه د فبروري تر ۹ پورې سیمې ته سفر وکړ . اوخبرې په ژنیو کې د ۱۹۸۸ د مارچ له ۲ نه د اپریل تر ۸ پورې له سره وښیل شوې . څه وخت چې د فیصلې مشمول سند ونه تکمیل شول ، د ۱۹۸۸ د اپریل په ۱٤ د خبرو فورمات واړول شو، او دهغه له مخې په دغه پراوکې خبرې په مستقیم ډول وشوې . د ایران اسلامي جمهوریت د دغې دیپلوماتیکې پروسې په تول جریان کې د خبرو له پرمختګ نه باخبره ساتل کیده .

۳ - د افغانستان د جمهوریت حکومت او د پاکستان د اسلامي جمهوریت حکومت په مذاکراتو کې په دغه څرګنده عقیده ګډون وکړ ، چې دوی د ملګرو ملتو د منشور له مخې د خپلو حقوقو او وجایبو په مطابق عمل کاوه ، او سره موافقه وکړه چې دغه سیاسي فیصله باید د بین المللي حقوقو په لاندې اصولو بنا وي :

- هغه اصل چې دولتونه به په خپلو بین المللي اړیکو کې د هیڅ دولت د خاورې بشپړتیا ، یا سیاسي خپلواکۍ پر ضد ، یا په هره بله طریقه چې د ملګرو ملتو له هدفونو سره تناقض ولري

له ګوابن یا د زوړ له استعمال نه ډډه وکړي

- هغه اصل چې دولتونه باید خپلې بین المللي ګډونې دسولې له لارې په دغسې طریقو هواري کړي چې بین المللي سوله، او امنیت او عدالت په خطر کې نه شي

- هغه وجیبه چې دملګرو ملتونو دمنشور په قرار د بل دولت په هغو چارو کې چې د قانوني صلاحیت دننه پې وي، - مداخله ونه شي .

- د دولتونو هغه وجیبه چې د ملګرو ملتونو دمنشور له مخې له یوه بل سره همکاري وکړي

- د ولسونو د خود اړادیت او برابرو حقوقو اصل .

- د دولتونو د واکمنۍ د برابرۍ اصل .

- هغه اصل چې دولتونه باید خپل هغه وجایب چې د - ملګرو ملتو دمنشور په مطابق پې په غاړه اخیستي، په سمه نیت سره ترسره کړي .

دوارو حکومتونو خپل هپواد وته په خپله خوښه اوپه له خندنه دافغاني مهاجرو بېرته تګ بیا تاسید کړ .

٥٤ ــ دغه لاندې سندونه د سیاسي فیصلې دتکمیلو نکې برخې په حیث په دغه نښته لاسلیک شول . د افغانستان

جمهوریت، او د پاکستان اسلامی جمهوریت ترمینځ د دوه اړخیزو اړیکو په تړه د نه مداخلې او نه لاس وهنې په باب دوه اړخیزه موافقه لیک

د شوروي اتحاد د سوشلستي جمهوریتونو او د امریکې د متحده دولتونو له خوا د بین المللي تضمیناتو په باب اعلامیه۔

د افغانستان د جمهوریت او د پاکستان د اسلامی جمهوریت ترمینځ د مهاجرو د خپلې خوښې ستنیدنې په باب دوه اړخیز موافقه لیک۔

د افغانستان پورې مربوط حال د فیصلې د پاره د خپل مینځي اړیکو په باب د غم موافقه لیک۔

۵ ـ د افغانستان جمهوریت او د پاکستان اسلامي جمهوریت ترمینځ د دوه اړخیزو اړیکو په تړه د نه مداخلې او نه لاس وهنې په باب دوه اړخیز موافقه لیک ؛ د شوروي اتحاد د سوشلستي جمهوریتونو او د امریکې د متحده دولتونو له خوا د بین المللي تضمیناتو په باب اعلامیه ؛ د افغانستان جمهوریت او د پاکستان اسلامي جمهوریت ترمینځ د مهاجرو د خپلې خوښې ستنیدنې په باب دوه اړخیز موافقه لیک ؛ او د افغانستان پورې مربوط حال د فیصلې د پاره خپل مینځي اړیکو په باب

دغه اوسنی موافقه لیک به د ۱۹۸۸ د مې په ۱۵ نافذیږي.
دهغه نښته یېزچوکات په قرارچې د شوروي اتحاد سوشلستی
جمهوریتونو او د افغانستان جمهوریت ترمینځ پرې موافقه شوې
باندنۍ لښکرې به پرلو په پرلو ایستلی کیږي چې په هغې نیټې به
پرې پیل کیږي چې په نافذیدو یې، لکه چې پاس یې ذکر
شوی، موافقه شوې ده. د دغو لښکرو ایمایې به د ۱۹۸۸ د
اګست تر ۱۵ پورې وایستل شي، او د ټولو ایستنه به په نهو
میاشتو کې دننه تکمیله شي.

۶ ــ د خپلواکمینځي اریکو په پوښتنه پنځمې فقرې باندې د د ې
د پاره موافقه شوې چې د سیاسي فیصلې مقصد په اغیزناک ډول
ترسره شي، یعنې چې د ۱۹۸۸ د مې له ۱۵ نیټې نه وروسته
به د (تړون کوونکو) لوړو په چارو کې په هیڅ شکل مداخله
اولاس وهنه نه وي، بین المللي تضمینونه به عملي کیږي؛ خپل
وطن ته به د مهاجرو په خپلې خوښې ستنېدنې پیل وشي، او
دهغه نښته یېزچوکات دننه به تکمیل شي چې د مهاجرو دخپلې
خوښې ستنېدنې په موافقه کې مشخص شوی، او د باندنیو
لښکرو پرلو په پرلو وتلو به پیل وشي، او دهغه نښته یېزچوکات
دننه به تکمیل شي چې په پنځمې فقرې کې یې ذکر شوی دی، نو
دا اساسي خبره ده چې ټول هغه وجایب چې د فیصلې د ــ

د تکمیلونکو اجزاوو په حیث له لاس لیک شویو سندونو څخه راولاړ دي ، په دقیق دول ترسره شي ، او تولې هغه مرحلې چې د پوره توافق د یقیني کولو دپاره ضروري دي ، د سندونو له تولو موادو سره په بشه نیت تکمیل شي .

۷ - دادعا شویو سرغړونو دکتني اود هغو کشالو د سملاسي او دوامړ و لورولو ته د قناعت وړ حل د پیدا کولو د پاره چې ممکن د فیصلې د تکمیلونکو سندونو د عملي کیدو په بهیر کې پیدا شي ، د افغانستان د جمهوریت او د پاکستان د اسلامي جمهوریت نمایندګان به چې کله ضرورت پیښ شي ، سره غونډې کوي .

د ملګرو ملتو د سرمنشي استازي به ( ترون کونکو ) لورولو ته خپل پوره توجهات وړاندې کوي او په هغه قرینه کې به د غونډو په تنظیمولوکې مرسته کوي او پخپله به په کې برخه اخلي . هغه به د دوامړ و لورولو ته د هغوی د کتنې او تائید د پاره د سندونو د موادو د دقیق او پوره رعایت په مقصد نظرلې او سپارښتنې وړاندې کوي .

له دغه استازي سره به د دې د پاره چې خپلې دندې ترسره کړي ، دغسې پرسونل کومک کوي ، چې د ده تر اداري لاندې وي ، او لازمي وي . دغه پرسونل به په خپل نوښت یا د لورولو څخه د یوه په غوښتنه د سندونو د موادو نه ممکنې سرغړونې

ترتحقیق لاندې ونیسي، اود هغوپه باب به راپور برابروي. له
دغه استازي اود هغه له پرسونل سره به د همدغه مقصد د پاره
د طرفینو له خوا تولې لازمې همکارۍ کیږي، ( په دغې همکارۍ
کې به د هغوی د پاره ) د اغیزمن تحقیق په مقصد د دوی په خاوره
کې دننه د حرکت تولې ازادۍ شاملې وي. هرهغه راپور چې د
ـه د نمایندې له خوا دواړو حکومتونو ته سپارل کیږي، باید د دواړو
لوړو پوړو غونډې کې د تسلیمید ونه نیټې نه ۴۸ د مخه
ترکتنې لاندې ونیول شي.

د استازي اود هغه لاس لاندې پرسونل د پاره د کار هغه
طریقې اولوجستکي ترتیبونه چې له لوړو سره پرې موافق شوی
د کار طریقې اولوجستکی ترتیبات د تفاهم په هغه یادداښت کې راغلی
چې، دغه موافقه لیک پورې تړلی، او د هغه یوه برخه ده.

۸ - دغه سند به د ملګرو ملتونو له سرمنشي سره ثبت وي،
هغه د دوه اړخیزو توافقاتو د دواړو لوړو نمایندګانو، اود دولتونو-
تضمین کوونکو له خوا، چې د منډ ډاټو په هکله یې خپل رضایت
څرګند کړی دی، کتل شوی وي. د ترون کوونکو لوړو نمایندګانو
چې د خپلو مربوطو حکومتونو له خوا، هغې چې ښایي، صلاحیت
ورکړشوی، د هغو په پاسه کې لاسلیک کړی دی. د ملګرو ملتو
عمومي منشي هم حاضر و.

په ژنیو کې د ۱۹۸۸ د اپریل په دغې څو لسیزې په پنځو
صلې نقلونو کې د انګریزي، پښتو، روسي او اردو په ژبو
کې شوې؛ تول یې سم دي؛ د تعبیر د اختلاف په صورت
کې به د انګریزي متن د اعتبار وړ وي.

د افغانستان د جمهوریت د حکومت د پاره — د پاکستان د اسلامي جمهوریت د حکومت د پاره

د دولتونو د تصمیم کوونکو نمایندګانو د شهادت په توګه څپل لاسلیکونه لاندې ولګول.

د امریکې متحده دولتونو د حکومت د پاره — د شوروي اتحاد سوشلستي جمهوریتونو د حکومت د پاره

# ضمیمه

## د تفاهم یادښت

۱. اساسی ضرورتونه

(الف) لوري به د سرښتې د استازي او تولو کارمنو (پرسونل) چې له هغه سره د سرښتې د پاره تماس شوي دي، پوره ملاتړ او همکاري کوي.

(ب) د سرښتې د استازي او د هغه د کارمنو د پاره به هر ډول اسانتیا، او همدا راز سملاسي او اغیزمنه مرسته پرشمول د حرکت آزادي، مخابراتي وسایل، هستوګنځي د وړلو راوړلو وسایل، او نورې تولې هغه اسانتیاوې چې د دوی د دندو د ترسره کولو د پاره لازمې وي، برابروي. افغانستان او پاکستان ژمنه کوي چې استازي او د هغه د کارمنو د پاره به تول هغه مناسب امتیازونه او معافیتونه چې د ملګرو ملتو د امتیازاتو او معافیتونو د کنوانشن له مخې تضمین شوي دي، تهیه کوي.

( ج ) افغانستان او پاکستان به د سرمنشی د استازي اودهغه د کارمنو په داسې حال کې چې د دوی به مربوطو ملکونو کې د دندې ترسره کوي ، د مصونیت مسئول وي .

( د ) د سرمنشي استازی او د هغه کارمنان به د خپلو دندو په ترسره کولو کې د پورته بیطرفه رعایت کوي . د سرمنشي استازی او د هغه کارمنان به د افغانستان او پاکستان په دننیو چارو کې هیڅ مداخله نه کوي ، او په دغې قرینې کې به د اسې استعمالیدلی نه شي ، چې د اړوندو لوړو دیوه د پاره د استفادې لاره برابره کړي .

## قیمومیت

د اجرا کولو - مرستې کونې - قیمومیت ، هغسې چې د او مې فقرې له ترتیباتو نه پیدا دی ، د هغو سندونو څخه ماخوذ دی چې فیصله لیک تشکیلوی . د هغه په موجب ټول هغه کارمنان چې د سرمنشي د استازي د پاره تاکل شوي دي ، د سندونو اړوندو مادو په باب او د هغو طرز العملونو په باب به چې په هغوسره به سرغړونې یقیني کیږي ، په دې دقت سره باخبره وګرزول شي .

## ۳. د کار طریقه او د کار منو تنظیمونه

سرمنشي به د استازی د پاره یو لوړ رتبه نظامي افسر وټاکي ، چې هغه به په سیمه کې د قرارګاه د دوارو واحدونو آمر وي . یو واحد به په کابل او بل به یې په اسلام آباد کې وي ، هریو به یې له پخوا افسرانو نه متشکل وي ، چې د ملګرو ملتو له موجودو عملیاتو او یوه واړه ملکي کومکي مامورانو نه به جوړ شوی وي

د سرمنشي د استازي نایب به د استازي له خوا کار اجرا کوي ، او له لوړو سره به د ارتباطي افسر له لارې چې هر لوری به یې د هدف مقصد د پاره ټاکي ، په تماس کې وي .

د قرارګاه واحدونه به په دوو پلټنو کوونکو تنظیم شوی وي ، چې په ساحه کې د فیصله لیک له سند ونو څخه سرغړونې تثبیتې کړي . هغه وخت چې د سرمنشي استازی یا د هغه نایب لازمه وګڼي په دې لړ کې ممکن وخت کې ( په عادي دول د ۴۸ ساعتونو په شاوخوا کې ) تر ۴۰ پورې اضافي نظامي افسران ( د پلټنې لس اضافي ډلې ) له موجود نظامي عملیاتو نه له سره ځای په ځای کوي .

د ټولو افسرانو مسلیتونه به له لوړو سره په مشوري سره تاکل کیږي .

د ضرورت په وخت کې د سرمنشي استازی چې وخت په

رخت به له لوړو سره د مشورې په مقصد سیمې ته سفر کوي او د خپلو کارمنو کار به ګوري ، سیمې ته به کله چې ضرورت شي ، هم له خپل دفتر نه غړي ، او هم به د ملګرو ملتونو له دارالانشا نه نورو ملکي کارمنان تاکي . دهغه نایب به د قرارګاه د دولړو واحدونو ترمینځ په نوبت سفر کوي ، او په تولو ونډتوکي به له هغه سره له نزدې مخابراتي تماس لري .

## ٤ . کړنلار

### (الف) دلوړو په غوښتنه د پلټنو کول

(أ) د هر یوه لوړي له خوا شکایت چې د فیصلې لپاره دسند و نو د سرغړونې په باب کیږي ، باید په لیکلی ډول د انګریزي په ژبه کې د مربوطې قرارګاه واحدونو ته وسپارل شي ، او اړونده معلومات او تفصیلات دې څرګند کړي .

(أأ) د سرمنشي د استازي نایب به د شکایت په تسلیمیدو سره د شکایت بل لوري ته لاسه خبروي ، او د پیښې په محل کې به پلټنه کوي ، شواهد به تولوي ، او له هر هغه طرز العمل نه به کار اخلي چې د ادعا شوي سرغړونې د پلټنې د پاره لازمي ښکاري . د غسې پلټنه به د قرارګاه

له کارمنونه په استفاده کې سره کیږي ، چې پاس ورته اشاره شوې ده ، مګر داچې د سرمنشي د استازي نایب به د اضافي دلو ضرورت لاندې ګڼي . په دې حال کې به لوړې ، د حرکت د ازادۍ د اصل له مخې اضافي کارمنونه خپلو مربوطو سیمو ته د تګ سملاسي اجاره ورکوي .

(iii) د پلټنو په باب راپور به د سرمنشي د استازي د نایب له خوا په انګریزي تهیه شي او د وارو حکومتونو ته به په پته ورو سپارل شي . ( په عین مهال کې د راپور درېم نقل به په پته په نیویارک کې د ملګرو ملتو مقرته - خاص د سرمنشي او دهغه د استازي د خبریدو د پاره واستول شي . ) د اوږې فقرې له مخې به د پلټنې په باب راپور باید د لومړو په یوې غونډې کې چې د سپارنې ترنېټې نه ۴۸ ساعته وروسته نه وي ، ترکتنې لاندې ونیول شي . د استازي د غیاب په صورت کې به د سرمنشي د استازي نایب خپله توجه ( یا توجهات ) لوړوته اړوي او په دغې قرینې کې به د غونډو په تنظیمولو کې مرسته کوي ، او په هغوی کې به ګډون کوي . د دغو غونډو په قرینه کې د سرمنشي د استازي نایب ممکن د لوړو دکتنې او د تاسید د پاره د سندونو د مادو د سملاسي ، صادقې

او پوره رعایت په منظور نظریې او سپارښتنې وړاندې کړي.
( دغسې نظریې او سپارښتنې به مسلماً د سرمنشي د استازي
په مشوره کیږي ، او دهغه له خوا روښانه کیږي . )

## (ب) د سرمنشي د استازي د نایب په نوښت د پلټنو کول

د هغو پلټنو سربیره چې د لوړو په غوښتنه به کیږي ، د
سرمنشي د استازي نایب به په خپل نوښت او د استازي په مشوره
اجازه لري هغې پلټنې وکړي چې دی یې د اومې فقرې د
اجرا په مقصد لازمې بولي . که لازمه وبلله شي چې هغه نتایج چې
د پلټنې نه راپیدا شویو لومړوته د راپور ورکولو موجه کوي ، -
هماغه کړنلاره به تعقیب شي ، کومه چې د لوړو په غوښتنه
د پلټنو د کولو په باب شوې وه .

## په غونډو کې د ګډون کولو سطح

د سرمنشي د استازي نایب به ، څنګه چې پاس څرګنده
شوې ، د لوړو په هغو غونډو کې ګډون وکړي ، چې د راپورونو
د کتلو په مقصد د سرغړونو په باب جوړیږي . که لوړې فیصله
وکړي چې لکه څنګه چې په اومې فقرې کې خلاصه شوې ، د لوړې
سیاسي سطح په مقصد غونډه وکړي ، د سرمنشي استازی

به پېښه په دغسې غونډو کې ګډون وکړي .

## ۵. موده

د سرمنشي د استازي نایب او نورکارمنان به له شلو ورځو نه په کمه موده کې چې دغه سندونه نافذیږي ، په سیمه کې تثبیت کیږي . ټول ترتیبات به د نهښه یې چوکات له تکمیل نه دوه میاشتې وروسته چې د سندونو د عملي کېدو دپاره تاکل شوی ، له مینځه ځي .

## ۶. تمویل

د ټولو اسانتیاوو او خدمتونو لګښت به چې د لورو له خوا تهیه کیږي ، د مربوطو حکومتونو له خوا تادیه کیږي . د بین المللي کارمنو معاشونه ، اوسیمې ته او له سیمې نه سفري لګښتونه اوپه همدې ډول د ځایي کارمنو لګښتونه به چې د قرارګاه د - واحدونو دپاره استخدامیږي ، د ملګرو ملتو په غاړه وي .

( پای )

# افغان مجاهدین

دمجاهدینو او دهغوی د قوماندانانو د کارنامو په
باب دغه لاندې څوکرښې دلیکونکی دیوه ټر
اوسه هغه ناچاپ شوی اثر نه دلته رانقلوي ، چې په ټپر
ژمي کې کښلی شوی دی .

" په عمومي دول دوی ( مجاهد قوماندانان ) تعلیم
یافتگان او ځوانان دي چې په هغوکې د خدای په فضل د شخصیت
او ولس ته ګران او نامتو قوماندانان لږ نه دي . په دوی کې احمد شاه
مسعود د پنجشیر ، مولوی جلال الدین حقاني د پکتیا د ځدرانو ،
عبدالحق جبارخیل د پغمان او تودن اسماعیل د هرات نه یوازې په
وطن ، بلکه په سیمې او ترڅه حده په جهان کې نوم ایستلی دی .
د مکتب یو ښوونی معلم مرحوم عبد القادر مشهور په ذبیح الله

د مزار د مجاهدینو هغه موثر آمر و، چې د جهاد په تنظیم کې
یې بې ساری لیاقت ښودلی و. تولې وسله والو مجاهدینو او په
سرکې د غو ښاغلیو قوماندانانو د جهاد په دغه اوږده او له
سختو سترګنو نه د ډک تحریک کې د غازي محمد اکبر خان ،-
غازي محمد ایوب خان او غازي محمد جان خان او هم د
اسطورې یې رستم د قهرمانۍ قبضې یوځل بیا تازه کړې ، او په خپلو
قهرمانو سره یې د روس غوندې بې رحمه ستر جهاني قدرت
چې نامحدود منابع په لاس کې لري په خپل وطن کې په ګوندو
کړې او جنرالان یې د یوشمیر هغو جنرالانو په شمول چې د
نړۍ په دوهم جنګ کې بریالي وو، دلته مغلوب او زړه خوړین
کړي دي. د غو ښاغلیو مجاهدینو به د روس د یرغل د پوړ
په شاوخوا سره د نړۍ په دغه ګوټ کې د هغه د پنځو پیړیو
د پراختیا غوښتنې او ملکونو نیولو مخه نیولې ، او په دې
دول به یې نه یوازې خپلو وطنوالوته ، بلکه ټولو انسانانو
ته نه هیریدونکې ستر خدمتونه هم کړي وي . اوس د دې
پوره درک کیدلی شي چې د افغان اسلافو واقعاً د جهان
ستر فاتحان د لوی سکندر په شمول په خپل وطن کې
په ګوندو کړي وو ، په همدې دول اوس هر څوک په دې
یقین کولی شي چې د دوی نیکونو په نوښتې پیړۍ کې د-

وخت یو لوی استعماري طاقت یعني انګلیس هم په خپل وطن کې مات کړی و . نو پوره په ځای ده چې انزادي پال افغانان په خپلو دغو مجاهدو قوماندانانو هغې وویاړي، لکه چې په خپلو تېرو قهرمانانو فخر کوي . ایکونکی خو دزړه له کومې په دې ویاړي چې افغان او دافغانستان دی .»

مجاهدین یوازې د خپل هیواد د پاره نه ، بلکه د پاکستان د پاره هم جنګ کوي .

خدای بښلی ضیاءالحق

مجاهدین د خپل وطن ، پاکستان او ترخلیج پورې د ټولې اسلامي کړۍ د تلپاتې کیدو د پاره کلیدي حیثیت لري .

شبیر حسین

# محمد خان جونیجو د موکراسی د اعادې کوښې غوږځنګ او افغانستان

شبر حسین

د رسالې د خطاطۍ په وروستۍ ورځ کې په پاکستان ـ ټایمز کې ( سپټمبر ٤ ، ١٩٨٨ ) لاندې نه لیکنه ترنظره شوه ، چې د ژنیو د توافقاتو او د نورو اړوندو تکو په باب نوې مهمې مطالب لري ـ څنګه چې په متن کې له هغې نه استفاده کول ممکن نه وه لازمه وبلل شوه ، چې ټوله لیکنه پښتو او ضمیمه شي.

د جمهور رئیس ضیاء الحق له مړینې نه ١٣ ورځې ـ

وروسته ، چې روسیې دخپل سهیلی لورې پرمختګ په
لاره کې « نړیتولوستړخنه » باله ، شوروياتو له خپل ملک نه د
الوتکو په الوزولو سره د شمال له کلیدي سیمو څخه وزنه د
مجاهدینو دایستلو په مقصد د ژینیو له موافقې نه په سنګاره
دول سرغړونه وکړه په بله وړځ د کابل رژیم جنګي الوتکې د شوروي
اتحاد په څګند ملګرتوب سره د پاکستان په فضاکې د ننه ننوتلې
او له پیښور نه ۲۵ میله لرې یو کلی یې بمبارۍ کړ . د دغه بم
غورځونې له یرغل نه زیر وروسته عبدالوکیل د کابل رژیم د
باندنیو چارو وزیر دهلي ته « دخلورو وروځو په نا اعلان
شوي سفر لاړ . »

دغه ټول فوري او ګواښونکی انکشافات سړی دې ته
مجبورووي چې هغې تګ لارې ته څیر شي کومې چې د جونیجو
حکومت د ژینیو د خبرو نه روسبی ، او د هغو په بهیر کې غوره
کړې وه او همدارنګه په خپله په شویو توافقاتو غوره وشي -
یو څوک غواړي په دې پوه شي چې جونیجو د دغو خبرو
په باب په داسې وخت کې چې مجاهدین چې البته د جمهور
رئیس ضیاء الحق د حیرانونکی زړورتیا ملاتړ ورسره و ، د
بریالی توب درشل ته نزدې شوی و ، څه دول نظر ونه او
ادراکات لرل ، او څه دول اقدام یې په نظر کې لاره .

# « ستره طرح »

د تېرو ورځو انکشافات ماته د جمهور رئیس ضیاء الحق د شوروي - هندوستان د « ستري طرح » هغه تحلیل هم را په زړه کوي چې د مجاهدینو، او د هغو ترڅنګه د پاکستان پر ضد لرل، کوم چې هغه ( ضیاء الحق ) له خپلې مړینې نه یوه اونۍ د مخه د NTP له مدیرانو او مشرو خبریالانو سره په مرکه کې څرګند کړی و. هغه وخت چې دی په تحلیل لګیا و، د هغه مطبوعاتي مشاور ښاغلی سولري ( ز. A - sulery ) په خبرو کې ورګډ شو، او هغه یې وپوښته چې که د پاکستان حکومت ( د جونیجو حکومت ) لږ څه نور هم تینګ شوی وای موږ به د ژنیو د مذاکرو په نتیجه کې په کابل کې پراخ - بنسټه حکومت لیدلی وای.

زه د هغه د مخ تصویر کښلی شم، چې هغه وخت یې - ځواب نیاروه له ژور سوچ سره غصه ګډه شوې وه. زما په فکر د دغسې یوه شخص د پاره چې تردید ورسره نه و، او د ډیل یې خاصه وه، یو څه غیر معمولي ښکاره شوه - ده په دې دول ځواب ورکړ.

« داسې احساس کوم چې کولی موشو. خواوس هغه تاریخ گرځېدلی دی . دجونېجو حکومت د مارچ په پنځلسمه لاسلیک ونه کړ . دوی د اپریل په ۱۵ [ د اپریل ۱۴ مه ] لاسلیک وکړ . زه هم دهغې پروسې یوه برخه وم - زه جمهور رئیس وم ، او دا به سمه نه وي که ووایم ما څه سپارښتنې وکړې ، څه مې وغوښتل ؛ دا به هسې وي چې لکه زه د ځان د پاره وهل وهم ، یا خپله سرنده غږوم ، ځکه چې جونېجو دلته نشته ، چې له ځان نه دفاع وکړي . هوزه په دې فکر یم چې په هغه تېنګار سره چې حکومت وښود موږ ته هغه څه ترلاسه کړل ، چې ترلاسه کړل او زه له سولرې سره موافق یم ، چې که موږ یو څه نور هم تېنګ وای ، د پراخ - بنسټه حکومت د جوړېدو د پاره موافقه د وېرځوخبره وه . »

هغه [ ضیاءالحق ] فیصله وکړه چې خپلې سپارښتنې څرګندې کړې ، خو هغه له جونېجو نه درخواست کړی و ، چې څه وخت چې بې داپریش چه د ریمه پارلمان ته خطاب وکړ . یوځله لا تېنګ اوسي - په داسې حال کې چې هغه په افغانستان کې د تر سره کولو د پاره هغه څه چې د [ پاکستان ] د ملت په مقابل کې و ، د هغو ټول کریډټ جونېجو ته ( چې د غه صدراعظم یې مستحق نه و ، او نه به څوک دغسې یقین وکړي ) ورکړ ،

حمهور رئیس نزدې جوړجوړته زاري وکړې ، چې یو څه نور استقامت او تینګښت وښیي .

# د ادراک نه شته والی

خو جوړجوړ څله تینګ نه و ؟ داسې نه ده چې هغه متقلب و ، د هغه مشکل د ادراک نه لرل ، او د دغې مسئلې په باب چې د پاکستان د پاره د ژوند او مرګ سوال و ، او لاهم دی ، دیوی عندې لاړې غوره کول و . همدغه د ننه ځان ته د توجه بې مفهوم توب و ، چې دی یې د ژبنیو دخبرو په درشل کې د دموکراسي د اعادې کولو غوږ ځنګ لویانو ته نزدې کړ ، چې څوک یې له روس نه ویرېدل ، او له هغه قانون نه بېخبره وو ، چې د ملتونو په هسکېدنې اونسکورېدنې باندې حاکمیت لري ، او هغوی په هرقیمت د شوروي تسکین غوښته ، په داسې حال کې چې نور یې په څرګند ډول د مجاهدینو د داعیې مخالف وو ، او په خپلې عادي روس-پلوي اوهند - پلوي لوبې کولو باندې بوخت وو .

څه وخت چې نړه اوس د دموکراسي د اعادې کوني د

څواک له لویانو سره چې له هغه وروسته په ټولو ایالتي مرکزونو کې یې بلل شویو شخصیتونو سره ازاد «بحث» وکړي ، د جونېجو غولوونکې جرګې په زړه کوم ، داسې حس کوم چې د هغه قول مقصد دهغه څه له مینځه وړل وو ، کوم چې جمهور رئیس او د هغه ملګرو د تېرو کالونو په بهیر کې کول .

[ ده داسې پټتیلی وه ] چې دی باید په هرې وسیلې چې کړای شوای ، او په هرقیمت چې د هغه هېواد ته او افغان مجاهدینو ته تمامیده ، جمهور رئیس نا کام کړي . هېڅ څوک به په دې پوه نه شي چې جمهور رئیس ضیا په څومره زحمت سره ځان مجبور ولید ، جونېجو دېته اړکړي ، چې لږ تر لږه دیوې میاشتې دپاره حکومت وکړي ، چې نتایج یې یوځه بهتر او لږ زیان رسونکی شول .

او ضیا د شوروي سفیر بناغلي عبدالرحمن وړان سوف ته چې د ژنیو تر موافقو نه نږدې دوه اونۍ د مخه یې وړسره ولیدل ، څه وویل ؟ بناغلي وړان سوف له هرتاکتیک ، له هیلې کولو ، وپرولو ، له تېرایستلونه کار واخیست ، خو هېڅ ګټه یې ونکړه څه وخت چې د شوروی سفیر وویل چې دی لاهم هیله من دی چې پاکستان به د مارچ په پنځلسم لاسلیک وکړي ، جمهور رئیس وویل « مګر دا چې اسمانونه غوړېدلی وي ، زه به

هغه څوک نه اوسم چې حکومت ته هدایت ورکړم چې د - مارچ په پنځلسمه لاسلیک وکړي . زه حکومت ته هدایت ورکوم چې و ګوري په کابل کې کوم حکومت مینځ ته راوستل شوی وي . زهونږ دپاره موقتي حکومت د شورويي قواوو تروتلو نه وړمخکې دی . کیدلی شي، دوی خپله وتنه تاال کړي . »

د مجاهدینو په بریالی تړب کې تاال ، د دوی په هیواد کې دوام لرونکې وینه توئیدنه ، د شورويي اتحاد بې شرمي چې د دې دپاره چې دانارډی د جنګیالیو مخه ونیسي له خپل ملک نه جنګي الوتکې الوزوي ، او د شوروي - هند د « ستر چا طرح » فعال کونه ، د اټول دجوړجوړ د نه ادراک ، او د - دموکراسۍ د اعادې کوښې د څوك له پاسه انانوسره د هغه د سازش په سبب وی ، چې د خپلې امادګۍ د پاره یې سرتې واهه ، چې د ژنیو موافقه لاسلیک کړي ، او په دې دول د دقیقې ساتل شوې د پیلوماسۍ له لارې د پاکستان د - چټې وهلو استعداد نفي کړی - پخوا له دې چې د ژنیو [ وروستۍ ] خبرې په پښتیا پیل شي هغه د حکومت دیوه ډارن اوپیکه سروال په حیث خپلې ټولې قطعې په میدان کې برالاسکړې وې .

# دافغانستان شهیدان

په داسې حال کې چې جمهوریه رئیس ضیاء الحق اوورسره ملګري یې لا مخه دافغانستان د شهیدانو اعلان شوي دي، وروستي موږ خان به دافغانستان دازادۍ په جنګ کې د جونېجو پرضد زیاتمن او د دموکراسۍ داعادې کوونې ځواك مشران به ګډ ودونکی، او هم څېړې [کېږي] وبولي. جمهوریه رئیس ضیاء الحق د جونېجو دلپاره لږه هغه نه چې یې دمې په ۳۰ مه وویل، بل دلیل نه ما نه خو ما هغه وخت همدغه احساس لاره چې په افغانستان باندې ممکن کومه مهمه پېښه راتلونکې وي او ده - [ ضیاء الحق ] نه غوښتل چې که دغسې څه پېښېږي یو بې بصیرته کم زوړی د واك په تخت ناست اوسي. دښمنان یې هم پوهېدل، اوله مینځه یې یووړو.

سړی رېښ دي چې فکر وکړي دافغان په داعیې به څه پېښ شوي وای، که ښاغلی جونېجو د ښاغلی غلام اسحق خان په ځای د واك په څوکه ناست وای. البته

له ډموکراسۍ نه غیر بله چاره نه شته ، او د اساسي قانون له مخې باید ورځنۍ لاره شي . خو دغو ملکونو د پاره چې د مخکښ ځل پاره په هسکو سرونو مجادله کوي ، له رایو نه تر محض رجوع نه زیات څه ته اړتیا شته - دوی زړه ورتیا عقیدې ، او ادراک ته اړه لري - دا هغه څه دي چې جمهور رئیس ضیاء الحق هغه وخت چې شوروي یانو نه کاله دمخه ګڼ پوځونه د پاکستان ګاونډي مسلمان هیواد ته واستول، له ځان څخه وښودل . دغه حقیقت له صحنې څخه د ده په لیرې کېدو سره په پاکستان کې هر یوه ته ، او همدارنګه ته څرګند دی - مجاهدین د خپل هیواد ، او هم د پاکستان او ترخلیج پورې د تولې مسلمانې کړۍ د پاره د کلي حیثیت لري.

# لیکونکی

لیکونکی نزدې پښځه پنځوس کاله د مخه د لغمان ولایت د دېوې ( یا پلوتې ) په کلی کې په یوې متوسطې کورنۍ کې زېږېدلی دی . پلار یې په دیني علومو کې وارد ، او شغل یې حکومتي ماموریت و۔ نیکه یې دیني عالم او مفتی و ۔ لیکونکی لا ماشوم وُ چې یې پلاره شو. خوله ښه مرغه د یتیمي څوانۍ یې له خپل نمخور عمه زوی عبدالسلام اخندزاده سره چې د محل د حکومت په مرکز کې ماموروُ، د اخندزاد ګانو په کلي کې تېرکړه . دهغه په هڅونې سره لومړی د تېرکړې ، او وروسته د حکومت په مرکز کې په لومړنیو ښوونځي کې په تحصیل بوخت شو . وروسته چې مور یې هم مړه شوه ، له خپل اصلي کلي نه یې ، چې له ښوونځي نه د برلېږې پروت وُ ، خپلې نرده کړې ته سره له دېرو مشکلاتو دوام ورکړ . دی په دوارو کلیو کې لومړنی شاګرد وُ چې په رسمي ښوونځي کې یې تحصیل کاوه . په عین حال کې داوږې

په رخصتیو کې یې له نورو شاګردانو سره یوځای له محلي ناظمانو نه هم تحصیلي استفاده کوله . په دې دول نهه کلونه یې په لغمان کې په تحصیل تېر کړل. د تحصیل نهم کال یې په کندهار کې د احمد شاه بابا په لیسې کې په داسې حال کې چې له خپل نیایي عبدالمقیم نیازي کره اوسیده ، تېر کړ . لسم او یوولسم صنف نه یې د کابل په دارالمعلمین کې وویل، خو دوولسم صنف یې په داسې حال کې چې په همدغه دارالمعلمین کې لیلیه ؤ، د غازي لیسې ( اوسنۍ شېرشاه لیسې ) په اجتماعي ځانګې کې په تحصیل تېر کړ . د تحصیل په توله دوره کې له یوه صنف نه غیر اول نومره ؤ .

دوخت د رسمي مقررې تر له مخې د اول نومره فارغ التحصیل په حیث د لیالیو د تحصیلاتو د پاره امریکې ته روان و، چې سخت ناروغ شو . له رغېدو وروسته تولې هلې ځلې یې په خارج کې د تحصیل کولو د پاره بې نتیجې شوې . دوخت د نیګرې آزادۍ په فضا کې د نورو همزولو په شان په سیاسي دګر کې فعال شو . دا د وخت د پوهنتون رئیس داکتر انس د پاره یوه پلمه شوه ، او لیکونکی یې چې د مقرراتو له مخې حق لاره په داخل کې د خپلې خوښې په فاکولته کې تحصیل وکړي ، د حقوقو او سیاسي علومو په فاکولته کې

تحصیل ته پرې نه ښود. په هرحال له هغه وروسته څلور کاله یې د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې د تاریخ او جغرافیې په څانګه کې تحصیل وکړ، او په لوړه درجه فارغ شو. د تحصیل په وروستي کال کې یې د برتانیې د سیاسي سیستم په نامه یوکتاب په پښتو واړوه، او د ابن سینا جایزه یې پرې وګټله. د همدغه تحصیل په دوره کې وُچې د ایران د حکومت په بلنه یې د پوهنتون د یوشپږ محصلانو په ډله کې په هغه ملګرتیا د محصلانو په بین المللي کامپ کې یوه میاشت په رخصتۍ تېره کړه.

لیکونکی له پوهنځي نه له فارغېدو وروسته په پښتو ټولنه کې چې د وطن نامتو لیکوال او شاعر ګل پاچا الفت یې سروال وُ، غړی او د کابل ښاروالۍ چلوونکی وټاکل شو. په مجله کې له لیکنو نه برسېره یې د ګډو کې ادبي لیکنو نه له یو انګریزي متن نه په پښتو واړول، او پښتو ټولنې چاپ کړل - لیکونکی په کال ۱۹۵۸ کې د هغه هیئت غړی وُ چې د شوروي حکومت په بلنه تاشکند، سمرقند، دوشنبه او مسکو ته په سفر لاړ. د وطن نامتو شاعر خلیل الله خلیلي د هیئت سروال، او الفت صاحب، او ضمیر ساپی د هغه نور غړي وو. بل کال دیوه بل هیئت غړی شو، چې د شپږو اونیو دپاره د امریکې متحده هېوادونو ته په سفر لاړ، او هلته یې عرفاني، او د خپرونو مؤسسې ولیدلې.

لیکونکی په کال ۱۹۶۱ کې د وخت د پوهنې وزیر داکتر علي احمد پوپل د فکر له مخې د فلالوژیکه په څانګه کې د افغانستان په لګښت د لندن په پوهنتون کې د لوړو تحصیلاتو د پاره واستول شو. خو لیکونکی هلته د تاریخ په تحصیل بوخت شو. فکر کېده چې هلته به بس په دوو کلونو کې د ماسټرۍ شهادتنامه ترلاسه شي لکه چې په عمومي دول د ماسټرۍ شهادتنامې په هغه وخت کې ترلاسه کېدلی شي - خو څنګه چې د لندن د پوهنتون د آسیایي او افریقایي مطالعاتو فاکولته، چې په هغه وخت کې په ټولې نړۍ کې په خپل نوع کې بې ساري فاکولته وه، او لوړ سویه او پر ضیق تحصیلي مقررات یې لرل، لیکونکی هلته مجبور شو څلور کاله په دغې تحصیل کې تېر کړي، چې خپل د کابل پوهنتون لیسانس د هغې فاکولتې د لوړې درجې لیسانس معادل وګرځوي ترڅو د څېړنیز تحصیل اجازه ترلاسه کړي - د لندن پوهنتون د هغو پوهنتونونو په ډله کې دی چې د خپلو پر ضیقو مقرراتو له مخې د داخلي او خارجي محصل ترمینځ په هیڅ تحصیلي فرق او امتیاز قایل نه دی. په هرحال لیکونکی په دغو څلورو کلونو کې د اروپا معاصر تاریخ، د منځنۍ ختیځ تاریخ، او اسلامي مؤسساتو کې تحصیل وکړ - له هغه وروسته د څېړنیز تحصیل په دوره کې یې په درې کلونو کې د ماسټرۍ فلاسفي (ایم - فل)

شهادتنامه ترلاسه کړم، چې تر معمولي ماسټرۍ نه لوړه، او د ډاکټرۍ معادله ده - کابل پوهنتون هغه د «فوق ماسټرۍ» په حیث وپیژني. په هرحال د دغې شهادتنامې د لاس ته راوړلو د پاره لیکونکی یوځل بیا تیسس په نامه د په افغانستان کې د د امیر عبدالرحمن خان د امارت په دوره کې د مرکزي حکومت تینګښت، ولیکه، چې دهغه د پاره یې دوه کاله په لندن کې په انډیا افس کې د افغانستان په باب د برتانوي له آرشیف نه یادښتونه راغونډ کړل - په کال ۱۹۷۱ کې دغه اثر په لاهور کې چاپ شو - برسیره پردې لیکونکي د تحصیل په دغو اووکلونو کې د برتانیې په تولوسیمو کې وګرځېد، اوهم یې د بي بي سي د پاره په پښتو اودري کې وېرې راډیویي لیکنې په کابل راډیو کې د خپرولو د پاره برابرولې. په همدغه لړ کې انګریزي د راډیو له لارې پروګرام ډ، چې شرح یې لیکونکي په دري کې کړې وه، او وروسته د بي بي سي له خوا په دوو ښلو ښلو توکونو کې چاپ شوه.

لیکونکی وطن ته له ستنیدو وروسته د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي د تاریخ په دیپارټمنټ کې په تدریس بوخت شو - د تاریخ ښل ښل مضمونونه یې تدریسول، خو عمده او خاص مضمون یې د معاصر افغانستان تاریخ ډ - د تدریس ترڅنګ

یې تاریخ څه ته وایي ؟ په نامه د پروفیسر کار وتلی اثر په پښتو
ولیږه او پوهنځي چاپ کړ. لیکونکي په عین حال کې د دا کتورۍ
تیسس د لیکلو د پاره د تاریخي موادو په تولولو بوخت ؤ. د همدغه
منظور د پاره یې د کابل زاړه ښار له څینو کتاب پلورنځیو نه د امیر
عبدالرحمن خان د وخت د چې مهمې وړې رسالې پیدا کړې- په
عین حال کې د دا کتس روان فرهادي په مرسته په دې موفق شو
چې هم د کابل د بهرنیو چارو د وزارت په ارشیف کې د امیر عبدالرحمن
خان د دوړې اسناد وګوري او یاد دښتونه تړي واخلي ، او هم
د شپږو اونیو د پاره په نوي دهلي کې د هند په ارشیف کې څېړنې
وکړي . په کابل کې د امیر عبدالرحمن خان د وخت د وسیع تر
لیکونکي د مخه بل هیڅ چا د علمي څېړنې په مقصد نه وې
کتلې -

لیکونکي په کال ۱۹۷۱ کې د خپلو څېړنو د تکمیل او د دا کتورۍ
شهادتنامې د لاس ته راوړلو او د څېړنیز تیسس د لیکلو په مقصد
د فولبرایټ سکالرشپ له لارې د امریکې د پرنسټن په پوهنتون
کې د منځني ختیځ د مطالعاتو په مرکز کې د میلمه محقق په حیث
څېړنې وکړې . هلته له یو نیم کال څېړنې وروسته یې د هاروارډ
پوهنتون کې چې په تولې امریکې ، او هم په تولې نړۍ کې د لوړنامه
پوهنتون دی ، په همدغه نامه خپلو څېړنو ، او لیکلو ته دوام

ورکړې په دغو دواړو پوهنتونونو کې له درې نیمو کالو څخه زیاته وخته
پې خپل تاسیس په نامه د افغانستان حکومت او جامعه د امیر
عبدالرحمن خان د امارت په دوره کې تکمیل کړې، او د هغه د دفاع
د پاره لندن پوهنتون ته لاړ، او هلته یې د موفقانه دفاع نه وروسته
د داکتورۍ شهادتنامه ترلاسه کړه. د هاروړ د په پوهنتون
کې یې په همدغه تاسیس بیا کار وکړ، او نور یې هم ښه کړ، چې
وروسته د تکساس دولتي پوهنتون د هغه د چاپ ذمه واري
په غاړه واخیسته. په عین حال کې لیکونکي خپل لومړنی چاپ شوی
کتاب د نویو موادو په رڼا کې له سره تنظیم کړ، نو رفصلونه یې پرې
اضافه کړل، خو لاتر اوسه چاپ شوی نه دی- د تکساس پوهنتون
د لیکونکي د داکتورۍ تاسیس په کال ۱۹۷۹ کې چاپ کړ. ویل
کیږی شي چې د مولف دغه اثر د افغانستان د مطالعاتو په ډګر
کې د روند علمی اثر وي.

لیکونکی په کال ۱۹۷۶ کې وطن ته ستون شو او په پوهنتون
کې یې د تدریس پخوانۍ وظیفه له سره پیل کړه- د تدریس ترڅنګ
یې د غوایی ترکو د تاپوري د تاریخ د دیپارتمنټ د آمریت وظیفه
هم په غاړه وغوړځول شوه په همدغې لنډۍ موده کې یې
په عین حال کې دوه درسي کتابونه په درې واړول. یو یې د
پروفیسر مک نیل تاریخ جهان معاصر، او بل یې د پروفیسر سدنی

اروپا درقرن وسطی نومیږي . دوارې ترجمې د چاپ دپاره
تیاري شوې وې ، چې د غوایي کودتا پیښه شوه ، او دوارې له
چاپه پاتې شوې ، په دې چې په هغوکې د پښتو درېمې ایډیالوژیکه یعنې د
طبقاتي مبارزې د فکر له منځه نه وړ شرح شوې . وروسته ترجمه
لا له اصل کتاب سره د پرچمیانو په هدایت د پوهنتون د نشراتي
آمر کاظم آهنګ لا درکه کړې هم وه - د غوایي ترکودتا د مخه لیکونکی
یوه رساله په دري کې په نامه د افغان و افغانستان وافغانها و -
تشکیل دولت درهندوستان ، فارس و افغانستان هم ولیکله .
پوهنتون دغه رساله د غوایي ترکودتا نه وروسته ، چاپ کړه ، خوبیا
یې زر مصادره کړه .

لیکونکی د غوایي د کودتا نه وروسته یعنې په دغسې
تیاري اومطلقې دوره کې چې د پوهنتون د پر استادان او
شاګردان زندانې شول ، ووژل شول ، اویا فرار شول ، خپل
تدریس ته په لازم احتیاط سره دوام ورکاوه - خو د حکومت
په پلوۍ یې یوګام هم پورته نه کړ . د روسانو دیرغل نه
وروسته په ښکاره اوجدي ډول له درسي صنفونو نه دباندې
انتقادي شو . په پوهنتون کې د هفکرو استادانو په لمنه کې شو ،
او دیوشمیر دغسې استادانو په مرسته یې د استادانو او
محصلانو د اتحادیې په نامه یو سازمان هم جوړ کړ . سازمان

په ظاهر کې د علمي او درسي آزادۍ د پاره يو صنفي تشکيل وُ.
شاته يې د آزادۍ غوښتونکو جبهه هم وه ، چې هغه سياسي او
بس يوځوتنو ته معلومه وه . په عين حال کې ليکونکي په وطن کې
د انساني حقوقو نقض موضوع د يو شمير نورو استازو په موافقه
د خبرو او بحثونو غټه انتقادي موضوع وګرځوله - ليکونکي تر دغه
وخته پورې له عملي سياست سره هيڅ مينه نه سنوده له . د تدريس
او دغسې فعاليتونو ترڅنګ يې د الفستين نامتو کتاب . د کابل
سلطنت بيان په پښتو ژباړه وه . چې لومړی توک يې په همدغه
وخت کې د افغانستان د اکادمۍ له خوا خپور شو . د اهغه وخت و
چې ليکونکي د کډوۍ ترفيعاتو په لړ کې پوهنوال و ، او د پوهاند
د ترفيع د پاره يې يوه مستند رساله په نامه د جنګ دوم افغان
انګليس وړاندې کړله . دغه رساله په پوهنتون کې د پرچمي
ګوندياني د منظم اوسکاره مخالفت سره سره د علمي شورا له
خوا په يوه غير عادي اوږده بحث کې په بيخي د پر اکثريت سره
ومنل شوه ؛ پرچمي ګوندياني سعد الدين هاشمي د پوهنتون
اداري مرستيال د بيخي کلک مخالفت د پاره هڅولی وُ - په هرحال
ګوندي مقاماتو د ليکونکي دغه ترفيع له خپل جدي مخالفت
سره سره دغسې تعبير کړه چې ګواکې ليکونکي په پوهنتون کې
پورته اغيزمن استاد دی ، چې البته دا د دوی د پاره چې په

دغه وخت کې يې خپل حاکميت ابدي ګانه ، د نړۍ وړانه
ده .

د ۱۹۸۲ کال د اپريل په لومړۍ ورځ په داسې حال کې
چې ليکونکی له تدريس نه وروسته د اکادمۍ په لور روان وُ ، د
پرچمي پوهيالی واسع قرار ځبرله مخې د خاد عمالو وښيو ، او د خاد
د مرکز بندي خانې ته يې وسپارم . څلور نور استادان يې هم
وړاندې او وروسته له ليکونکي نه وښيول ، او ليکونکی يې له
پنځلس مياشتو بند نه وروسته په اتو کالو بند محکوم کړ . په
زندان کې يې اول د خاد په مرکز ، او بيا يې د ميدنام پلچرخي په
زندان کې يوه مياشت کم پنځه کاله تېر کړل ، ترڅو د ۱۹۸۷ کال
د مارچ په لومړۍ له زندان نه آزاد شو . د بند په موده کې د
ده د الفستين د کتاب د دوهم جلد پښتو ترجمه د اکادمۍ د
رئيس په امر هم چاپ اوچړه شوه .

ليکونکی د آزادېدو نه وروسته په پوهنتون کې خپل
څوانی تدريس له سره پيل کړ ، او د مقاماتو دغه بلنه يې ونه
منله چې له هغوی سره همکاري وکړي ، لکه څنګه چې د حکومت
دغسې بلنه يې د خوشې کېدو په مقابل کې په زندان کې هم نه وه منلې .
په پوهنتون کې يې د تدريس ترڅنګه يو رساله وليکله په نامه
د افغانانو د شپږ شپيتم کال په پسرلي کې له روسانو سره د جنګ په

حال کې -

لیکونکی له خپل خوښې کېدو نه لس میاشتې وروسته د همدغه کال ( ۱۹۸۷ ) د دسمبر په میاشت کې له خپلې کورنۍ سره پېښور ته هجرت وکړ، او له هغه وروسته یې په سنګاره په فکري او قلمي جهاد نوره واچوله - د تاليف-نیزم ، دولتي مطلقیت ، او انساني حقوقو له نقض ننه را پیدا شوی خبایث او مصایب ، د فردي آزادۍ او ملي خپلواکۍ سپېڅلې ، او د شوروي دیرغل پرضد د افغان د آزادۍ جنګ ضرورت ، او د همدغه یرغل مولود انساني مصیبتونه د لیکونکی د خبرو او مرکو او لیکنو عمده موضوعات تشکیلوي .

په پېښور کې د لیکونکي دېره موده نه وه تېره شوې چې د نړۍ یوې میاشت د پاره ( فبروري - مارچ ) لندن ته د عفو بین المللي له خوا ، سویدن او ناروې ته د افغانستان د پاره د سویدن او ناروې د کمیټو له خوا د همدغو موضوعاتو په باب د نظر د څرګندولو د پاره د خپل فامیل د څېنو غړیو سره وبلل شو . د سفر په پای کې یې په پاریس کې په هغه کنفرانس کې هم ګډون وکړ چې د افغانستان به باب د بین المللي بوډیو له خوا جوړ شوی ؤ .

لیکونکی له دغه سفر نه ورروسته دغه اوسنۍ رسالې
ولیکله - لیکونکي په افغاني اوبهرنیو مجلوکې د افغانستان په باب
دېرې اختصاصي لیکنې هم خپرې کړې ، او همدا راز یې په پېرو
ملي اوبین المللي سمیناروبونو کې ګډون کړی دی . لیکونکی یو
مېرمن اوپنځه اولاده لري ، په نامه د پلوشه ، وېزمه ، کاوون
خوږې ، او شباوون .

برتهکال ، پېښور -
د جون ۲۲ ، ۱۹۸۸

د سید قاسم چکنوري خطاطي
سپتمبر ۵ ، ۱۹۸۸

# یوه ضروري یادونه

د ۱۱۸ مخ په پایلیک کې د صدرالدین اغا خان د نطاق په قول په افغانستان کې له ۳۰۰۰ څخه تر ۴۵۰۰ پورې ماینونه ایښودل شوي دي . دغه شمیر په غالب احتمال غلط او د ماینونو اصلي شمیر تر دې په کراتوډېر دی . د شوروي انجنیر کرنیل نیف یوډوف په قول (مسلم ، جولای ۲ ، ۱۹۸۸) شوروي ځواکونو ۲۰۰۰ « مایني ساحې » په افغانستان کې جوړې کړي . بې له شکه نه د افغانستان په هکله د شوروي ماینو احصائیې په قصدي ډول غلطې او غیرقابل اعتبار دي . په معمولي ډول د شوروي اوکابل رژیم قواوو د نظامي پوستو او چاوڼیو په شاوخوا ساحو کې ماینونه خښ کړي ، اوهم په نورو سیمو کې له هوا نه ماینونه غورزولي دي . له بلې خوا مجاهدینو هم د مقابل لوري د تګ په لارو کې ماینونه اینبي دي . همدغه سبب دی چې د نورو منابعو په قول په دې تازه وخته کې د ماینونو مجموعي شمیر تر پنځو میلیونو نه زیات ، او حتی پنځلس میلیونه هم تخمین شوی دی . په هرحال تر اوسه بې حسابه انسانان د همدغسې ماینونو په چاودلو سره له مینځه تللي دي . بده یې لا داده چې د ډېرو انسانانو به هم په آینده کې په هغو سره له مینځه لاړشي ، ځکه چې د هغو نقشې معلومې نه دي او دقیق شمیر او کشف یې ناممکن دی . په دې ډول کومه هغه تراژیدی چې شوروي او نوکران افغانانو ته متوجه کړې ، یو بعد نه ، بلکه د ډېرو ابعادو لري ، او د هغو تولو مسئول د شوروي حکومت دی .

# دوفاخپرونې

| نوم | مؤلف | مترجم |
|---|---|---|
| د حنا وروفارم | جارج ارول | پروفیسور رسول امین |
| روسهای عظمت طلب وتیوری نشنلزم نوین | پروفیسر تیواری | شفق ستانیزی |
| د روس فاسده تولنه، په درې جلده کې | کانتستین یفائل سمیس | محمد آصف اکرام |
| د کې.جې.بې دننه، په دوه جلده کې | الگسی مایگوف | اختر محمد |
| کمپهای مرګ کولیما | رابرت کانکویست | ز.ع ممتاز |
| دروغهای جدید بخاطر دروغهای قدیم جلد اول | انا تولی کایستن | سید فقیر علوی |
| شوروی اتحاد او دا راچونه | رابرتا گورین | محمد آصف اکرام |
| د کیمیاوی زهرجنو موادو په جګړه کې لوړنۍ لاربښنې | داکتر تاج الدین ملتمل | . |
| تلاشهای روس برای اشغال افغانستان | عبدالکریم محب | . |
| طبقهٔ نوین | میلوان جیلاس | ج.ح ابراهیمی |
| دروغهای جدید بخاطر دروغهای قدیم جلد دوم | | سید فقیر علوی |
| انتقاد ما تریالیزم دیالکتیک | ابوالوفاء افغانی | |
| په اسیا کې د روس د پراختیا غوښتنو پالیسی | جونرف پوپوسکی | موسی خان جلالزی |
| ماده و معنی | ابوالوفاء افغانی | |
| په روسیه کې مخالفین | ریمود ولف ل، توکس | عبدالکریم محب |
| افغانستان - درګیری شوروی | اډورډ جیرارت | ج.ح ابراهیمی |
| د ترکستان مستعمره کول | پ.ګ، ګلوزمن | جګړن نصرالله صافی |
| اقوام مسلمان در روسیه | آباد شاه پوری | جګړن غلام دستګیر شکیب |
| | | |

PROPERTY OF ACKU 290

B
4·3841
KAK
290

Series No. 24 ,25

# THE GENEVA COMPROMISE ON AFGHANISTAN

( *in Pashto* )

**M. HASAN KAKAR,** MPhil., PhD (Lond.)
Formerly Professor of Modern
Afghan History at Kabul University

*Published by*
WRITERS' UNION OF FREE AFGHANISTAN
WUFA

*PESHAWAR*
*COPIES*

*1988*
*2000*